# د جهاد ثوابت

ليکوال: شيخ يوسف العييري

توضيحات: شيخ انــور العولقي

ادارهٔ حطّين

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د جهاد ثوابت |
| لیکوال | شیخ یوسف العییري رحمه الله |
| توضیح کوونکی | شیخ انور العولقي رحمه الله |
| پښتو ژباړه او تفریغ | سید سهیل هاشمي |
| د نشر نېټه | ۱۵ربیع الاول ۱۴۴۷ هـ / ۸ سپتمبر ۲۰۲۵م |
| ناشر | اداره حطین |

# د جهاد ثوابت

ليکوال: شيخ يوسف العييري

توضيحات: شيخ انور العولقي

ادارهٔ حطین

# فهرست


حرفِ اوّل ........................................ ۷

د ژباړن خبرې ........................................ ۹

د کتاب د لیکوال پېژندنه ........................................ ۱۰

د کتاب د تشریح کوونکي او داعي پېژندنه ........................................ ۱۱

د پیل خبرې ........................................ ۱۲

لومړی ثابت: جهاد به د قیامت تر ورځې روان وي ........................................ ۱۵

دوهم ثابت: جهاد تر اشخاصو پورې محدود ندی ........................................ ۳۴

دریم ثابت: جهاد تر ځانګړې خاورې پورې محدود ندی ........................................ ۵۶

څلورم ثابت: جهاد تر یوې معرکې پورې محدود ندی ........................................ ۶۲

پنځم ثابت: فتحه تر نظامي بري پورې محدوده نده........................................ ۶۵

د نصر (بري) لومړی معنا: په خپل نفس او خواهشاتو باندې غلبه........................................ ۶۶

د نصر (بري) دوهمه معنا: د شیطان پر وړاندې کامیابي........................................ ۷۳

د نصر دریمه معنا: د الله تعالی له لوري هدایت او لارښونه........................................ ۷۴

د نصر څلورمه معنا: د الله تعالی له لارې څخه د منع کوونکو پر وړاندې بری ........................................ ۷۴

د نصر پنځمه معنا: د الله تعالی په لاره کې صبر ........................................ ۷۷

د نصر (بري) شپږمه معنا: د ځان او مال د قربانولو بری ........................................ ۷۹

د نصر (بري) اوومه معنا: د نظریې او فکر بری ........................................ ۸۳

د بري اتمه معنا: دا چې الله تعالی خپل دښمن په خپله هلاک کړي ........................................ ۸۷

د نصر نهمه معنا: د کفارو د بې وسه کولو او په کفر کې د هغوی د وژلو برى........... ۸۸
د نصر لسمه معنا: د شهادت حاصلولو برى ........................................................... ۹۰
د نصر یوولسمه معنا: د میدان او معرکې برى ........................................................ ۹۲
شپږم ثابت: وژل کېدل د مسلمانانو لپاره د ماتې معنا نلري .......................................... ۹٦
۱- د کفارو او د هغوی د ملګرو پیروي: ................................................................ ۹٦
۲- له کفارو سره نرمي:................................................................................ ۱۰۰
۳- د کفارو یا د باطل دین د خاوندانو په لوري تمایل:............................................... ۱۰۳
۴- د الله ﷻ له نصر او مرستې څخه مایوسه کېدل:................................................... ۱۰۴
۵- د جهاد د بیرغ ټیټول:.............................................................................. ۱۰۵
۶- د لښکرو له ماتې څخه مایوسي د ماتې بله معنا او شکل دی.................................. ۱۰٦
۷- له دښمن څخه وېره:................................................................................ ۱۰٦

# حرفِ اوّل

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفىٰ والصلاة والسلام على رسول الله، أما بعد!

مونږ د هدايت او جهاد امت يو، هغه امت چې الله تعالى د انسانيت د ښېګڼې خير لپاره د كتاب او تورې سره مبعوث كړى دى. د الله تعالى د رضا او د الله د دين د نفاذ لپاره جهاد هغه عبادت دى چې تر قيامته به جاري وي، نه يې د كوم عادل عدل او نه يې د كوم ظالم ظلم بندولى شي.

د جهاد بندولو، د هغې پر فرضيت د شكونه او شبهاتو پيدا كولو، يعنې د اسلام دين غير مؤثر، مفلوج او معذور كولو لپاره نړيوال استعماري نظام ډېرې هڅې كړې دي. د همدغو هڅو له جملې څخه يوه هڅه دا هم ده چې د جهاد معناوې بدلې كړي، د هغو احكام او مفاهيم تغير كړي او جهاد د جغرافيې، تاريخ او سياسي حالاتو په بند كې راګير كړي.

ستاسې په لاس كې دا مهال د جزيرة العرب د يو مجاهد او مرابط، داعي او عالم شهيد شيخ يوسف العييري رحمه الله په لاس ليكل شوې رساله ''ثوابت على درب الجهاد'' ده، چې د اسلام داعي شهيد شيخ انور العولقي رحمه الله په خپلو تشريحاتو او توضيحاتو سره لا غښتلې كړې ده. دا ليكنه د پورته ذكر شوو شبهاتو د دفع كولو او د جهاد د حق مفاهيمو د بيانولو لپاره يوه هڅه ده.

د دې كتاب پښتو ژباړه زمونږ ملګري سيد سهيل هاشمي (سلمه الله) په ډېرې هڅې او زحمت سره كړې ده. الله تعالى دې د دوى دا عمل قبول او دا كتاب دې د پښتو لوستونكو ترمنځ محبوب او مقبول وګرځوي.

الله پاک دې د جهاد فی سبیل الله مفاهیم او اصول په امت کې عام کړي، او موږ ټولو ته دې د نېک انجام توفیق راکړي، آمین!

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين، وصلى الله على النبي!

اداره حطین

۱۵ربیع الاول ۱۴۴۷ هـ / ۸ سپتمبر ۲۰۲۵م

# د ژباړن خبرې

- د دې کتاب تفريغ او ژباړه د شيخ انور العولقي له توضيح او تشريح شوي بيان څخه ليکل شوې، کېدای شي د کتاب له منځپانګې سره يوشان نه وي، خو کمی يا زياتی يې له خير او ګټې څخه خالي نه دی. (ان شاء الله)
- ځينې ځايونو کې زياتونې او کمونې د تفريغ ليکونکي په واسطه رامنځ ته شوې دي او هدف يې يوازې لا زيات وضاحت او په پښتو ژبه د روانو لوستلو لپاره د متن جوړېدل دي، البته چې دغه زياتونې په نښه شوې هم دي، که په دې برخه کې اشتباه يا زياتی شوی وي، نو لومړی د الله ﷻ، وروسته د شهيد استاد له روح او په آخر کې له ګرانو لوستونکو څخه وار له مخه بښنه غواړو..!
- دا کتاب د معاصر عالم، مجاهد او لوی داعي لخوا په عربي ژبه کې ليکل شوی دی، چې د لر او بر جهاد پالو پښتنو لپاره مو په پښتو ژبه وژباړه، البته هغه خلک چې تل يې کار جهاد او د جهاد ملاتړ دی، هغه که دفاعي حالت کې وي او يا تعرضي حالت کې، نو هيله ده چې د استفادې وړ يې وګرځي.

سيد سهيل هاشمي

# د کتاب د ليکوال پېژندنه

شيخ يوسف بن صالح العييري: په سعودي عربستان کې زېږېدلی، يوسف بن صالح بن فهد العييري د کلک هوډ او ايمان څښتن، مجاهد او مهاجر ليکوال و. شيخ يوسف هغه ځوک و چې ټول ژوند يې په هجرت او جهاد کې تېر کړی دی، استاد په کم عمر کې له خپل کور څخه ووتلو څو د شوروي اتحاد پر وړاندې د افغانستان په محاذونو کې جهاد وکړي، هغه د خپل ژوند ټولې قيمتي شيبې او خوښۍ د الله ﷻ دين ته وقف کړې وې.

نوموړی د لسګونو مجاهدينو استاد پاتې شوی دی او هغه ځوک چې ورسره نېږدې پاتې شوي دي، نوموړی يو ذکي، هوښيار او با علمه شخصيت معرفي کوي، داسې چې په هر ډول وسلو ښه پوهېده او په ټولو برخو کې يې ښه تمرين کړی و، وروسته بېرته جزيرة العرب ته وګرځېده، هلته يې د چيچينيا له مجاهدينو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړ او د هغوی لپاره يې مالي مرستې ټولولې، د وخت په تېريدو ونيول شو او څو کاله زنداني شو په زندان کې يې صحيح البخاري او مسلم حفظ کړل. کله چې له زندان څخه خلاص شو نو څو کتابونه يې وليکل چې هر کتاب يې يو شهکار دی.

نوموړي تر يوه ستړي او ناقرار ژوند وروسته د خپل ژوند پور پرې کړی او په ۲۰۰۳ ميلادي کال کې په يوه ناځوانمردانه بريد کې د خپل دين د عزت په لاره کې شهيد شوی دی. نحسبه کذلک والله حسيبه.

# د کتاب د تشريح کوونکي او داعي پيژندنه

شيخ أنور العولقي: شېخ أنور بن ناصر العولقي د ۱۹۷۱ د اپرېل په ۲۱مه نېټه په نيو مېکسيکو، امريکا کې زېږېدلی دی، د هغه پلار، ناصر العولقي؛ يو يمني ديپلومات او د پوهنتون استاد و، چې په امريکا کې يې زده کړې کړې وې.

نوموړي د کلورادو ايالت په پوهنتون کې د انجينيری په برخه کې زده کړې بشپړې کړې، وروسته يې د جورج واشنګټن پوهنتون څخه د تعليم او تربيې په برخه کې ماسټري اخيستې.

د زده کړو ترڅنګ، هغه په امريکا کې د ځينو اسلامي مرکزونو د امام او د اسلام د داعي په توګه کار کاوه.

نوموړی د سپټمبر د يوولسم د بريدونو څخه وروسته ونيول شو او د زندان څخه د خلاصون ورسته يمن ته راغی، په مختلفو برخو کې يې جهادي فعاليتونو ته دوام ورکړ، دا مجتهد عالم او فصيح داعي د ۲۰۱۱ م کال د سپټمبر په ۳۰مه نېټه د يمن په مأرب سيمه کې د امريکا د بې پيلوټه الوتکې په بريد کې شهيد شوی دی. نحسبه کذلک والله حسيبه.

# د پیل خبرې

الحمد لله الذي شرع لنا ديناً و هدانا صراطاً مستقيماً، والصلاة والسلام على معلم الخلق خير البرية سيد ولد آدم عليه أفضل الصلاة وأتم التسليم وعلى آله وصحبه أجمعين وبعد:

په دې کې شک نشته چې هر منهج يو لړ ثوابت او متغيرات لري، ثوابت يعني هغه چې د وخت، ځای او يا اشخاصو په تغير سره په دوی کې تغير او تبديل نه راځي، په دوی باندې د باور او يقين لپاره داسې نصوصو او علم ته اړتيا ده، چې په هغه کې هېڅ شک او شبهه نه وي، يعني په دغه ثوابتو کې تغيير راوستل ممکن نه وي او يا په هېڅ حالت کې تغير نه خوري او لکه محکم غرونه او روښان څراغونه داسې ولاړ وي او هر تېرېدونکي ته لارښوونه کوي.

همداشان هر منهج يو لړ متغيرات هم لري، چې د ثوابتو برعکس وي او عموماً دا د يوه منهج دوهم لاس يا ثانوي کارونه بلل کيږي، هغه داسې چې د وخت يا ځای په تغير سره دوی ته ځانګړي او مختلف قواعد او ضوابط شتون ولري؛ مجتهدين کولای شي پکې تغييرات او تبديلات راولي يا په بل عبارت د بحث او مناقشې وړ وي.

په اسلام کې د ثوابتو مثال لکه لمونځ داسې دی، لمونځ په هېڅ حالت کې تغير نه مني او نه د تغير راوستلو لپاره پکې ځای پاتې کيږي. مطلب هېڅوک دا نشي ويلای چې نن ورځ مونږ په ۲۱مه پيړی کې ژوند کوو او بايد د ۱۴۰۰ کلونو پخوا وختونو سره يوشان لمونځ ونکړو...! دا چې زمونږ بدنونه يو شان دي، د يوه الله ﷻ عبادت کوو او يوه طرف ته (د قبلې طرف ته) ته لمونځ کوو، نو دلته هېڅ ضرورت نشته چې څوک د په لمانځه کې تغيرات راوړي، دغه ډول شيانو ته ثوابت ويلای شو، چې په هغه کې مونږ هېڅ ډول تغيرات نشو راوړلی.

مګر ځينې داسې څيزونه شته چې تغير منونکي دي او له همدې خاطره اسلام عمومي راوړي دي، لکه د مسلمانانو د خليفه مقررول او انتخاب کېدل، مونږ وينو چې دا کار د حضرت ابوبکر څخه حضرت عمر ته او بيا حضرت عثمان او حضرت علي رضي الله تعالی عنهم ته

په مختلفو او جلا جلا طریقو سره سرته رسیدلی دی او په جلا جلا طریقه باندې انتخاب شوي دي، داسې چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه د مسلمانانو د یوه کوچني ټولي له لوري خلیفه انتخاب او ورسره بیعت وشو؛ بیا حضرت عمر رضي الله عنه و، چې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په واسطه په مشخص ډول سره انتخاب شو، د حضرت عثمان رضي الله عنه په قضیه کې بیا شپږ تنه مشخص شوي وو او باید د دوی له ډلې څخه یو تن انتخاب شوای وای؛ نو دغه مواردو کې مونږ ویلای شو چې د خلیفه د انتخابولو لپاره مختلفې لارې شته او دغه چاره د متغیراتو له جملې څخه ده، باید یادونه وکړو چې متغیرات په فرعي موضوعاتو کې منځ ته راتلای شي داسې چې په اړه یې ثابت نص (شرعي دلیل) موجود نه وي.

په دغه لیکنه کې به مونږ د هغه ثوابتو او او شرعي نصوصو په اړه بحث وکړو چې د جهاد په باره کې راغلي دي؛ یادونه باید وکړو چې مونږ نن ورځ تر بل هر وخت زیات ضرورت لرو څو دغه ثوابت یاد کړو، ځان پرې وپوهوو او نورو خلکو ته یې ورسوو. ځکه په اوس وخت کې زمونږ ټپي امت ضرورت لري څو په هغه څه ښه پوه شي کوم چې ځینې کسان هڅه کوي، چې په هره ممکنه طریقه سره یې تحریف کړي او یا دا ثوابت د متغیراتو په شکل خلکو ته وړاندې کړي. دلته زمونږ هدف دا دی څو خلکو ته د جهاد په اړه د هغه راغلو ثوابتو یادونه وکړو کوم چې مونږ ته د جهاد لاره ښایي او په واسطه به یې د جهاد منهج له هغه یرغمل کېدو څخه وباسو کوم چې نن ورځ د ظلم او زور په واسطه ورسره مخ دی.

د **ثو ابت علی درب الجهاد** په نشر سره به ان شاء الله د جهاد حقیقي مفهوم تصحیح شي او د هغه خنډونو په لرې کولو کې به مرسته وشي کوم چې د جهاد په لاره کې واقع دي؛ خلک به ورته په روحي، فکري او منهجي ډول آماده شي او تر هغې وروسته به د دغه لوی فریضې د تطبیق لپاره ګام پورته کوؤ.(ان شاء الله)

دا چې جهاد یو لوی بحث دی او د ټولو تشریحاتو لیکل یې په یو کتاب کې ناممکن دي، خو مونږ دلته یوازې د جهاد په لاره کې د ثوابتو څخه بحث کوو، بیا هم باید ووایو چې ټول

ثوابت په مکمل ډول سره دلته نشو راوړلای، خو د ټولو ثوابتو له جملې څخه به ځینې دلته په مختصره توګه سره ذکر کړو، دا هغه ثوابت دي چې مونږ ته د جهاد د لارې په ښوودلو کې خورا ګټور ثابتیدلای شي.

لومړی ثابت:

# جهاد به د قیامت تر ورځې روان وي

(الجهاد ماض الی قیام الساعة)

نن د نړۍ ټول خلک پرته له هغو چې الله تعالی خاص رحم ورباندې کړی وي په ټولو دیني، سیاسي، اقتصادي، کلتوري او نورو قوتونو سره دا هڅه کوي چې د اسلام د دین د یوې سترې فریضې پر وړاندې چې هغه د جهاد فریضه ده ودریږي، د اسلام دښمنان په هره ممکنه طریقه د دې سترې فریضې د تحریف او له منځه وړلو هڅه کوي، په هر میدان کې یې د جهاد خلاف جګړه روانه کړې ده چې ځینې میدانونو یې عبارت دي له:

**دیني برخه کې** مونږ وینو چې په منځنۍ ختیځ کې په ټولو روانو لاسوهنو کې د دین، د صلیب بیا ځلې راکرځېدل او هرمجدون مطرح کیږي، جالبه خبره خو دا ده چې لوړ پوړي امریکایي چارواکي هم په دې خرافاتو کې شریک دي، د مثال په ډول BBC په خپل یو راپور[1] کې د ابو مازن (محمود عباس) او د هغه د بهرنیو چارو د وزیر (نبیل شعث) له قوله ادعا وکړه چې بوش ورته په ۲۰۰۳ کال کې په یوه لیدنه کې ویلي وو، چې افغانستان ته تګ د خدای په امر کوي او ګواکې چې خدای ورته امر کړی دی چې افغنستان ته لاړ شه او هلته له تروریستانو سره وجنګیږه. همدا شان د فلسطین د مقدس ښار اشغال او د یهودانو لخوا د مسجد اقصی د ړنګولو او پرځای یې د سلیماني هیکل د جوړولو آوزاې او کوښښونه او یا د نورو مذهبي جګړو لپاره بهانې لټول د څه لپاره دي، آیا أقصی مسجد نه دی؟! په داسې حال کې چې حضرت داؤد او حضرت سلیمان علیهما السلام دواړه پیغمبران وو او په مسجد کې یې عبادت کولو، خو نن د هغوی ګمراه لارویان د خپلو ناوړه عملونو د توجیه په خاطر خپلو

[1] دا درې برخې راپور د بي بي سي لخوا د ۲۰۰۵ م کال د اکتوبر په میاشت کې نشر شو.

تحریف شویو مذهبي کتابونو ته مراجعه کوي او غواړي د خپلو منسوخ شویو دینونو د مقدساتو له نوم څخه په استفادې سره د مسلمانانو مقدسات له منځه یوسي.

**په سیاسي لحاظ** د نړی ټوله دیپلوماسي د دوی په وینا په اسلامي تروریزم او د هغوی پر وړاندې د مبارزې په لارو چارو راڅرخي، اروپایي هېوادونه له یو بل سره ملاقاتونه کوي څو د اسلامي تروریزم په اړه وغږېږي، د ناټو د غړو هېوادونو هره خبره د اسلامي تروریستانو او د هغوی د تهدیدونو اړوند وي او یا دا چې څنګه د جهاد روحیه او مفکوره وځپي؟ د امریکا متحده آیالات په ټول سیاسي توان سره دا هڅه کوي چې نړی د اسلامي فکر او جهادي مفکورې په مقابل کې سره متحده کړي او په دې ډول د مجاهدینو مبارزه او مقابله وکړي، دوی په دغه برخه کې دومره کار کړی دی چې نن د نړی پر مخ داسې حکومت نشته چې هغه ترې استثناء [۲] کړو، بلکې ټول حکومتونه له دوی سره په یوه جبهه کې ولاړ دي او د اسلام پر ضد جنګیږي، حتی اسلامي حکومتونه. میډیا په دغه برخه کې خورا غښتلی رول ادا کړی دی، داسې چې هر مسلمان مجاهد يې تروریست معرفي کړی او د مسلمانانو مایوسه کولو ته يې کار ویلی دی.

لکه پورته مو چې وویل په ننۍ نړۍ کې رسنیزه، کلتوري ټولنیزه برخه هم د هغه څه خلاف ده کومه چې د اسلام فریضه بلل کیږي، هغه فریضه چې د الله تعالی په صریح قول سره پر مونږ مسلمانانو فرض شوې ده، په کوم کې چې الله تعالی فرمایي:

[۲] د یادونې وړ ده چې دا کتاب د افغانستان له فتحې وړاندې لیکل شوید شیخ انور العولقي رحمه الله په واسطه تشریح شوی دی، په افغانستان کې د امریکایي صلیبي یرغل تر ماتې وروسته هلته داسې یو نظام حاکم دی، چې شریعت محمدي ﷺ يې نافذ کړی، حدود الله جاري دي، د لمانځه او زکات نظام يې قایم کړی، امر بالمعروف او نهي عن المنکر کیږي او د شرق او غرب فرمایشاتو ته ارزښت نه ورکول کیږي. ولله الحمد (ژباړن)

كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ وَهُوَ كُرۡهٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ○(سورة البقرة: ۲۱٦)

په تاسو باندې ( د الله ﷻ په لار کې) جهاد فرض کړای شوی دی، حال دا چې جهاد تاسو ته (په طبیعت) کې ناخوښه دی، کېدای شي چې تاسې یو شی خوښ نه کړئ خو هغه درته غوره وي؛ او کېدای شي چې تاسې یو شی خوښ کړئ خو هغه درته شر وي. الله پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ.

د پورته آیت باوجود خلک جهاد نکوي او په دغه برخه کې له خپله ځانه جوړ شوي عذرونه وړاندې کوي، لکه نن ورځ ځینې خلک وایي چې مخکې تر جهاد باید مونږ په تربیه باندې کار وکړو او تربیه حاصله کړو، دوی وایي چې تربیه د جهاد لپاره شرط ده، د دوی په وینا نن ورځ د تربیې د نشتون له وجې مونږ نشو کولای چې جهاد مخته بوځو او ځینې نور بیا وایي چې اوس مونږ (مسلمانان) داسې یو حالت کې قرار لرو لکه مکي دور چې وو او نشو کولای چې جهاد وکړو.

دا ټولې بهانې دي، دوی دا ټولې خبرې یوازې د جهاد د نه کولو د توجیه او د خپل ځان د خلاصون لپاره کوي؛ د دوی د دې خبرې له ځواب څخه مخکې به زه له دوی څخه پوښتنه وکړم او هغه دا چې که چیرې یو څوک غواړي چې مسلمان شي نو آیا تاسې کولای شئ چې ورته ووایئ چې ته له تربیې څخه مخکې روژه مه نیسه؟ یا ته باید لومړی تربیه حاصله کړې او وروسته روژه ونیسې؟ یا دا چې ورته ووایې چې مونږ اوس په داسې حالت کې یو لکه مکي دور، نو اوس روژه مه نیسه؟ یا ته باید ۱۵ کاله صبر وکړې، خوندونه واخله او تربیه حاصله کړه وروسته له هغې به روژه نیول شروع کړې..! یقیناً چې دا خبره مسخره غوندې ښکاریږي او مونږ هېڅ‌چا ته هم داسې نشو ویلای!

نو څه فرق لري؟ څرنګه چاته د جهاد په باره کې داسې یوه خبره کولای شو؟ په داسې حال کې چې د جهاد او روژې په باره د الله تعالی لارښوونې په یو شان دي. یو ځای الله تعالی فرمایي:

کتب علیکم القتال او بل ځای فرمايي: کتب علیکم الصیام د دغه قولونو ترمنځ هېڅ توپیر نشته، دواړه د البقرې سورت کې راغلي او په حقیقت کې روژه وروسته له جهاد څخه فرض شوې ده. همداشان حضرت نبي کریم ﷺ کله هم چاته ندي ويلي چې ته جهاد ته مه ځه، اول لاړ شه تربیت حاصل کړه.

حتی کله چې حضرت نبي علیه السلام د احد غزا ته ووت، نو په صحابه کرامو کې داسې کسان هم وو، چې په هماغه غزا کې يې کلمه وويله ا و مسلمانان شول، د جهاد میدان ته لاړل، تر هغه وجنګيدل څو شهیدان شول. لکه اصیرم؛ هغه چې مشرک وو او په یوه سفر وتلی و، کله چې مدينې ته راغی نو د خپلوانو پوښتنه يې وکړه د هر چا څخه پوښتنه به يې چې وکړه خلکو به ورته ویل چې هغوی د حضرت نبي علیه السلام سره غزا ته وتلي دي، نو ده وویل چې دا زما لپاره شرم دی چې زه دلته ناست وم او زما ټول خپلوان د رسول الله ﷺ سره غزا کوي، احد ته لاړ او هلته يې د رسول الله ﷺ په وړاندې کلمه وويله، نو آيا هلته رسول الله ﷺ ورته وويل چې ته لاړ شه مدينې ته او هلته تربیه حاصله کړه؟ نه؛ بلکې ورته ويې ويل چې ته د لښکر سره د یو ځای کېدو لپاره آماده يې، نوموړی په جګړه کې شریک شو او تر هغه وجنګيده چې بالآخره شهید شو، روایت دی چې یو وخت حضرت ابوهریره رضي الله تعالی عنه له خپلو تابعي شاګردانو څخه وپوښتل چې د هغه چا په باره کې معلومات راکړئ، چا چې تر ټولو لږ عمل کړی وي او تر ټولو ډېر ثواب يې ترلاسه کړی وي؟ شاګردانو يې ځواب ورنکړای شو، تر دې چې حضرت ابوهریره رضي الله تعالی عنه وويل: یقیناً چې اصیرم و، هغه په داسې حال کې شهید شو چې حتی یوه سجده يې هم نه وه کړې.

همداشان په دغه غزا کې د مُخیریق په نوم یو یهودي له مسلمانانو سره اوږه په اوږه جنګېده، یو یهودي چې تر هر چا زیات ضرورت لري څو تربیت يې وشي، رسول الله ﷺ ته راغی او په جګړه کې د شامل کېدو اجازه يې وغوښته رسول الله ﷺ هم اجازه ورکړه، نوموړی د مسلمانانو په ګټه تر هغه وجنګېده څو ووژل شو او کله يې چې د مرګ خبر تر رسول الله ﷺ ورسېده نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقیناً چې مُخیریق غوره یهودي

و. دا په داسې حال کې چې نوموړی حتی مسلمان هم نه و، خو د جګړې او دښمن د حملې په وخت کې رسول الله ﷺ ونه وفرمایل چې مُخیریق باید دا کار نه وای کړی او لومړی یې تربیه حاصله کړې وای، په دین کې یې ځان رسولی وای او بیا جنګ ته تللی وای؛ بلکې د هغه ستاینه یې وکړه او ویې فرمایل چې هغه غوره یهودي و.

دا چې نن ورځ ولې خلک د تربیې د نشتون له وجې له جهاد څخه شاته شوي په قرآن کریم کې په ډېره واضحه توګه بیان شوی دی، الله تعالی فرمایي چې: مونږ پر تاسې جهاد فرض کړی دی، که څه هم دا به ستاسې لپاره ناخوښ عمل وي. او معمولا چې جګړه یو سخت کار دی او د انسان فطرت یې نه خوښوي، له همدې امله الله تعالی فرمايي: وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ یعني نن ورځ جهاد خلکو ته یو ناخوښ عمل ګرځېدلی، دوی نه خوښوي چې د جهاد میدان ته ووځي، له همدې امله یې په دغه سخت حالت کې تربیه د جهاد لپاره داسې کلک شرط ایښې چې پرته له دې جهاد ته نشي وتلای. همداشان نړیوالو هم نن ورځ خپل ټول قوت استعمال کړی دی، څو جهاد یو ناخوښ عمل معرفي کړي، دوی د میډیا، زر او زور په واسطه دومره کار کړی چې هېڅوک نه خوښوي څو د الله ﷻ په لاره کې ووځي، د کفارو دا ډول کړنې د صحابه کرامو په وخت کې هم وې او نن هم شته.

د صلاح الدین ایوبي رحمه الله په وخت کې، کله چې هغه لښکر راغونډولو نو ځینې شیخان او د علماوو په جامه کې خلک ورته راغلل او غوښتل یې چې سلطان ایوبي د صلیبیانو سره له جګړې څخه په شا کړي، په داسې حال کې چې صلیبیانو له ټولې اروپا څخه لښکر راټول کړی و، څو خپل تېر دجالي برم بیا اعاده کړي، ریچارد له انګلستان څخه، فلېپ له فرانسې او فرېډرېک بربروسا له جرمني څخه د وخت لوی پادشاهان وو، فرېډرېک په یوازې ځان دری لکه فوځ درلود او دغه دریو پاچاهانو یو لښکر جوړ کړی و؛ نو دغه سوء علماء سلطان ایوبي ته راغلل او غوښتل یې چې په عذرونو او د مؤمنانو د ضعف نقطو په بیانولو او د مصلحتونو له نوم څخه په استفادې سره ایوبي رحمه الله قانع کړي څو له جهاد څخه لاس واخلي، په داسې حال کې چې دوی پوهېدل چې باید مسلمانان جهاد وکړي، ځکه کفارو

د اسلام او اسلامي مقدساتو د توهین او له منځه وړلو پخاطر لښکر راټول کړی و، دوی په هغه څه هم پوهېدل چې باید یو مؤمن پرې عقیده ولري او هغه دا دي چې هېڅ ته هېڅ خیر او شر نه رسیږي مګر دا چې د الله ﷻ اراده وشي. دوی په دې ټولو خبر وو، له همدې امله دي چې د دغه او دوی ته ورته کسانو په باره کې الله تعالی د سورة الاعراف آیتونه نازل کړي او فرمایلي یې دي:

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيٓ ءَاتَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ○

(سورةالاعراف:۱۷۵)

او (اې محمده ﷺ !) دوی ته د هغه چا حال بیان کړه چې موږ هغه ته د خپلو آیتونو علم ورکړی و، خو هغه یې له عملي کولو څخه ووت. په پای کې شیطان ور پسې شو، تر دې پورې چې هغه له لار ورکو څخه شو.

همداشان، الله تعالی دغه ډول کسان له سپیانو سره تشبیه کړي دي او په اړه یې فرمایي:

وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ او تَتْرُكْهُ يَلْهَث..الآیه(الاعراف-۱۷۶)

که موږ غوښتي وای نو هغه ته به مو د هغو آیتونو په وسیله لوړتیا ورپه برخه کړې وای، خو هغه د ځمکې لوري ته سر کوزی شو او د خپل نفس پیروي یې وکړه. نو د هغه حالت د سپي په شان شو داسې چې که ته پرې حمله وکړې هم ژبه را ځوړندوي او که یې پرېږدې هم ژبه را ځوړندوي.

الله ﷻ دوی په ډېر بد نوم سره نوملي دي ځکه دوی د خپلو نفسونو پیروي وکړه، دنیا یې خوښه کړه په داسې حال کې چې الله ﷻ له خپل علم او نښانو څخه هغوی ته علم ورکړی

وو، يعنې دوی ښه پوهېدل چې دنيا ارزښت نلري او د انسان د خلقت مقصد د ځمکې او دنيا ترلاسه کول نه دي. دا هر څه مو يوازې د دې لپاره دلته راوړل چې ځينې خلک د جهاد د نه کولو او يا نورو عباداتو د سرته نه رسولو لپاره دلايل پيدا کوي، چې ګواکې په فلاني او فلاني ځيزونو کې کوم عالم فتوا نده ورکړې او يا يې دا ډول فتوا ورکړې ده. دا خلک بايد وپوهيږي چې د قيامت په ورځ دغه ډول خبرې ځوک له عدالت څخه نشي خلاصولی، که چيرې تاته حق لاره معلومه وي نو هغې ته دوام ورکړه، دې ته مه ګوره چې په هغه باندې نور خلک عمل کوي کنه يا د عالمانو په جامه کې خلک پدې اړه څه ډول نظر يا فتوا ورکوي. (د مثال په ډول نن ورځ د الله ﷻ د دين بې عزتي کيږي د الله ﷻ د رسول کارتون جوړيږي، قرآنکريم ته اور اچوول کيږي، د مسلمانانو مقدسات اشغال دي، د مؤمنانو مېرمنې په زندانونو کې دي، د مسلمانانو ځمکې بل واکه دي، د الله ﷻ حدود نه نافذيږي، د ديموکراسۍ په نوم دين د نړۍ په لر او بر کې حکمراني کوي او نورې ناخوالې تر حد وتلې دي، نو هر ځوک پوهيږي چې نن هم چې جهاد يا د اسلام دفاع فرض نشي، نو څه وخت به فرض کيږي؟!

اول خو که هر مسلمان وغواړي ډېر زيات څه کولای شي او بيا هم که مو نور وس نکيږي، نو د خپل اسلامي غيرت له مخې خو دا کولی شو چې خپل ځانونه په کفارو شهيدان کړو، ځکه دا هر څه خو به په خپلو سترګو نه ګورو.)[٣] نو په داسې وختونو کې لکه نن بايد چې ځوک له کفارو سره د جهاد په اړه له عالِم څخه په فتوا اخيستلو پسې ونګرځي، د الله تعالی له طرفه په ډېره واضحه توګه دا امر راغلی دی چې:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ○(سورة التوبة:٧٣)

[اې پيغمبره ﷺ !] له کافرانو او منافقانو سره په پوره طاقت مقابله وکړه او له هغو

[٣] د ژباړن له خوا

سره ډېر سخت چلند وکړه؛ په پای کې د هغو استوګنځی دوزخ دی او هغو د اوسېدو لپاره ډېر ناکاره ځای دی.

همدا شان په یو بل ځای کې الله تعالی فرمايي:

قَٰتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَٰغِرُونَ ○ (سورة التوبة: ۲۹)

له اهل کتابو څخه د هغو خلکو په خلاف وجنګېږئ، چې په الله ﷻ او د آخرت په ورځ ایمان نه راوړي او څه چې الله ﷻ او د هغه پیغمبر حرام کړي دي، هغه نه حراموي؛ او حق دین خپل دین نه ګرځوي. (له هغو سره وجنګېږئ) تر دې پورې چې په خپل لاس جزیه ورکړي او ذلیل شي.

نن ورځ ځینې کسان وايي چې اسلام د سولې او خبرو دین دی، خو باید دا فرق وکړو چې اسلام د اخوت دین دی خو د خپلو مسلمانانو په منځ کې باید اخوت وي، دلته الله تعالی ځینې هغه خلک چې په الله ﷻ او د آخرت په ورځ ایمان نه راوړي او څه چې الله ﷻ او د هغه پیغمبر حرام کړي دي، هغه نه حراموي؛ او حق دین خپل دین نه ګرځوي مشخص کړي او مؤمنانو ته يې امر کړی څو تر هغه ورسره وجنګېږئ، چې د ذلت په حالت کې د جزیې قبلولو ته مجبور شي. بل ځای الله تعالی فرمايي:

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا الزَّكَوٰةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ○ (سورة التوبه: ۵)

کله چې حرامې میاشتې تیرې شي، نو مشرکان ووژنئ چیرې چې يې ومومئ او هغوی ونیسئ او ایسار يې کړئ او په هر څارنځای کې د هغوی لپاره کېنئ. نو که هغوی توبه وباسي، لمونځ قایم کړي او زکات

وركړي، نو خوشي يې كړئ. الله بښونكى او
رحم كوونكى دى.

لكه مخكې مو چې وويل نن ورځ كفار په خپل ټول توان دا كوښښ كوي څو جهاد؛ تروريزم، دهشتګردي او جنايت معرفي كړي او د دې لارې لاروي د ترهګرو، وېره خپرونكو او پرديو جنګي ملېشو په نوم مشهور كړي. نو دا فارموله بايد زده كړو چې كه نن ورځ كفار چېرته هم د تروريزم نوم اخلي، بايد چې مونږ ترې د جهاد او كه د تروريست نوم اخلي بايد چې مونږ ترې د مجاهد د لفظ معنا واخلو او دا دليل چې دوى ولې دې لويې فريضې ته د جهاد او لارويانو ته يې د مجاهدينو نوم نه اخلي دا دى، چې جهاد او مجاهدين د قرآنكريم الفاظ دي؛ كفار قرآنكريم نشي زغملى نو ځكه كوښښ كوي چې خپل لغات ورته پيدا كړي او هغو ته بيا خپله تعريفونه وړاندې كړي. په دغه چاره كې منافقين هم له دوى سره پوره همكاري كوي، منافقين خلكو ته تشويشونه اچوي، حقه لاره تحريفوي او ځينې له دغه منافقينو څخه دا خبرې كوي چې: جهاد يوازې دفاعي اړخ لري او هېڅ تعرضي حالت نلري؛ ځينې بيا وايي چې جهاد يوازې د اشغال شويو ځمكو د راګرځولو لپاره دى او بس، ځينې وايي چې جهاد بايد د امامانو او مشرانو په اجازه وشي او مطلب يې هم د نن ورځې هغه مشران دي چې د يهودو او صليبيانو اجنټان او غلامان پاتې شوي دي، ځينې نور بيا وايي چې جهاد د نبي ﷺ په وفات سره ختم شوى او يوه بله ډله بيا وايي چې جهاد د ننې نړيوال امن او د سازمان ملل په واسطه د متحدې شوې نړۍ له حالاتو سره اړخ نه لګوي. (نعوذ بالله تعالى)

دا خبرې ټول هغه كسان كوي چې د نفاق او منافقينو علائم پكې له لرې ښكاريږي او هر د سليم عقل څښتن يې پكې ليدلى شي، مهمه نده چې دوى د عامو خلكو په جامه كې وي يا د علماوو په جامه كې. مګر؛ نه پوهېږو چې دوى ولې سر نه خلاصوي او پدې ځان نه پوهوي چې دا امت مسلمان امت دى، د رسول الله ﷺ له وخت څخه تر دې دمه د جهاد له تعريف، د هغه له اركانو، واجباتو، سنتونو، شرطونو او اړوندو موضوعاتو سره بلدتيا لري، د جهاد

اړوند خبرې په قرآن، سنت او د صحابه کرامو او نورو سلف صالحينو په کړنو او تاريخونو کې موجودې دي؛ او نن ورځ هېڅ اړتيا نشته چې خلک دغه مفاهيم بيا تعريف کړي، مونږ ضرورت نلرو چې خلک راته جهاد هغه ډول تعريف کړي کوم ډول چې دوی د شرق او غرب په استخباراتي ادارو کې زده کړی دی.

او له دې ټولو بحثونو ور ها خوا مونږ دا يقين لرو چې جهاد به د قيامت تر ورځې جاري او روان وي او دا هغه څه دي چې مونږ ته د الله ﷻ او د هغه د پيغمبر ﷺ له لوري بيان شوي دي او زمونږ لپاره تر دې لويې او اعتباري مراجع نورې نشته، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي:

يٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَسَوْفَ يَأْتِى ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ○(سورة المائدة: ۵۴)

اې مؤمنانو! که له تاسې څخه څوك له خپل دين څخه واوړي (نو وا دې وړي)، الله به نور ډېر داسې خلك پيدا کړي، چې الله ته به ګران وي او الله به هغوی ته ګران وي، له مؤمنانو سره به نرمي او په کافرانو به سختي کوي، د الله ﷻ په لار کې به جهاد کوي او د هيڅ ملامتوونکي له ملامتيا څخه به نه وېرېږي. دا د الله فضل دی، چا ته يې چې خوښه شي ورپه برخه کوي يې؛ الله د پراخه وسايلو څښتن دی او په هر څه پوهېږي.

که له يوې خوا جهاد د قيامت تر ورځې روان دی بل طرف بيا په دغه لاره کې زياتې ناخوالې هم پيدا شوې دي، ښايي تاسې هم اوريدلي وي، مونږ ته هم ځينې کسان راځي او دا پوښته مطرح کوي چې ای شيخه: مونږ وينو چې نن ډېرې زياتې ډلې ټپلې او تنظيمونه جوړ شوي دي

او له دوی څخه هره یوه خپل ځان حقه ډله معرفي کوي مونږ یې ګنګس کړي یو، څو نن ورځ د کومې ډلې متابعت وکړو او له کومې یوې سره یوځای شو؟

دا پوښتنه له یو طرفه ریښتیا هم یوه ګنګس کوونکې پوښتنه ده، دا چې له کوم جماعت سره باید یوځای شو؟ په داسې حال کې چې هره ډله خپل ځان ته تبلیغات کوي او کوښښ کوي چې خپل ځانونه حق او د امت مدافعین وښایې، له همدې امله زمونږ وروڼه او خویندې په یوه سربداله حالت کې پاتې دي.

مګر؛ دا دومره لویه او پیچلې ستونزه نده، ځکه دا د الله ﷻ دین دی او الله ﷻ هر څه واضح بیان کړي دي، مطلب دلته داسې څه نشته چې هغه دې ګونګ پاتې وي، که چیرې مونږ لږ ځیر شو، مونږ به د خپلې پوښتنې ځواب پیدا کړو. په قرآنکریم او احادیثو کې داسې مختلفې ورتیاوې او ځانګړنې بیان شوې دي، چې د هغو ځانګړنو له کتلو ورسته پوهیږو چې کومه ډله او یا جماعت حق دی؟!

مونږ به دا ورتیاوې په ترتیب سره بیان کړو او وروسته له دې ښایي چې هغه خلک چې تر اوسه یې دا ډول پوښتنې کولې نور دا پوښتنې مطرح نکړي. الله تعالی په پورته آیت شریف کې ځینې ځانګړنې بیان کړې دي او مونږ د حقې ډلې همدغه ځانګړتیاوې دلته په ترتیب سره را اخلو:

الله ﷻ مینه ورسره لري.

دوی له الله ﷻ سره مینه لري.

أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (له مومنانو سره نرم وي او هغوی ته یې د عاجزۍ وزرې غوړولې وي): دلته مطلب دا دی چې دوی له مؤمنانو سره مینه لري، د هغوی ورځني احوال اخلي، د مسلمانانو خبرونه تعقیبوي او دا څاري چې مسلمانان په څه حالت کې دي. دوی دا احساس لري چې د شرق او غرب مسلمانان زمونږ وروڼه او خویندې دي، که چیرې په شرق یا غرب

کې هغوی وژل کیږي نو دا زما مسئولیت جوړیږي چې د دوی دفاع وکړم؛ دوی د مسلمانانو د دفاع لپاره له هېڅ ډول قربانۍ څخه دریغ نکوي هغه که د ځان قرباني وي که د مال؛ په مسلمانانو یې زړه دردیږي. بل طرف بیا د دې برعکس خلک هم شته، دوی په مسلمانانو هېڅ رحم نلري، دوی فتواوې ورکوي، څو حکومتونه د مسلمانانو په مقابل کې سخت عمل وکړي، دوی فتواوې ورکوي څو یو مسلمان د بل مسلمان جاسوسي وکړي، دوی غواړي څو د کفارو سره ملاتړي شي او د مسلمانانو خلاف وجنګیږي دوی یوازې په مسلمانانو سخت وي.

أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَٰفِرِينَ (د کفارو په مقابل کې سخت دریځي او بې رحمه وي): یعنې حقه ډله مؤمنان غواړي له کفارو سره وجنګیږي، دوی غواړي د کفارو نښه او بیرغ ټیټ کړي، دوی غواړي څو کفار وویروي او کفار هم له همدوی څخه ویریږي. دوی د کفارو لپاره ډاروونکي (ارهابیون) وي لکه الله تعالی چې فرمایي (ترهبون به عدو الله)؛ ارهاب د قرآن کریم کلمه ده، چې نن وخت کفارو په تروریزم باندې بدله کړې ده، خو دوی به هېڅکله د قرآنکریم دا آیت شریف ورک نشي کړای، اګر چې دوی به دا آیت پټ کړي لکه نن چې په ځینو اسلامي هېوادونو کې دا آیتونه د درسي نظام په کتابونو کې نه راوړل کیږي او پټیږي. او د دې برعکس کوم کسان چې غواړي د کفارو په مقابل کې له نرمۍ څخه کار واخلي او په کفارو باندې مهربانه وي، د کفارو په وړاندې د جهاد لپاره بهانې لټوي، همدوی هغه دي چې حق جماعت نشو ورته ویلی.

يُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ (دوی د الله ﷻ په لار کې جهاد کوي): دا خو معلومه خبره ده چې کوم خلک چې د الله ﷻ په لار کې جهاد نکوي هغه حقه ډله نده، نو ولې باید چې دلته مونږ دوه زړي شو، آیا مونږ نن ورځ هغه خلک نه پیژنو څوک چې د الله ﷻ په لار کې جهاد نکوي؟!

وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ (د ملامتي اچوونکو له ملامتیا څخه نه ویریږي): منافقین او کفار پر دوی ملامتیا اچوي، کفار په اخبارونو، تلویزون او نورو رسنیو کې د هغوی په خلاف منفي

تبلیغات کوي؛ خو دوی یې هېڅ فکر نکوي او په کیسه کې یې نه کېږي، دوی په دې هکله هېڅ فکر نه کوي چې CNN یا BBC د هغوی پر خلاف څه خبرې کوي؟ دوی هېڅ فکر نه کوي چې نیویارک ټایمز یا واشنګټن پوسټ د دوی په باره کې څه لیکي؟ دوی یوازې دومره وایي چې که الله تعالی له مونږ څخه راضي وي نور د هېچا پروا نلرو.

لکه سعد بن معاذ رضي الله عنه هغه چې د اَوس قبیلې څخه ؤ، اَوس قبیله د جاهلیت په وخت کې د بنو قریظه د یهودانو ملاتړې وه، خو د اسلام په راتګ سره هغوی دا رابطه قطع کړه ځکه دلته یوه نوې رابطه منځ ته راغلې وه او هغه رابطه د الله ﷻ او د هغه له رسول اکرم ﷺ او مؤمنانو سره له رابطې څخه عبارت وه. د اَوس قبیلې تر اسلام وروسته ټولې هغه رابطې شاته وغورځولې کومې چې د جاهلیت په وخت کې د دوی او مشرکانو یا یهودو ترمنځ جوړې وې. د خندق په غزا کې یهودانو د امن له هغه تړون څخه سرغړونه وکړه کوم چې د مسلمانانو او یهودانو ترمنځ شوی و، داسې چې باید یو د بل پر خلاف له جګړې او دسیسو څخه لاس واخلي، خو بنو قریظه له قریشو او نور مشرکانو سره لاس یو کړ او غوښتل یې چې مسلمانان د تل لپاره ورک کړي، خو الله ﷻ د حضرت نعیم بن مسعود رضي الله عنه په واسطه د دوی دغه پلان ناکام کړ، نو رسول الله ﷺ د الله تعالی په امر سره وغوښتل چې د بنو قریظه قبیلې ته د هغوی د خیانت سزا ورکړي، دوی یې محاصره کړل، محاصره اوږده شوه، وروسته بنو قریظه وو دا وړاندیز وکړ چې د سعد بن معاذ رضي الله تعالی عنه په منځګړیتوب او فیصله به دوی خپل ځانونه تسلیموي. ځکه سعد د دوی د جاهلیت د زمانې ملاتړی ؤ. خبره تر سعد ورسېده او کله چې سعد د فیصلې لپاره روان شو، په لاره کې یې د خپلې قبیلې خلکو ورته وویل، چې له یهودو سره د مهربانۍ چلند وکړه، ځکه د جاهلیت په زمانه کې اوس او خزرج یو له بل سره د جنګ په حالت کې وو د اَوس ملاتړي بنوقریظه او د خزرج ملاتړي بنو قینقاع و، مخکې له دې د بنو قینقاع یهودانو هم دا ډول ټکي کړې وه، خو د عبدالله بن ابی په منځګړیتوب چې د خزرج له قبیلې څخه ؤ، بنو قینقاع

خوشي شول، د اَوس قبيلې هم دغه چاره غوښته او د سعد بن معاذ رضي الله عنه څخه يې غوښتنه دا وه چې بايد بنو قريظه پريږدي.

سعد رضي الله عنه وويل: دا د سعد لپاره هغه وخت دی چې د الله ﷻ لپاره د ملامتونکو د ملامتيا څخه ونه ويريږي، دلته وو چې د اَوس د قبيلې د خلکو سر خلاص شو چې د جاهليت د زمانې دوستانو ته يې مرګ په انتظار دی، سعد بن معاذ داسې يوځای کې ودريده چې يو طرف ته يې رسول الله ﷺ او صحابه کرام ولاړ وو او بل ته طرف ته دوکه ورکونکي او خائن يهودان؛ نو سعد بن معاذ رضي الله تعالی عنه ورته وويل آيا زما په فيصله باندې راضي ياست؟ يهودانو وويل چې هو ..

بيا يې رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ته همداسې وويل او هغوی هم ورته وويل چې هو ستا په قضا باندې مونږ خوشحاله يو. نو سعد بن معاذ وويل د دوی مشران د ووژل شي او ښځې، ماشومان او مالونه يې د مسلمانانو په لاس غنيمت شي. پدې وخت کې رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: لقد حکمت بحکم الله فوق سبع السموات (تا هغه فيصله وکړه کومه چې الله ﷻ د اوو آسمانونو له پاسه کړې وه.)

هماغه وو چې له ۷۰۰ څخه تر ۸۰۰ پورې يهودان ووژل شول او دوی ځکه ووژل شول چې خيانت يې کړی و او په لوی لاس يې ځان ته دغه ورځ کتلې وه. له هماغې ورځې راهيسې دوی له مسلمانانو سره دښمني پالي او تر نن ورځې پورې دا دښمني د ميډيا او نورو سنګرونو له لارې روانه ده.

ځينې خلک وايي چې مونږ بايد په خپلو عملونو کې ډېر فکر وکړو ځکه چې بيا يهود او نصارا د اسلام له دين څخه زړه توري کيږي او بيا دعوت نشو ورکولای او يا دې ته ورته نورې خبرې کوي (له همدې له امله له يهودو او نور کفارو سره دښمني نکړي ...) مګر ځينې نور بيا شته چې پدې اړه هيڅ فکر نه کوي چې ګواکې يهود او نصارا به څه فکر کوي؟ يا دا چې آيا دوی مونږ ملامتوي کنه؟ همدغه ډله منصوره يا بريمنه او حقه ډله ده، ځکه د دوی سر خلاص

دی چې یهود او نصارا تر هغه نشو راضي کولائ ترڅو چې د دوی په دین باندې عمل ونکړو؛ نو چې راضي کیږي نه، بیا چې څه وایي هغه دې ووایي...!

همدا شان په احادیثو کې هم د حقې او بریمنې ډلې د ځانګړتیاوو په باره کې احادیث راغلي دي، صحیح مسلم له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

لا تزال طائفة من أمتي يقاتلون على الحق ظاهرين إلى يوم القيامة

زما د امت یوه ډله به د قیامت تر ورځې جهاد کوي او په دین به ولاړ وي.

(صحیح مسلم)

امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب کې دا الفاظ هم راوړي دي: (لا يضرهم من خذلهم او خالفهم) یعنې دوی ته هغه څوک هېڅ ضرر نشي رسولی کوم چې له دوی سره اختلاف لري. دلته دوې ځانګړتیاوې جوتې شوې او هغه دا چې:

(يقاتلون في سبيل الله) د الله ﷻ په لار کې جنګیږي.

(لا يضرهم من خذلهم ولا من خالفهم) دوی ته هغه څوک هېڅ ضرر نشي رسولی کوم چې له دوی سره اختلاف لري، یعني له دوی سره به ډېر خلک (حتی ټوله دنیا) مخالفه وي خو دوي ته به ضرر نشي رسولی. لکه څرنګه چې د یوه امریکایي جنرال په هغه لیک کې راغلي دي کوم یې چې سپینې ماڼۍ ته لیږلی و، او لیکلي یې وو: «مونږ یو زیات شمېر ترهګر ونیول او یو زیات شمېر مو ووژل خو د هغوی شمېر بیا هم څو چنده شوی دی»[٤] نو نړیوال د نه خوشحاله کیږي چې ګواکې مونږ زیات مجاهدین ووژل، ځکه دوی د منصورې طائفې په

[٤] دا لیک د Stanley McChrystal په واسطه لیکل شوی وو، چا چې په افغانستان او عراق کې د القاعدې او نورو مجاهدینو پر ضد د یو لړ عملیاتو مشري کوله، هغه په افغانستان کې د امریکایي او آیساف ISAF دځواکونو عمومي قمندان هم پاتې شوی دی.

وړاندې جنګيږي، بلکې دوی د پوه شي چې مجاهدين نه ختميږي؛ د دوی د يوه شهيد شوي په مقابل کې لس نور راپورته کيږي، دوی ته دا هم بايد وويل شي چې تاسې دا جنګ نشئ ګټلای، ځکه تاسې د الله ﷻ د اولياوو په وړاندې جګړه کوئ. د الله ﷻ د اولياء کرامو په وړاندې جګړه په حقيقت کې د الله ﷻ په وړاندې جګړه ده او د الله ﷻ په وړاندې جګړه هېڅوک نشي ګټلای. حضرت نبي کريم ﷺ په يوه قدسي حديث شريف کې له الله تعالى څخه روايت کوي چې الله تعالى فرمايي:

| | |
|---|---|
| من آذى لي ولياً فقد آذنته بالحرب (رواه البخاري) | څوک چې زما يو دوست ته اذيت ورسوي، نو زه ورسره د جګړې اعلان کوم. |

همداشان د پورته آيت دغه برخه چې (يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ)د جهاد استمرار ښايي او دا بيانوي چې يوه حقه ډله به موجوده وي چې د تل لپاره به جهاد کوي او که چيرې کومه ډله له دين وګرځي نو (فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ) الله ﷻ به داسې خلک راولي چې دوی به له الله سره او الله ﷻ به له دوی سره مينه لري. نو دا هغه حقې ډلې مجاهدينو ځانګړتياوې وې چې دلته مونږ ذکر کړې او هيله ده چې نور د هغه خلکو سوال حل شوی وي کومو ته چې تر دغه مخکې د حقې ډلې په تړاو موجود وو.

دلته يوه بله موضوع هم شته او هغه دا چې ډېری خلک کوښښ کوي څو الله ﷻ له دوی سره او دوی له الله ﷻ سره مينه وکړي، دوی کتابونه لولي، شعرونه وايي او ... خو نه پوهيږي چې کوم کار وکړي څو دا مينه او رابطه ټينګه کړي؟! نو هغو خلکو ته ښايي چې په دغه آيت کې تفکر وکړي. (فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖ)

مطلب الله ﷻ د هغه چا سره مينه کوي چې په مؤمنانو نرم، په کفارو سخت، د الله په لار کې جهاد کونکي او په دغه لار کې د چا له ملامتيا نه وېرېدونکي وي.

دلته په دغه آيت کې يوه بله موضوع هم شته او هغه يو مهم رباني سنت دی، رباني سنت يعني چې د الله ﷻ په لاس جوړ شوی کار چې تغير او تبديل ونه مني لکه د اوبو جوړيدل يو رباني سنت دی، چې د الله ﷻ په امر له اکسيجن او هايدروجن څخه جوړيږي او يا دا چې په ۱۰۰ درجې د سلسيوس کې په ايشېدو راځي ..

دلته په دغه آيت کې هم يو رباني سنت بيان شوی دی او هغه دا چې که چېرې څوک د الله ﷻ نافرماني وکړي او د هغه له لارې څخه وګرځي؛ نو الله ﷻ به يې په ځای بل قوم راپورته کړي او پرې بدل به يې کړي. الله تعالی ته دا هېڅ اهميت نلري چې فلان څوک دی؟ حتی الله ﷻ د صحابه کرامو لپاره دا وعيد راوړی دی او دوی ته يې ويلي دي چې: مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ (که چيرې تاسې خپل مسئوليتونه ترسره نکړئ نو الله به تاسې په يوه بل قوم بدل کړي داسې قوم چې د دوی به الله او د الله ﷻ به دوی خوښيږي.) الله ﷻ حتی صحابه کرام ويروليدي او الله جوته کړې ده چې له هېچا سره کومه ځانګړې رابطه نلري. دا د هغه فکر رد دی چې يهودو کاوه، دوی ويل چې مونږ په نورو مخلوقاتو غوره والی لرو ځکه چې مونږ يهود يو؛ مګر دوی پدې نه پوهيږي چې پخوا د دوی د غوره والي لامل ايمان يا د حضرت موسی عليه السلام په واسطه راوړل شوی دين وو چې د اسلام په راتګ سره اوس منسوخ شوی دی، هغه وخت دوی د الله ﷻ د دين بيرغ اوچت کړی وو، مګر کله چې دوی ياغي توب شروع کړ نو الله دوی تر ټولو بدترين قوم وګرځولو.

هيڅوک بايد دا ونه وايي چې مونږ پخوا ښه خلک پاتې شوي يو، نو اوس هم ښه خلک يو؛ يا دا چې کلونو وړاندې مونږ د دين خدمت کړی دی نو اوس هم دا ضمانت دی چې په هر حال ښه خلک يو، بلکې دا خبره غلطه خبره ده . دا د الله تعالی تر ټولو خطرناک سنت دی، نو مونږ بايد چې دغه مورد ته متوجه واوسو، هسې نه چې داسې عمل راڅخه صادر شي، چې له امله يې مونږ الله ﷻ په بل قوم بدل کړي.

تېر وخت هېڅکله د الله ﷻ په وړاندې ستا د راتلونکي وخت ضمانت نه کوي؛ ځکه (انما الاعمال باالخواتيم) د اعمالو نتيجه په خاتمو سره ده، له همدې امله د کارونو آخر ډېر مهم وي. په يوه حديث شريف کې هم راځي:

إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَ [صحيح بخاري، صحيح مسلم]

بېشکه له تاسې څخه به يو څوک د جنتيانو عملونه کوي، تر دې چې د هغه او جنت ترمنځ به يوازې د يوې ذراع (يوه څنډه) فاصله پاتې وي، خو تقدير به پرې غالب شي او د دوزخيانو عمل به وکړي، نو دوزخ ته به ننوځي او بېشکه له تاسې څخه به يو څوک د دوزخيانو عملونه کوي، تر دې چې د هغه او دوزخ ترمنځ يوازې د يوې ذراع فاصله پاتې وي، خو تقدير پرې غالب شي او د جنتيانو عمل به وکړي، نو جنت ته به ننوځي.

مطلب ځينې خلک به تل د جنت په لار روان وي خو په آخر کې به داسې څه ترې صادر شي چې په اور کې به يې د لوېدو باعث شي. برعکس کېداى شي ځينې کسان به لکه اصيرم داسې وي، داسې چې ټول عمر يې د بتانو عبادت کړی و او په آخر کې په احد کې مسلمان شو، همالته مخکې له دې چې يوه سجده وکړي شهيد شو او جنت ته لاړ، نو هېڅوک د جنت ضمانت نلري.

او بل په پورته آيت کې د يُجٰهِدُونَ لفظ راغلی دی دا لفظ د حال زماني لفظ دی چې د عربي ژبې د قواعدو پا اساس استمرار ښايي او معنی يې دا ده چې هر وخت هم چې دا آيت چاته رسيږي، په همغه وخت کې به ځينې داسې کسان موجود وي چې د الله ﷻ په لار کې به جهاد

کوي. دا دلیل په دې دلالت کوي چې جهاد د قیامت تر ورځې دوام لري، همدارنګه بل دلیل چې جهاد تر قیامته روان دی هغه دا دی چې:

وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ○

(سورة الأنفال:۳۹)

اې مؤمنانو! له دې کافرانو سره تر هغه پورې وجنګېږئ چې فتنه پاتې نه شي او ټول دین د الله ﷻ لپاره شي، بیا که هغوی له فتنې څخه لاس واخیسته نو د هغو د عملونو لیدونکی الله دی.

په دغه آیت کې له فتنې څخه مراد کفر دی، یعنې تر هغه وجنګیږئ تر څو چې نور کفر پاتې نشي او مونږ د رسول الله ﷺ له احادیثو څخه پوهیږو چې کفار به د قیامت تر ورځې پورې شتون ولري؛ له همدې امله ویلای شو چې جهاد هم تر هماغې ورځې دوام لري. مونږ پوهیږو چې وروستی جهاد د عیسی علیه السلام تر وخته دی ځکه هغه وخت به د حضرت عیسی علیه السلام جهاد د دې باعث شي چې فتنه (کفر) مکمل ختم شي او د یاجوج او ماجوج پر وړاندې جهاد د ظرفیت د نشتون له وجې نشي کیدای.

دوهم ثابت:

## جهاد تر اشخاصو پورې محدود ندی

(الجهاد لیس معلق بأشخاص)

لکه چې وینو په نن ورځ کې هر څوک دا نعره په خوله لري او وایي چې د الله ﷻ دین چاته ضرورت نلري، که چیرې د الله ﷻ د دین دفاع کوونکي ووژل شي، الله تعالی به یې پرځای نور خلک راپیدا کړي، خو دا هغه څه دي چې دوی یې په خوله وایي؛ او په حقیقت کې بیا یو زیات شمېر خلک جهاد تر اشخاصو یا مشخصو تنظیمونو پورې محدود کوي، دا یوه ناسمه خبره ده.

مونږ به په دغه درس کې کوښښ وکړو څو تاسې ته دا ثابته کړو چې جهاد تر خاص قیادت او خاصو افرادو پورې تړلی ندی. مونږ باید په پوره خواشینۍ سره ووایو چې جهاد په افرادو او تنظیمونو پورې تړل یو غټ مشکل دی او دا د جهادي عقیدې او د هغه باور او یقین چې ګواکې جهاد به د قیامت تر ورځې پورې روان وي په کمزوري کولو کې خورا ستر رول لري او داسې عقیده جوړول یوه خطرناکه عقیده ده. نو باید وپوهیږو چې جهاد تر اشخاصو پورې محدود ندی او نه باید څوک دغه عظیم عبادت په یوه تنظیم یا یوه شخص پورې معلق کړي، ځکه که چیرې هماغه ګروپ او شخص له منځه ولاړ شي نو د جهاد مقصد او نوم هم له منځه ځي.

الله تعالی د حضرت نبي ﷺ په واسطه صحابه کرامو ته دا ښوونه کوله چې یوازې په الله باور ولري، د الله ﷻ په دین منګولې خښې کړي او هېڅکله دې د الله د دین شعائر په خاص چا پورې نه تړي، الله تعالی دوی ته دا ښوونه کړې چې د الله ﷻ دین په خاصو خلکو پورې تړل یوه غلطه لاره او یوه غلطه کړنه ده.

الله تعالی حتی صحابه کرام له دې څخه منع کړي دي، چې څوک د اسلام د حضرت نبي علیه السلام په څېر لویو شخصیتونو پورې هم محدود کړي؛ الله تعالی په آل عمران سورة کې فرمایي:

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِين مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللَّهَ شَيْـًٔا وَسَيَجْزِى اللَّهُ الشَّٰكِرِينَ ○

(سورة آل عمران: ۱۴۴)

محمد ﷺ پرته له پیغمبر څخه نور څه نه دی، له هغه څخه مخکې نور پیغمبران هم تېر شوي دي، نو که هغه ومري یا ووژل شي نو تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځئ؟ په یاد ولرئ! څوك چې په شا واوړي، هغه به الله ته هېڅ زیان ونه رسوي. البته څوك چې د الله شکر ایستونکي بندګان شي، هغو ته به الله د دې بدله ورکړي.

پورته آیت نازل شوی تر څو صحابه کرام د یوه مفسد عمل څخه باخبره او منع کړي او هغه عمل باطل کوونکی کار دا دی چې عبادت په اشخاصو پورې مربوط شي.

اسلام د الله دین دی او یوازې تر هغه پورې مربوط دی، مونږ باید هر څه تر الله ﷻ پورې محدود او مربوط کړو او یوازې په هغه باور او توکل وکړو او نور هېڅوک په دغه برخه کې مربوط نکړو اګر که هغه د حضرت نبي کریم ﷺ په شان ستر شخصیت هم وي.

دا چې وایو جهاد تر اشخاصو پورې محدود ندی مطلب مو دا ندی چې ګواکې یو شخص یا یو قائد په عباداتو کې شریک دی، او نه خلک داسې فکر کوي، ځکه دا شرک دی (نعوذ بالله)؛ بلکې له دې بحث څخه مو مطلب دا دی کوم چې خلک فکر کوي چې ګواکې جهاد یا کومه بله شعیره د فلان شخص یا فلان ګروپ څخه پرته سرته نشي رسیدلی یا نشي کامیابېدلای.

د پورته آیت د لا ښه سپړلو او وضاحت لپاره راځۍ د دغه آیت په تفسیر باندې بحث وکړو؛ لومړی به د امام ابن کثیر تفسیر ته مراجعه وکړو، د پورته آیت شریف په تفسیر کې امام ابن کثیر د احد واقعه راوړې ده او لیکي: کله چې د احد په ورځ په مسلمانانو کې ماتې ګډه شوه او هغه څوک چې د الله ﷻ قضا پرې راغلې وه ووژل شول، نو شیطان خلکو ته آواز وکړ چې ګواکې محمد ﷺ وژل شوی دی. همدارنګه یو مشرک چې د نبي علیه السلام په مخ مبارک یې ګوزار کړی و، داسې انګیرلې وه چې ګواکې نبي ﷺ یې شهید کړی دی، نو هغه هم دا آوازه خپره کړه چې ګواکې حضرت نبي ﷺ وژل شوی دی، د صحابه کرامو ترمنځ وېره، مایوسي او ماتې خپره شوه. نو په دې وخت کې الله تعالی پورته آیت شریف نازل کړ چې ژباړه یې دا ده : محمد ﷺ پرته د پېغمبر څخه نور څه نه دی، له هغه څخه مخکې نور پېغمبران هم تېر شوي دي نو که هغه ومري یا ووژل شي؛ تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځۍ؟

په دې آیت کې د ځینو صحابه کرامو مایوسي یا شاتګ تنبیه شوی وو او یا دا چې دوی ته اخطار ورکړل شوی چې که چېرې نبي علیه السلام مړ شي یا ووژل شي نو آیا تاسې به په شا ګرځۍ؟!

همدارنګه ابن نجیح له خپل پلار څخه روایت کوي چې د احد په ورځ یو مهاجر صحابي د یو زخمي انصاري ترڅنګ چې په وینو لت پت و تېر شولو، نو یې ورته وویل: ای فلانیه! حضرت نبي علیه السلام خو شهید شوی دی..نو انصاري صحابي ورته وویل: که چېرته حضرت نبي کریم ﷺ وژل شوی وي، هغه خو مونږ ته دین ورسولو، مطلب خپله وظیفه یې ترسره کړه او د دغه دین لپاره ووژل شو، اوس په تاسې ضرور ده چې د خپل دین د دفاع لپاره وجنګېږئ..! (البیهقي)

د احد په ورځ مسلمانان دوې ډلې وو، یوه ډله داسې وه چې د دغه آوازې په اورېدو یې زړونه متزلزل نشول او لا هم په خپل ځای لکه غرونه ولاړ وو او ځینوي نور بیا دغه خبر پریشانه کړل او مایوس شول؛ نو له همدې امله الله ﷻ ورته په شدیدو الفاظو وویل چې آیا که

حضرت نبي کريم ﷺ ومري يا ووژل شي؛ نو تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځئ؟ په ياد ولرئ! څوك چې په شا واوړي، هغه به الله ﷻ ته هېڅ زيان ونه رسوي.

امام بخاري په يوه روايت کې راوړي دي، کله چې حضرت نبي کريم ﷺ رحلت وکړ نو حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه چې له مدينې بهر اوسېده راغی، مخامخ مسجد ته لاړ او پرته له دې چې له چا سره خبرې وکړي، د حضرت عايشې رضي الله تعالی عنها خونې ته ننوت کله يې چې حضرت نبي کريم ﷺ وليده چې په يوه ټوټه کې نغښتی دی نو مخ يې ور لوڅ کړ، په مخ يې ښکل کړ او په ژړا يې ورته وويل: زما مور او پلار له تا څخه ځار شه! لوی خدای تا دوه ځله نه مړ کوي، يو مرګ يې چې درته ليکلی ؤ هغه تا وليد..

بيا حضرت ابوبکر رضي الله عنه خلکو ته بيرون راووت، ګوري چې حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه خلکو ته خبرې کوي او ورته وايي چې: که چيرې چا وويل چې حضرت نبي کريم ﷺ وفات کړی دی زه به يې سر غوڅ کړم، حضرت نبي کريم ﷺ بيا د الله ﷻ ملاقات ته ورغلی دی او بېرته به زر راوګرځي؛ نو ابوبکر رضی الله عنه ورته وويل: عمره کېنه! خو عمر د کيناستلو نه ؤ، په همدې کې خلک په حضرت ابوبکر راټول شول نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه خلکو ته وويل: اما بعد:

من کان منکم يعبد محمداً ﷺ فان محمداً قد مات، و من کان منکم يعبد الله فان الله حيٌ لايموت... قال الله تعالی: [ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۚ أَفَإِين مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى اللَّهُ الشَّٰكِرِينَ ]

که چا د محمد ﷺ عبادت کاوه، نو محمد رحلت وکړ او که چا د الله ﷻ عبادت کولو هغه دې پوه شي چې الله تعالی ژوندی دی او نه مري، بيا يې پورته آيت تلاوت کړ، ژباړه: [محمد ﷺ پرته د پيغمبر څخه نور څه نه دی، له هغه څخه مخکې نور پيغمبران هم تېر شوي دي. نو که هغه ومري يا ووژل شي؛ تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځئ؟ په ياد

ولړئ! څوك چې په شا واوړي، هغه به الله ﷻ ته هېڅ زيان ونه رسوي. البته څوك چې د الله ﷻ شکر ايستونکي بندګان شي، هغو ته به الله د دې بدله ورکړي.]

اګر چې صحابه کرامو دا آيت پخوا هم اوريدلی وو، ځکه چې دا آيت د احد په غزا کې نازل شوی وو، مګر دلته يې چې کله د حضرت ابوبکر رضي الله عنه له خولې څخه واورېده نو اکثره صحابه کرامو فکر کولو چې په لومړی ځل دا آيت شريف اوري. ابوبکر صديق رضي الله عنه صحابه کرامو ته يادونه وکړه چې دا دين د الله ﷻ دين دی او حضرت نبي اکرم ﷺ يې رسول او پيغمبر دی، د هغه په شتون يا رحلت کې بايد چې مونږ مؤمن پاتې شو يا له دين څخه ونه ګرځو. حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چې کله صحابه کرامو دا آيت واوريده نو هغوی خواره شول او هر چا تر ډېره دا آيت له ځان سره تکرارولو.

ابو القاسم الطبراني رحمه الله له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کوي چې حضرت علي رضي الله عنه به د حضرت نبي کريم ﷺ په ژوند کې دا آيت تکراراوه چې (نقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ (نو تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځئ؟) او بيا به يې فرمايل چې په الله ﷻ قسم دی چې مونږ به وروسته له هغې چې الله ﷻ مونږ ته هدايت وکړ بېرته په شا ونه ګرځو، قسم په الله ﷻ که چيرې حضرت نبي عليه السلام مړ شي يا ووژل شي نو زه به د هغه د دين په خاطر تر هغو وجنګېږم تر څو چې زه هم مړ شم، او زه د رسول الله ﷺ ورور، ولي، د کاکا زوی، د هغه ﷺ وراث يم او هغه زما وارث دی، نو څوک دی چې تر ما حقداره وي؟! الله ﷻ فرمايي:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ○

(آل عمران: ۱۴۵)

هېڅ ساکښ د الله ﷻ له حُکم څخه پرته مړ کېدای نشي، د مرګ نېټه ليکله شوې ده.

دلته الله ﷻ فرمايي چې تاسې نه مرئ ترڅو چې د الله ﷻ له طرفه څخه اجازه ونشي او د هر يوه د مرګ نېټه ليکل شوې ده، د مرګ نېټه په لوح محفوظ کې ليکل شوې او نه تغيير کېدونکې ده. همدارنګه په يو بل ځای کې الله تعالی فرمايي:

وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ○

(سورة فاطر: ١١)

په کتاب (لوح محفوظ) کې له ليکل شوي عمر څخه پرته، نه د چا عمر ډېرېږي او نه د چا په عمر کې څه کموالی راځي؛ د الله لپاره دا ډېر آسانه کار دی.

دا او له دې څخه مخکې آيت دا جوتوي چې تاسې تر هغه نه مرئ تر څو چې تاسې ته ليکل شوې نېټه پوره شوې نه وي، نو دا آيتونو مسلمانان جهاد ته هڅوي او ورته فهموي چې جهاد ته تګ مو نه په عمر کې کموالی راولي او نه زياتوالی، په جنګ کې مخته کېدل مو عمر نشي کمولی او له جنګ او جهاد څخه پاتې والی او وېره ستاسې عمر نشي زياتولای. نو هر مؤمن چې په دغه آيت باندې کلک يقين ولري هغه د هېڅ شي څخه نه ويرېږي، ځکه هر هغه دښمن چې نوموړی ورسره مخ کيږي د الله ﷻ له مخلوقاتو څخه دي او د الله ﷻ په واسطه کنټروليږي، نو ولې بايد ترې ووېرېږي؟! حضرت خالد بن وليد رض به ويل چې ما په ځلونو داسې جنګونو کې شرکت کړی دی چې زما به يقين و، چې دا زما وروستی جنګ دی، خو دا دي زه اوس په خپله بستره باندې مړ کېږم.

ابن ابي حاتم له عباس بن يزيد العبدي څخه روايت کوي چې ما له ابو معاويه څخه واورېدل چې د هغه کاکا ورته کيسه کړې وه چې حبيب بن صهبان ويل: د په عراق کې د فارسي امپراطورۍ په وړاندې د يو جنګ پر مهال د مسلمانانو او فارسيانو ترمنځ يو سيند (د دجلې له سيند) راغی، د مسلمانانو له لښکر څخه يو کس چې حجر بن عدي و، خپل لښکر ته وويل: تاسې له څشي ډاريږئ او ولې له دغه سيند نه تېرېږئ؟ او بيا يې دا آيت ولوست چې : {وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ۗ } او په دې سره يې خپل آس د دجلې

په سیند ورخوشی کړ، کله چې دښمنانو دا لښکر ولید (چې په سیند ورګډ شو) نو په فارسي یې چیغې وهلې چې (دېوان، دېوان) یعني پیریان پیریان او وتښتېدل.

له دې څخه د دغه لښکر یقین څرګندیږي، یعني که الله ﷻ وغواړي چې ومو ساتي نو مونږ ساتل شوي یو او که الله ﷻ وغواړي چې مړه مو کړي نو هېڅوک نشته چې مونږ له مرګ څخه بچ کړي.

د زاد المسیر تفسیر لیکوال د دغه آیت ( وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ ... الآية) په تفسیر کې لیکلي چې: ابن عباس رض فرمایلي د احد په ورځ شیطان دا نعره وکړه چې محمد وژل شوی دی، نو د مسلمانانو په لښکر کې ځینو وویل ځئ چې وګرځو دا قریش ( دښمن ) زمونږ له کورنیو څخه دي او زمونږ ورونه دي، ځینو ویل چې که چیرې محمد ژوندی وای نو مونږ به ماته نه وه خوړلې نو وتښتېدل؛ ضحاک وایي چې ځینو منافقینو خلکو ته ویل چې محمد وژل شوی دی نو خپل اول دین ته وګرځئ.

دا هغه سخت امتحان و، چې هرچا ته پرې د خپلې عقیدې پته ولګېده، په حقیقت کې زمونږ ټول ژوند امتحان دی، کله مو الله ﷻ په یوه امتحان کې اچوي چې هغه خلاص شي نو په بل امتحان کې مو ګرفتار کوي او چې هغه خلاص شي بیا بل وي او دا ژوند همداسې په ډار او امتحان کې تېریږي، حضرت قتادة وایي چې ځینو خلکو وویل چې که چېرې محمد ریښتیا نبي وای نه به وژل کېده..

فتح القدیر په (۳۸۵/۱) کې د دغه آیت شریف ( وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ ... الآية) په تفسیر کې لیکي چې کله نبي علیه السلام د احد په ورځ زخمي شو، نو شیطان چیغې کړې چې محمد وژل شوی دی؛ حتی ځینو وویل ځئ چې وګرځو دا قریش (دښمن) زمونږ له کورنیو څخه دي او زمونږ ورونه دي، ځینو خلکو وویل چې که چېرې محمد ریښتیا نبي وای نو نه به وژل کېده، یعني که ریښتیا د الله رسول وای نو هغه به یې

دفاع کړې وه او د الله ﷻ په ساتنه کې به و، نو الله ﷻ په دوی ټولو باندې رد وکړ او پورته آیت یې نازل کړاو ورته یې وویل چې رسول وژل کېدای هم شي، دا د الله فیصلې دي.

همدارنګه کله چې احد کې د حضرت محمد ﷺ د وژلو غږونه پورته شول نو ځینو دا چیغې شروع کړې چې: (عبدالله بن ابی یعنې د منافقینو مشر زمونږ استازی دی او راځئ ابن ابی منافق ته ورشو چې مونږ ته له ابوسفیان څخه امن وغواړي (ځکه دوی پوهېدل چې دا منافق له مشرکینو سره اړیکې لري)، ای خلکو بېرته د خپل قوم پخواني دین ته ور وګرځئ مخکې له دې چې ووژل شئ...!)

دا د ځینو هغو کسانو حال وو چې د الله ﷻ په امتحان کې ګیر وو، خو په همدې حال کې یوه انصاري صحابي انس بن نضر رضي الله عنه وویل چې که محمد ﷺ وژل شوی وي د محمد رب خو ژوندی دی، نو راځئ او د خپل دین په لاره کې وجنګیږئ، دې خبرو تر هغه دوام وکړ ترڅو چې حضرت نبي علیه السلام غره ته ورسېده او خلک پرې راټول شول؛ هلته دا آیت نازل شو چې : ( وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ ... الآية)

ابن اسحاق د قاسم بن عبدالرحمن بن رافع الانصاري له لارې له بن عدي بن النجار څخه نقلوي چې أنس بن النضر رضي الله عنه په څو تنه انصارو او مهاجرینو باندې تېر شو، ګوري چې دوی له جګړې څخه ناست دي، ترې وېې پوښتل چې تاسې ولې ناست یاست؟ هغوی ورته وویل چې رسول الله ﷺ وژل شوی دی، نو أنس رضي الله عنه ورته وویل چې رسول الله ﷺ وژل شوی دی نو تاسې په دغه ژوند باندې څه کوئ، کوم چې حضرت نبي علیه السلام ځار کړ، مطلب راځئ څو د هغه مبارک لاره تر مرګه تعقیب کړو، بیا جګړې ته وړاندې شو او تر هغه وجنګېده چې شهید شو. (رضي الله عنه)

دپورته آیت په تفسیر کې مفسرینو زیات اقوال راوړي دي، خو مونږ یې خلاصه ذکر کوو او هغه داسې چې له رسول الله ﷺ سره چې د احد په غزا کې چا شرکت کړی و او بیا یې د رسول

الله ﷺ د شهادت دروغجن خبر واورېده نو دوې ډلې شول؛ يوه ممدوحه ډله او بله مذمومه ډله.

مذمومه ډله هغه وه چې الله ﷻ په پورته آيت کې د هغه څه امله چې دوی اختيار کړي ؤووېرول او دا هماغه خلک وو چې عمل يې تر اشخاصو پورې تړلی وو، اګر که دوی خپل عمل تر رسول الله ﷺ محدود کړی واو دا خلک په خپل منځ کې هم په دوه ډلو ويشل شوي وو، يوه ډله هغه چې يوازې مات شول، له جګړې يې لاس واخيست او د خپلې سلامتی په لټه کې وو او غوښتل يې د کافرانو څخه امان وغواړي، دوهمه ډله چې ګمراهي يې خورا خطرناکه وه او په صراحت يې ځينې کفري کلمې ويلې او ويل يې چې که چېرې محمد ريښتيا د الله ﷻ نبي وای، نه به وژل کېده او همدوی وو چې يو بل ته يې ويل چې ای خلکو بېرته د خپل قوم پخواني دين ته ورګرځئ مخکې له دې چې ووژل شئ، يعني دا هغوی وو چې د ماتې ترڅنګ يې غوښتل له دين وګرځي. دا د هغه خلکو حال وو چې خپل جهاد يې د رسول الله ﷻ تر شتون پورې تړلی ( معلق ) کړی و.

د نن او پرون مقايسه کې بايد ووايو چې اوس هم ځينو هغه کسانو چې ځانونه يې اسلام ته منسوب ګڼل هغه وخت چې امريکا او ناټو په افغانستان يرغل وکړ او د طالبانو لومړنی اسلامي حکومت يې سقوط کړ په خپلو ليکنو کې وليکل: که چيرې د طالبانو او القاعدې جهاد حق وای ښارونه به يې له لاسه نه ورکول او ماته به يې نه خوړله او ځينو ليکل د القاعدې مجاهدينو ته ښايي چې لاړ شي او دخپلو حکومتونو سره د امن تړون وکړي او ځان د دغه لوی شر (امريکا او ناټو) څخه خلاص کړي، دوی دقيقاً هغه خبره کوله کومه چې منافقينو د احد په غزا کې کوله او دوی ابن ابی ته ورتلل، څو ورته د قريشو څخه امن وغواړي.

نو څومره زيات ورته والی..!

هغه قوم چې د نبي علیه السلام د مرګ د خبر په اورېدو او د مسلمانانو ماته یې د حضرت نبي علیه السلام په واسطه د راوړي دین په ناحق توب تعبیروله او د بدر فتحې ته یې هېڅ نه کتل، نن هم د دوی ګمراه لارویان د طالبانو د پخواني نظام سقوط او د دوی نظامي ماته د مجاهدینو د لارې په باطل والي باندې معنی کوي او دا یعني تاریخ تکرارېږي او ګمراه کسان د هر شر لپاره خپل پخواني اسلاف لري.

دا وو د مذمومې ډلې بیان اوس به راشو دوهمې ډلې ته چې هغه ممدوحه (ستایل شوې) ډله ده، دا هغه خلک وو چې کله یې د حضرت نبي علیه السلام د مرګ دروغجن خبر واورېده نو لکه د أنس بن نضر غوندې د الله ﷻ په دین ثابت پاتې وو، أنس بن النضر په څو تنه انصارو او مهاجرینو باندې تېر شو، نو ګوري چې دوی له جګړې څخه ناست دي، ترې وېې پوښتل چې تاسې ولې ناست یاست؟ هغوی ورته وویل چې رسول الله ﷺ وژل شوی دی، نو أنس رض ورته وویل چې رسول الله ﷺ وژل شوی دی، نو تاسې په دغه ژوند باندې څه کوئ، کوم چې حضرت نبي علیه السلام ځار کړ، مطلب راځئ څو د هغه مبارک دین تر مرګه تعقیب کړو او بیا جګړې ته وړاندې شو تر هغه وجنګېده چې شهید شو. همدارنګه حضرت ابوبکر صدیق رض هم د همدغه لارې یو ښه لاروی پېژندلی شوی، هغه وخت چې کله رسول الله ﷺ رحلت وکړ نو یې وویل که چا د محمد ﷺ عبادت کړو هغه د پوه شي چې محمد ﷺ وفات شوی او که چا د الله ﷻ عبادت کولو هغه دې پوه شي چې الله ﷻ ژوندی دی او نه مري. همدارنګه د ثابت پاتې شوو صحابه کرامو له جملې څخه علي رضي الله عنه یو ښه مثال دی کوم چې دغه آیت به یې تلاوت کړ انقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ (نو تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځئ؟) او بیا به یې فرمایل : په الله ﷻ قسم دی چې مونږ به بېرته په شا ونه ګرځو ورسته له هغې چې الله ﷻ مونږ ته هدایت وکړ، قسم په الله ﷻ که چیرې مړ شي یا ووژل شي نو زه به د هغه د دین په خاطر تر هغو وجنګېږم تر څو چې زه هم مړ شم او زه د رسول الله ﷺ ورور، ولي، د کاکا زوی، د هغه ﷺ وراث یم او هغه د ما وارث دی، نو څوک دی چې تر ما حقداره وي؟!

دا د هغه چا بیان وو چا چې دین یې تر اشخاصو پورې نه وو تړلی اګر که دغه شخص حضرت نبي علیه السلام هم وو.

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ○(آل عمران:۱۳۹)

بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه. همدا تاسې برلاسي یاست، که تاسې مؤمنان اوسئ.

دا آیت د احد په غزا کې نازل شوی دی او الله ﷻ مؤمنانو ته وایي چې تاسې قوي یاست او تاسې هېڅکله هم مه بې زړه کېږئ، ستاسې په برخه زیات څه دي (والعاقبة للمتقین) یعني آخري برى او خیر د متقیانو مربوط دی. په بل ځای کې الله ﷻ فرمایي:

اولَمَّآ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٌ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَاۖ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ○(آل عمران:۱۶۵)

او دا تاسې څه کوئ، چې کله په کوم کړاؤ اخته شئ؛ نو په دې خبرو خوله پرانیزئ چې دا مصیبت (په اُحد کې) له کوم لوري راغی؟ - په داسې حال کې چې (د بدر په جګړه کې) ستاسې لاسونو د دې دوه برابره مصیبت (د دښمن دلې ته) رسولی دی. [اې پیغمبره ﷺ!] دوی ته ووایه" :دا مصیبت په خپله ستاسې له خوا منځ ته راوړل شوی دی؛ الله پر هر څه برلاسی دی".

دا د مومنانو حال وو البته هغه وخت کله چې دوی جګړه وبايلله او هغه وخت چې دوی ګټلې وه نو الله ﷻ د هغه وخت بیان په دې ډول کوي:

وَاذۡكُرُوٓاْ إِذۡ أَنتُمۡ قَلِيلٞ مُّسۡتَضۡعَفُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمۡ وَأَيَّدَكُم بِنَصۡرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ○

هغه وخت [در په زړه کړئ] چې کله تاسې لږ واست، په ځمکه کې تاسې کمزوري ګڼل کېدئ، تاسې وېرېدلئ چې خلك مو له منځه

(الانفال:۲٦)

یونسي. بیا الله ﷻ تاسې ته د پناه ځای برابر کړ، په خپله مرسته یې ستاسې مټ قوي کړ او ښه روزي یې در ورسول، ښایي چې تاسې شکر ایستونکي اوسئ.

نو دا پورته هغه آیتونه دي چې باید مونږ یې د ماتې او برې په وخت کې په نظر کې ولرو، یعني کله چې موږ مؤمنان وبایلو نو باید ووایو چې (وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ )او که چیرې یې وګټو نو وایو چې (هذا من عند الله) دا د الله ﷻ مهرباني ده چې مونږ ته یې فتحه راکړه، دا مونږ په خپلو لاسونو باندې نه ده ترلاسه کړې، بلکې د الله ﷻ له طرفه څخه یوه تحفه ده، حتی د غشو د هغو ګوزارونو په باره کې چې مؤمنانو به کول الله ﷻ دا آیت را نازل کړ:

وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ

(الأنفال:١٧)

او تا ونه ویشتل، بلکې الله ﷻ وویشتل (د مؤمنانو لاس چې په دې کار کې په کار واچول شو.)

په بل ځای کې الله تعالی فرمایي :

وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ○

(آل عمران:١٢٦)

برلاسي او مرسته هر څه چې دي، د هغه الله له خوا دي چې ډېر زورور او د حکمت خاوند دی.

په قرآنکریم کې کله هم برې مؤمنانو ته ندی راجع شوی بلکې هر وخت چې برې یادیږي الله ﷻ یې ځانته راجع کوي، مطلب برې او کامیابي هر وخت د الله ﷻ له طرفه څخه وي او دا د الله ﷻ مهرباني ده. هغه څه چې په واسطه یې الله ﷻ په مونږ خپلې مهربانی زیاتوي دا دي، چې باید زمونږ اعمال له هغه څه سره یوشان وي کوم چې الله ﷻ مونږ ته پرې امر کوي او

مونږ د الله ﷻ عبادات له دې خاطره نکړو چې په جګړو کې پرې برى حاصل کړو، بلکې مونږ د الله ﷻ عبادت کړو ځکه چې الله ﷻ مونږ ته دا امر کړى دى؛ او وروسته نه يوازې د جګړو بلکې د هر څه نتايج الله ﷻ ته سپارو، الله دى چې زمونږ چارې کنټرولوي، کله چې مونږ ته د عبادت په هکله وويل شي مونږ هغه عبادت کړو او نور هر څه الله ﷻ ته سپارو، ځکه الله ﷻ عالم الغيب دى او مونږ په غيبو او ناليدلو څيزونو باندې نه پوهېږو.

موږ د يو کار د نتيجې په اساس دا فيصله نشو کولاى چې آيا دا کار حق دى که باطل؟ مونږ د خپلو اعمالو فيصله په دې ډول کولاى شو چې آيا دا هغه څه دي چې الله ﷻ پرې مونږ ته امر کړى کنه؟ د مثال په ډول، يو شخص يو چاته دعوت ورکوي او الله تعالى دعوت شوى شخص په اسلام مشرف کوي، په دې ځاى کې مونږ نشو ويلاى چې د فلان شخص دعوت صحيح دى ځکه دومره شمېر خلک يې اسلام ته هدايت کړي دي، بلکې مونږ ګورو چې آيا د دغه شخص دعوت د رسول الله ﷺ د دعوت مطابق روان دى کنه؟ که چېرې د نومووړي دعوت د رسول الله ﷺ د سنتو مطابق روان وي نو دغه دعوت کامياب دى، اګر که هېڅوک هم د هغه دعوت قبول نکړي او که د سنت مطابق نه وي نو ښه او کامياب دعوت ندى اګر که هر څومره خلک دغه دعوت قبول کړي. ځکه رسول اکرم ﷺ فرمائي د قيامت په ورځ به ځينې پيغمبران له ۳،۲،۱ يا هېڅ امتي سره راشي. مطلب هېچا به د نومووړي نبي دعوت نه وي منلى، نو دا خو دا معنى نلري چې نعوذ باالله دغه انبياء ناحق و، يا د دوى د دعوت لاره غلطه وه، بلکې دوى هر هغه څه ترسره کړي کوم چې الله ﷻ ورته امر کړى وو، خو د هر کار نتايج د الله ﷻ په لاس کې دي. مطلب مونږ هېڅکله د يو کار نتيجه د هغه په صحيح والي يا غلط والي باندې نه تطبيق کوو، بلکې د نتايجو په اساس د يو کار په کاميابي يا ناکامي فيصله کول د غرب عادت دى، غربيان هر څه ته د تجارت په نظر ګوري، که څوک يو تجارت کوي او د ورځې په پاى کې زياتې پيسې پيدا کړي نو ټوله ورځ يې کاميابه حسابيږي او که نتيجه برعکس وي نو وايي چې ټوله ورځ يې ناکامه وه، خو مونږ مسلمان داسې نه کوو،

بیا په عباداتو کې خو هېڅکله داسې نه کوو، ځکه مونږ عبادت له دې وجې کوو چې د الله ﷻ امر دی، نور بیا که زمونږ پایله هر رقم وي دا تر الله ﷻ پورې مربوط ده.

نو هغه خلک چې یوه جګړه د بري په خاطر حقه او د ماتې په خاطر باطله ګڼي، که چیرې دوی ته د احد د غزا په هکله ووېل شي نو دوی به وایي چې دا جګړه غلطه وه او رسول الله ﷺ باید چې دغې غزا ته نه وای تللی، ځکه مسلمانانو دا جګړه وبایلله؛ دوی وایي چې رسول الله ﷻ باید په کور پاتې شوای وای او جګړه یې نه وای کړې. خو مونږ بیا وایو چې د احد غزا یوه له فضیلت لرونکو او غوره غزاوو څخه وه، ځکه په دې غزا کې رسول الله ﷺ او صحابه کراموهغه څه وکړل کوم چې الله ﷻ ورته امر کړی و، یعنې دوی جهاد وکړ.

منافقین نن ورځ ګوري کله چې جهاد د کامیابۍ او فتحې په درشل وي نو دوی هم په اسلامي لښکر کې ګډون کوي او که چېرې جهاد د ځان او مال د قربانۍ مرحلې ته ورسیږي نو دوی په اصطلاح له حکمت څخه کار اخلي او له جنګ وروسته کیږي. یو ښه مثال چې د جهاد له ستونزو سره د مقابلې شکل ترې څرګندیږي، د حضرت ابوبکر صدیق د خلیفه کېدو وخت او قصه ده. کله چې رسول الله ﷺ رحلت نه و کړی، یو لښکر یې د حضرت اسامه بن زید تر مشرۍ لاندې تیار کړ او ورته یې ووېل چې باید د مؤته[5] سیمې ته لاړ شي، حضرت نبي علیه السلام د لښکر لپاره د مدینې څخه بهر یو کمپ جوړ کړ او لښکر همالته دېره شو، خو مخکې له دې چې لښکر د مؤته په لوري لاړ شي حضرت رسول الله ﷺ له دې نړۍ څخه رحلت وکړ، کله چې رسول الله ﷺ رحلت وکړ د مدینې شا او خوا زیات شمېرعربان مرتد شول، صحابه کرامو حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته ووېل چې اوس شرایط فرق کوي او مونږ باید زرګونه کیلومتره لرې د رومي امپراطورۍ سره د مخامخ کېدو څخه ډډه وکړو او د اسامه لښکر ونه لېږو، ځکه چې شا او خوا څو رقمه مشکلات منځته راغلي وو. دا نظر د

[5] مؤته هغه سیمه ده چې د هجرت په ۸ ام کال کې د رومیانو او مسلمانانو ترمنځ پکې یوه مشهوره جګړه پېښه شوې وه او د اسلامي لښکر درې تنه سالاران، چې د اسامه بن زید پلار یعني زید بن حارثه هم پکې وو په شهادت ورسېدل.

يو زيات شمېر صحابه كرامو او حتى د لښكر د مشر اسامه بن زيد خوښ وو، له همدې خاطره حضرت اسامه، عمر بن خطاب او ابوبكر صديق ته پيغامونه هم ولېږل او حضرت عمر فاروق ته يې وليكل چې زما سره ۳۰۰۰ مسلمان فوځ دى او په داسې حال كې د رسول الله ﷺ خليفه، د رسول الله ﷺ مېرمنې او اسلامي ځمكه يوازې نشم پرېښودلاى، مطلب د لښكر امير نه غوښتل چې لاړ شي، ځكه چې حالات ډېر كړكېچن وو.

خو د مسلمانانو خليفه څه وويل؟ هغه رضي الله عنه وويل: (كه چېرې سپي راشي او د حضرت نبي ﷺ مېرمنې وداړي يا يوازې زه په مدينه كې پاتې شم هم دغه لښكر به مؤته ته لېږم، ځكه دا د حضرت رسول الله ﷺ فيصله ده).

مطلب حضرت ابوبكر رضي الله عنه نتايجو ته نه كتل او هغه څه كول يې غوښتل چې حضرت نبي كريم ﷺ غوښتي وو او د اسامه بن زيد لښكر يې مؤته ته ولېږه.

بايد چې د هر مسلمان د كار طريقه همدا وي، مطلب كه چېرې هر څوك د ګټې په كار پسې وګرځي او تل د ګټو او بريا په لټه كې وي نو بيا خو ځينې عبادات ترې پاتې كيږي. د مثال په ډول جهاد يو عبادت دى او په دغه عبادت كې د ځان او مال له لاسه وركول نغښتي وي، مقصد څوك چې جهاد كوي هغه خپل ځان او خپل مال په خطر كې غورځوي، نو كه څوك وايي چې زما ځان يا مال بايد له منځه لاړ نشي او د مصلحتونو په لټه كې وي، بيا خو جهاد ترې پاتې كيږي. حضرت ابوبكر رض هم پوهېده چې د اسلامي خاورو او د نبي عليه السلام د مېرمنو ساتنه يې مسئوليت دى، خو بيا يې هم غوښتل دا لښكر مؤته ته ولېږي او لوى خطر په غاړه واخلي، ځكه چې نوموړي غوښتل د حضرت نبي ﷺ فيصله عملي كړي او په داسې حال كې چې حضرت عمر بن خطاب او لويو لويو صحابه كرامو رضي الله عنهم د لښكر د نه لېږلو مشورې وركولې، حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د حضرت نبي كريم ﷺ په نظريه اجتهاد وكړ او نوره نتيجه يې الله ﷻ ته وسپارله.

یادونه باید وکړو چې دا هغه مسئله وه چې د اجتهاد وړ وه او کېدلای شوای چې پکې اجتهاد وشي، یعنې دا داسې مسئله نه وه چې پکې قاطع دلیل راغلی وي او چاته پکې د څه ویلو حق نه وي، لکه لمونځ؛ په لمانځه کې مونږ نشو کولای چې د موسم یا حالت په تغیر سره مونږ له خپله ځانه اجتهاد وکړو، خو د دغه لښکر مسئله د بدر د غزا لپاره د ځای د انتخابېدو له پېښې سره ورته وه او صحابه کرامو پکې اجتهاد کولای شو.

د بدر په غزا کې رسول الله ﷺ یو ځای د لښکر د پړاو اچولو لپاره غوره کړ، نو حضرت حباب بن منذر رضي الله عنه ورته وویل چې ای د الله رسوله! آیا تا دغه ځای د الله ﷻ په امر غوره کړ، که په خپل نظر؟ نبي ﷺ ورته وفرمایل چې په خپل نظر.. نو حضرت حباب رضي الله عنه ورته وویل چې زه دا مشوره درکوم چې مونږ باید د بدر د چینو په مخ کې پړاو واچوو تر څو په دښمن اوبه بندې کړو. حضرت نبي ﷺ هم ورسره قبوله کړه، حضرت حباب په لومړي سر کې پوښتنه وکړه چې آیا دا خو به د الله ﷻ امر نه وي.؟! یعني که چېرې د الله ﷻ امر وي بیا اجتهاد او مشورو ته ضرورت نشته.

د مسلمانانو د دغه لښکر په لېږلو کې هم صحابه کرام پوهېدل چې دلته د اجتهاد ځای شته، نو ځکه یې مشورې ورکولې. خو ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه وفرمایل چې زه د دغه کار تعقیب کوونکی یم، نه مبتدع او اختیار کوونکی. دا ډېره مهمه خبره ده او مونږ باید په دې وپوهېږو چې د اسلامي شریعت د مسئلو سره څنګه چلند وکړو، نو چېرته هم چې د الله ﷻ امر وي هلته زمونږ لپاره د څه ویلو ضرورت او اجازه نشته، نن چې زیات شمېر خلک د جهاد په باب رقم رقم عذرونه وړاندې کوي د دوی لپاره تر ټولو ساده ځواب دا دی، چې مونږ د نتایجو مسؤولیت په غاړه نلرو مونږ باید هغه څه ترسره کړو کوم چې الله ﷻ مونږ ته پرې امر کوي. الله ﷻ مونږ ته په جهاد سره امر کوي نو مونږ باید وجنګېږو اګر که په دغه لاره کې زمونږ ځانونو یا کورنیو ته تاوان ورسیږي او اګر که د ځمکې په مخ له یو مسلمان څخه زیات څوک پاتې نشي بیا هم باید چې وجنګېږو. نن ورځ جهاد فرض عین دی،

نو راځئ د الله ﷻ امر او د رسول الله ﷺ د خليفه (حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه) لاره تعقيب کړو او نور هره نتيجه الله ﷻ ته وسپارو.

راځی وګورو! چې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د دغه اجتهاد نتيجه څه شی وه؟ کله چې د مسلمانانو دغه لښکر روان شو نو لور په لور یې آوازه خپره شوه، هغه خلک چې د فرصت په انتظار وو، ويې ليدل چې مسلمانانو د روم د امپراطورۍ په لور روان شوي دي، نو ووېرېدل او د هر ډول فساد د خپرېدو څخه يې ډډه وکړه. همداشان هرقل يا د روم امپراطور د حضرت نبي ﷺ د رحلت او د دغه لښکر د روانېدو خبره په يوه ورځ واوريده نو ووېرېده او ويې ويل چې دا خلک په داسې حال کې زمونږ خلاف لښکر وباسي چې خپل رهبر يې له لاسه ورکړئ نو دا خلک حتماً قوي دي، له همدې امله يې د مسلمانانو سره مخامخ کېدو ته زړه ښه نه کړ، د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه لښکر په داسې حال کې مؤته ته ورسېده چې د روم د لويې امپراطورۍ هېڅ عسکر له دوی سره د جګړې جرئت نه درلوده. همالته څه وخت پاتې شو او بېرته په فاتحانه انداز کې مدينې منورې ته راوګرځېده.

او يقيناً چې دا کار د دغه آيت مصداق ګرځي کوم چې الله ﷻ فرمايي:

...وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ○ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ..الآيه

(الطلاق:۳-۲)

څوک چې د الله ﷻ څخه په وېرېدو کار وکړي، الله ﷻ به د هغه لپاره له ستونزو څخه د وتلو کومه لاره پيدا کړي. ○ او هغه ته به له داسې لارې څخه روزي ورکړي، چې هغه لوري ته يې ګومان هم نه رسيږي.

په يو ځای کې به يو شخص داسې بند شي چې هېڅ د وتلو لاره به نه وي، خو الله ﷻ وايي چې که چېرې تاسې تقوا ولرئ الله تعالی به تاسې ته لاره خلاصه کړي.

نو څوک چې د کارونو صحيح او غلط والی د هغوی په نتيجه پورې تړي او يا عبادات تر اشخاصو او افرادو پورې خاص کوي او يا دا ډول عقيده ساتي د هغه لپاره د عقيدې د

خرابوالي او په ځينو حالتونو کې حتی د کفر وېره شتون لري او متأسفانه باید ووایو چې دا یو ډېر خطرناک څه دي چې نن ورسره یو زیات شمېر مسلمانان مخ دي، په ځانګړي توګه هغوی چې ځانونه داعیان او عالمان معرفي کوي، دوی تل د تغیر په حالت کې وي یوه ورځ په یوه حال وي او بله ورځ په بل حالت کې، که چېرې د مؤمنانو بریا ویني نو ځانونه داسې ښکاره کوي چې ګواکې دوی هم په دغه کار کې شتون درلود او که د مؤمنانو ماته یا ضعیفوالی ویني نو دوی هم د مؤمنانو په ضد ودرېږي، داسې ښکاره کوي چې دوی خو د کفارو پر ضد هېڅ هم نه دي کړي او ټوله ملامتیا په نورو اچوي. دلته مونږ کولای شو د تېر نېږدې وخت څخه یو مثال راوړو او هغه داسې چې : یو زیات شمېر علماوو او تنظیمونو د روسانو په مقابل کې د افغان جهاد ملاتړ کولو او د دغه جهاد په ملاتړ یې وعظونه، خطبې او لیکنې کولې او د روسانو یرغل یې غندلو... مګر همدغه خلک د امریکایي یرغل او اشغال په مقابل کې په بې ساري توګه بدل شول، د روسانو په ضد خپل پخوانی دریځ یې د مجاهدینو په خلاف ونیولو او لا یې هم نیولی دی، همدغه خلکو مجاهدین د تروریستانو، وېره اچونکو او په حکمت نه پوهېدونکو خلکو په نوم یاد کړل. خو څوک به ترې وپوښتي چې د روسي او امریکایي یرغل او اشغال فرق څه شی دی؟ په داسې حال کې چې ځمکه هماغه ځمکه ده، خلک هماغه خلک دي، یو وار د یو کفر تر حملې لاندې راغلي اوس د بل کفر..

دا هرڅه په دوی باندې وېره کوي او دا د نفاق علامه هم ده، یعنې کله چې په ورته مسئله کې کمزوری دښمن ویني نو د هغه په ضد یې خوله خلاصه کړې وي او که هماغه ناحق دښمن قوي شي دوی د مؤمنانو یا پرونیو دوستانو په ضد باندې خپلې خولې خلاصې کړي، خو دا ډول خلک باید وپوهېږي چې د الله ﷻ په لار کې جهاد د چا فرمایش نه، بلکې یو فرض دی. حتی که د ځمکې پر مخ یو مسلمان پاتې وي جهاد به هم داسې باقي وي لکه لمونځ او یا نور فرضي عبادات، موږ یې ماتې یا بریا او یا نورې نتیجې الله تعالی ته سپارو او د هغه خلکو

په خوله نکوو کوم چې هره ورځ سلګونه عذرونه وړاندې کوي یا بهانې لټوي او یا د نتایجو په اساس محاسبه کوي.

مؤمنان باید وپوهیږي چې د مجاهدینو په ماتو کې اکثراً حکمت نغښتی وي، ترڅو د مجاهدینو صفونه پاک او تصفیه شي، په دې سره مؤمنین او منافقین یو له بله جدا کیږي. ځکه د آسانۍ په وخت کې خو به هر څوک د تکبیر غږ پورته کوي او ځانته به مجاهد وایي، خو کله چې امتحان راشي نو هلته معلومیږي چې څوک د نیمې لارې کسان دي او څوک هغه حقیقي مؤمنان دي چې دغه لاره تر آخره مخته وړي. د منافقینو په اړه الله ﷻ فرمایي:

وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنْ أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا ○

(سورة النساء: ۷۲)

هو، ځینې ستاسې څخه داسې وي چې له جګړې څخه ځان ګوښه کوي؛ کله چې پر تاسې کوم مصیبت راشي، نو (دا منافق کس) وایي: «الله ﷻ پر ما لویه مهرباني وکړه چې زه له دې خلکو سره حاضر نه وم.»

او دقیقاً چې همدغه څه اوس هم په خپلو سترګو وینو، کله چې په مؤمنانو باندې کوم مشکل راشي نو یو زیات شمېر خلک وایي چې الحمدلله چې مونږ هلته نه وو او که کوم د مسلمانانو ګروپ مات شي نو دوی وایي چې الحمدلله چې مونږ نه وو وسره یو ځای شوي، کنه اوس به چیرې وو؟!

الله تعالی په بل ځای کې د دوی په هکله فرمایي :

الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ○(سورة النساء: ۱۴۱)

دا منافقان ستاسې په باب انتظار باسي، (چې د تلې کومه پله درنیږي)، که د الله له لوري بری ستاسې په برخه شي، نو را به شي وه به وایي: «آیا موږ له تاسې سره نه وو؟» که د کافرانو لپاره د بري څه برخه وي، نو

هغو ته به ووايي» :آيا موږ دا نه شواى کولاى چې ستاسې پر خلاف وجنګېږواو سره له دې هم موږ تاسې له مسلمانانو څخه وساتلاست؟» - ښه نو الله به ستاسې او د هغوى معامله د آخرت په ورځ فېصله کړي او (په دې فېصله کې) الله د کافرانو لپاره پر مسلمانانو د برلاسي کېدو هيڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې.

په افغانستان کې د روسانو د جهاد وروسته يو زيات شمېر خلک چيغې وهي چې آيا مونږ جهاد ونکړ؟! خو وروسته چې الله ﷻ په مجاهدينو باندې د امريکا امتحان راوست نو همدغه خلک وايي چې مونږ د تروريستانو سره همکاري نه کوو او نه مو پخوا کړې ده.

جهاد يوازې د رجالو په وس پوره دى، له هغوى پرته چې د فتنو د دفع لپاره پيدا شوي وي، په بل چا به د جهاد او مجاهدينو ملاتړ ونشي. ځکه زمونږ او د بريا تر منځ يوه اوږده لاره پاتې ده او سفر لا اوږد دى، د عربو په اصطلاح دا سفر به د ډېرو اوښانو ورمېږونه مات کړي. نن ورځ جهاد د سختۍ په تر ټولو سخته مرحله کې دى، داسې چې نن ورځ د مجاهدينو لپاره يا مرګ دى او يا زندان؛ ډېر کم پيښيږي يا په بل عبارت له څو نسله قربانيو وروسته يو نسل مجاهدين په ميدان کې خپله بريا او کاميابي ګوري.

جهاد تر اشخاصو، ډلو او يا نتايجو پورې محدودول د دې باعث کيږي چې مونږ ماته وخورو، که چيرې دا ماته په عملي ميدان کې نه وي نو په معنوي توګه به حتماً وي، نو پر مونږ لازمه ده چې جهاد في سبيل الله له دغه بند څخه خلاص کړو، د دې لپاره مونږ داسې رهبرانو ته اړتيا لرو چې خلک متحد کړي او د کفارو خلاف پلانونه طرحه او عملي کړي، خو که چيرې دا ډول رهبران پيدا نشي، نو دا معنا نلري چې ګواکې د جهاد او مسلمانانو ترمنځ دا اړيکه پريکړل شي.

مطلب رهبر د جهاد او مؤمن ترمنځ د وصل کړۍ نده، یعني کېدای شي ځینې وختونه به امیر نه وي خو جهاد به روان وي، دلته باید دا خبره معلومه شي چې زمونږ مطلب دا ندی چې ګواکې امیر مهم ندی، بلکې د امیر شتون په اسلام کې یو اصل دی او د شرعي امیر اطاعت د جهاد له شرطونو څخه دی، خو امیر د نظم، ترتیب او پلان لپاره مهم دی، نه د دې لپاره چې جهاد ورپورې معلق شي. بلکې امیران به یو پر بل پسې ځي او راځي خو جهاد به په خپل حال وي.

تاریخ شاهد دی چې وروسته د رسول الله ﷺ له زمانې څخه داسې وخت ندی راغلی، مګر دا چې یو زمری پیدا شوی، څو له امت څخه دفاع وکړي، کله چې هغه شهید او یا وفات شوی نو امت تر هغه ښه او غیرتي امیر پیدا کړی دی، ډېرو مؤمنو میندو داسې زامن زیږولي لکه عمر، علي، مقداد، صلاح الدین، خالد، عکرمه ..او یا په بل عبارت دا امت لکه باران داسې پاتې شوی، داسې چې سړی نه پوهیږي په اول کې یې خیر دی که په آخر کې.

د دغه مشرانو شهادتونه مسلمانانو ته لا پیاوړتیا ورکوي ځکه مسلمانان د جهاد د په واسطه د رب عبادت کوي نه د جهاد د مشرانو؛ او بل معلومه خبره ده چې زموږ مشران د جګړې په میدان کې حاضر وي او لکه نور عسکر دوی هم شهیدانیږي او دا هم روښانه ده چې زمونږ د مشرانو تر ټولو لوی آرمان او انتظار شهادت، د الله ﷻ دیدار، جنتونه، حورې ... دي.

او په آخر کې ټولو مسلمانانو ته وایو چې جهاد ته تر اشخاصو او ډلو پورې تړل او رابطه ورکول باطل عمل دی او د دین او دنیا د فاسدوالي لامل کیږي، جهاد د الله ﷻ له لوري د فرض کړل شویو فریضو څخه یوه فریضه ده چې تر قیامته به دوام لري، د جهاد په باب د دغه امت او صحابه کرامو منهج حتی وروسته د حضرت نبي ﷺ له وفات څخه نه دی تغییر شوی بلکې فتوحات باقي وو او لا پیاوړي او زیاتېدل. همدا شان د حضرت عمر رضي الله عنه شهادت مسلمانانو ته کومه ضربه ونه رسوله بلکې مسلمانان لا زیات په ځمکه کې

خپاره شول او دا کار همداسې نسل په نسل پاتې دی. نو د جهاد له ثوابتو څخه یو دا دی چې جهاد یوه روانه، قوي او ګړندۍ فریضه ده چې د اشخاصو او خلکو شتون یا نشتون ورته کومه صدمه نه رسوي.

له الله ﷻ څخه سوال کوو چې مونږ ته هدایت وکړي، زمونږ امت عزیز کړي او کفر برباد او هلاک کړي! آمین

دريم ثابت:

# جهاد تر ځانګړې خاورې پورې محدود ندی

(الجهاد ليس معلقً بأَرْض)

لکه په تېرو درسونو کې مو چې وويل جهاد د اسلام له لومړيو کلونو څخه د قيامت تر ورځې يوه روانه فريضه ده، په دغه برخه کې به دا ثابته کړو چې جهاد تر معلومې خاورې پورې محدود ندی. د اوسني وخت يو له غلطو باورونو څخه، بلکې د جهاد په اړه يو غير صحيح باور دا دی چې خلک جهاد تر يوې سيمې محدود کوي که چېرې هماغه ځمکه نه وي نو خلک جهاد ته نه راوځي، دا يو غلط باور دی ځکه که چيرې د کوم سبب پخاطر په دغه سيمه کې جهاد ودريږي يا همدغه سيمه فتحه شي نو د جهاد مفهوم ختميږي.

مسلمان بايد وپوهيږي چې جهاد يوه لويه او نړيواله فريضه ده چې هېڅ سرحد او پوله نه پيژني، بيا هغه سرحدات خو هېڅ نه پيژني کوم چې په تېرو وختونو کې د څو جابرو حکومتونو لخوا رسم شوي او په مسلمانانو تپل شوي دي، جهاد د دعوت د رسولو او خلک د الله ﷻ اوامرو ته د رابللو لپاره يوه مهمه لاره ده او د دغه فريضې ارزښت تر هر چا ښه صحابه کرامو درک کړی و له همدې امله يې د اسلام د دين پيغام د دنيا تر هرې څنډې ورسولو. د مثال په ډول کله چې د فارسي امپراطورۍ د لښکرو مشر رستم، له حضرت ربيع بن عامر رضي الله عنه څخه وپوښتل چې تاسې څه هدف لرئ؟ نو ربيع بن عامر وويل: ″موږ الله ﷻ را ايستلي يو، څو خلک د مخلوق له بندګۍ څخه د خالق بندګۍ ته بوځو، د دنيا له تنګيو يې د دنيا او آخرت پراخيو ته وباسو او د مختلفو ناحقو دينونو له ظلم څخه يې د اسلام عدل ته کېنوو. که چيرې مو زموږ دعوت قبول کړ موږ مو له خپلو خزانو او خاورو سره پريږدو او که مو قبول نکړ نو تر هغه به درسره جنګيږو ترڅو چې الله ﷻ خپله وعده ريښتيا کړي..!" رستم وويل: ستا د رب وعده څه شی ده؟ ربيع رضي الله عنه وويل: "وژل شوو ته جنت او ژونديو پاتې شوو ته فتحه."

دلته د حضرت ربیع بن عامر رضي الله عنه پیغام ډېر روښانه ده، اول کې وايي چې مونږ الله ﷻ را ایستلي یو، یعني که د الله ﷻ خوښه وي تاسې ته به یا زمونږ په لاس هدایت کیږي او یا به زمونږ په لاس عذاب درکوي، بیا ورته وايي چې د دنیا له تیارو او تنګیو مو وباسو او یقیناً چې اسلام د پراخیو، روښانه تاریخ او څرګند راتلونکي دین دی، څوک چې مسلمانیږي هغه په حقیقت کې د آدم علیه السلام څخه شروع د عیسی علیه السلام تر بیا راکوزېدو پورې د ټولو مؤمنانو له ډلې سره په خواخوږۍ او وروری کې پاتې کیږي. الله تعالی مؤمنانو ته فرمايي:

إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ (الأنبياء:٩٢)

دغه ستاسې اُمت په حقیقت کې ایکي یو اُمت دی او زه ستاسې رب یم، نو تاسې زما عبادت وکړئ.

کله چې حضرت نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ، هلته ګوري چې یهود د محرم په میاشت کې څو روژې نیسي، نو پوښتنه یې وکړه چې دا روژې د څه لپاره نیسي؟ ورته وویل شول چې دا هغه ورځې دي چې پکې موسی علیه السلام له فرعون څخه نجات پیدا کړی و نو حضرت نبي کریم ﷺ وفرمایل: "چې موسی علیه السلام پر مونږ له دوی څخه زیات حق لري." او روژې یې شروع کړې. همدا شان حضرت ربیع بن عامر رضي الله عنه د خپل پیغام په جریان کې هغه ته وویل چې مونږ غواړو خلک د مختلفو ناحقو دینونو له ظلم څخه د اسلام عدل ته وباسو. په دې ځای کې احتمالاً چې ربیع بن عامر رضي الله عنه د فارسیانو او نورو دینونو له څرنګوالي سره بلد نه وو او نه یې په دینونو کې زیات تحقیق کړی و، خو د نومورړي یقین دا وو چې پرته له اسلام څخه بل هېڅ داسې دین نشته چې په هغه کې عدالت قایم وي.

له دغه پیغام څخه ښکاریږي چې صحابه کرامو جهاد د دعوت وسیله ګرځولې وه او چې چاته به یې هم دعوت ورکولو نو ورته یې د جهاد په اړه هم ویل؛ خو دا یادونه هم باید وکړو

چې هغه وخت مسلمانان په تعرضي حالت کې وو، د دفاع په حالت کې بيا جهاد د دعوت شکل نه غوره کوي، بلکې هغه وخت کفار راغلي وي څو په مونږ بريدونه وکړي او مونږ له منځه يوسي، نو مونږ يې بايد په مقابل کې بالمثل اقدام وکړو.

دا د هغه خلکو لپاره ځواب دی کوم خلک چې وايي نن بايد اشغالګرو قدرتونو ته دعوت ورکړل شي ځکه دعوت بايد د دوی په خاوره کې ورکړل شي، نه زمونږ په خاورو کې. صحابه کرامو دا زده کړي وو چې جهاد د هر وخت او هر ځای سره اړخ لګونکې مسئله ده، له همدې امله يې د نړی ګوټ ګوټ د جهاد په مرسته فتحه کړ.

له دې خبرې څخه چې جهاد د هر ځای سره اړخ لګوونکی عمل دی، زمونږ مطلب دا ندی چې بايد ټوله دنيا کې جګړې جوړې شي او يا دا چې مؤمنان هر ځای چې جګړه ويني ورته خوشاله شي، بلکې صالح مؤمن بايد دا مسئله زده کړي چې د جګړې اور بلول خاص شرايط لري، چې د هغه شرايطو له پيدا کېدو وروسته د جهان هره نقطه چې وي جهاد به پکې شروع کيږي، دا شرايط يو جدا بحث دی چې دلته پرې خبرې نه کوو، خو يو څه چې ښکاره دي هغه دا دي چې هر ځای چې د چا وس رسيږي هلته بايد فتنه او جګړه جوړه نکړي. بلکې لومړی بايد د اسلام له نظره د جګړې د روا کېدلو شرايط زده کړي او د هغوی د تحقق وروسته هر چېرې چې وي بيا دې جګړه پيل کړي.

دا مهمه ده او بايد ايمان ولرو چې جهاد به د قيامت تر ورځې روان وي او تر يوې سيمې پورې محدود ندی لکه څرنګه مو چې تېرو درسونو کې پرې بحث کړی دی، خو بايد واضحه کړو چې جهاد د ځمکې په شتون پورې نه بلکې په شرايطو پورې تړلی دی او دا شرايط په دوه ډوله دي: الف : ديني شرايط ، ب: استراتيژيک شرايط

د پورته شرايطو زده کول انسان ته دا قدرت ورکوي چې دغه لويه فريضه په خپل ځای کې په ښه ډول مخ ته بوځي او د چا د خبرو تر اغيز لاندې رانشي. مثال ځينې خلک وايي چې اسرائيلو أقصی اشغال کړی نو که چيرې څوک جهاد غواړي فلسطين ته دې لاړ شي او دوی

اجازه نه درکوي چې بل ځای یا په بله سیمه کې په یهودو حمله وکړي؛ دا د عقل او هڅو خلاف کار دی، ځکه کوم قوم چې د اسلام پر خلاف د جګړې اعلان وکړي نو باید چې د نړۍ په هره برخه کې هدف وګرځول شي او دوی ته باید د نن ورځې رسم شوي حدود او سرحدونه خلاصون ورنکړي. له مکې څخه د حضرت رسول الله ﷺ او صحابه کرامو له هجرت څخه معلومیږي چې که چېرې جهاد په یوه ځمکه کې امکان نلري نو تاسې هجرت هم کولای شئ، ځکه نبي کریم ﷺ دا ونه ویل چې زه دا مبارکه خاوره ( مکه ) نه پرېږدم او بېرون ته نه ځم، بلکې لاړو او له مدینې څخه یې جهاد شروع کړ او اسلام له مدینې منورې څخه د نړۍ ګوټ ګوټ ته خپور شو. دا هماغه مدینه وه چې د مکې معظمې په نسبت الله ﷻ او د الله رسول ﷺ ته خوښه نه وه او هغه وخت چې رسول الله ﷻ له مکې څخه مدینې منورې ته هجرت کولو نو مخ یې د مکې په طرف راوګرځولو او مکې معظمې ته یې په خطاب کې وفرمایل: " ته الله ﷻ ته تر ټولو خوښه خاوره یې، همدارنګه ماته هم تر ټولو خوښه ځمکه یې، که چیرې د مکې مشرکینو زه له تا څخه په زور نه وای ایستلی، زه به هېڅکله نه وم درځنې تللی. "

دا د رسول الله ﷺ حال وو چې خپل ځان او الله ﷻ ته تر ټولو خوښه ځمکه یې د الله ﷻ په لاره کې پرېښوده او هجرت یې ترې وکړ، رسول الله ﷺ د هغه اسلام په لټه کې نشو چې د مکې له حالاتو سره سازګار وي، مطلب اسلامي احکامات یې تغیر نکړل او نه یې لکه د نن ورځې په اصطلاح له حکمت څخه کار واخیست، بلکې د داسې ځای په لټه کې شو چې اسلام سره سازګار شي. په غرب کې مېشت د نن ورځې مسلمانان هم باید پدې وپوهیږي چې په غرب کې د اوسېدو لپاره دوی ته نه ښایي څو په اسلامي احکاماتو کې ګوزاره وکړي، بلکې دوی ته ښایي چې اسلامي خاورو ته هجرت وکړي او د مسلمانانو ځمکو ته لاړ شي؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هېڅکله ندي ویلي او نه یې دا فکر کړی چې زه باید دعوت محتاط کړم، د کفر بېکاره عاداتو ته به بد نه وایم او د دوی په عقیده او خدایانو به کار نلرم څو زه یو ښه شهروند جوړ شم او خلک د اسلام له دین څخه زړه توري نکړم؛ بلکې دوی ته یې دعوت ورکړ، د دوی باطله عقیده او خدایان یې ټول چلینج کړل، دوی ته وویل چې دا اسلام دی او

زه د الله ﷻ په نازل کړل شویو احکاماتو هېڅ کنټرول نلرم او کله چې کفارو هم زور ورسره شروع کړ نو هجرت یې ترې وکړ او له مدینې څخه یې د دوی په مقابل کې جهاد شروع کړ.

کله چې حضرت نبي کریم ﷺ د ځمکې په لټه وو نو طایف ته لاړو، هغوی یې اسلام ته دعوت او د ملاتړ غوښتنه یې ترې وکړه نو د طائف خلکو ورته وویل مونږ ته به وعده راکوې چې له تا وروسته به موږ واکمني کوو؛ حضرت نبي کریم ﷺ ورته وویل چې ځمکه د الله ﷻ ده چاته یې چې خوښه وي هغه ته یې ورکوي، زه چاته ځمکه یا د واکمنۍ وعده نشم ورکولای. بیا د طائف خلکو ورته وویل چې سمه ده مونږ مو د عربو په وړاندې ملاتړ کوو، خو د روم او فارس له واکمنۍ مو نشو ژغورلای، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اسلام تر هغه له چا څخه نه قبلیږي چې له هر لوري له دین څخه ملاتړ ونکړي، یعني داسې نشي کېدای چې په آسانی کې ورسره ملګري اوسئ او په سختۍ کې نه.

کله چې له مدینې څخه خلک راغلل او نبي علیه السلام ورته دعوت او شرایط وړاندې کړل نو دوی ټول شرایط قبول کړل او کله یې چې له أنصارو څخه بیعت اخیسته نو أنصارو ورته وویل چې ای د الله رسوله! ته خو مونږ د ټولې نړۍ په مقابل کې دروې او مونږ ته په دنیا کې د اسلام له وجې مشکلات مخته راځي، ستا ملاتړ به مونږ ته د سر او مال په بدله تمامیږي، اوس نو زموږ لپاره په بدل کې څه شی دي؟ حضرت نبي کریم ﷺ دوی ته، نه د خلافت، نه د مال او متاع او نه د بل څه وعده ورکړه بلکې یوازې یو لفظ یې ورته وویلو او هغه دا چې ستاسې لپاره جنت دی. په نننۍ نړۍ کې یوه غټه ستونزه او په تېره بیا په غرب کې دا ستونزه ډېره ده چې خلک اسلام د غرب لپاره برابروي او پکې تغیر او تبدیل راوړي، څو غربیان ترې خوشحاله شي، چې دا یوه خطرناکه کړنه ده.

د رسول الله ﷺ له هجرت وروسته صحابه کرامو هم د هغه ﷺ لاره تعقیب کړه، خپلې مبارکې او مقدسې خاورې یې پریښودې او د دین د خپرولو لپاره په یو او بل لوري وخوځېدل تر هغې چې د دنیا مشرق او مغرب ته ورسیدل او اسلام یې خپور کړ. حضرت امام مالک په

خپل کتاب موطا کې لیکلي چې حضرت ابو درداء، حضرت سلمان فارسي رضي الله عنهم ته خط ولیږلو او هغه یې مقدسې ځمکې ( مکې او مدینې ) ته دعوت کړ، خو ځواب کې حضرت فارسي رضي الله عنه ورته ولیکل ځمکه تا نه پاکوي بلکې عملونه دي چې تا پاکوي. صحابه کرامو جهاد تر مکې، مدینې یا بیت المقدس پورې نه محدود کاوه بلکې چېرې به هم چې شرایط برابر شول دوی به هلته جهاد کاووه.

تر یوې مشخصې ځمکې د جهاد محدود کول د جهاد د فریضې د پرېښودلو معنا لري مثال که چیرې موږ ووایو چې أقصی آزادوو، نو که چېرې د أقصی په آزادۍ کې ماته وخورو یا یې آزاد کړو، له دې سره جهاد هم ختمیږي او دا لویه فریضه پای ته رسیږي او له دې څخه معلومیږي چې د هغو خلکو خبره غلطه ده کوم چې وایي زمونږ جګړه له یهودو سره د ځمکې په خاطر ده، بلکې زمونږ جګړه له یهودو سره د عقیدې او دین له خاطره ده. نو که چېرې مونږ له دوی څخه خپلې ټولې، په ځانګړې توګه د فلسطین ځمکې آزادې کړې، په دوی پسې به د دوی خاورو ته ورځو او دوی به هلته تعقیبوو لکه څرنګه چې دا کار نبي کریم ﷺ او صحابه کرامو کړی و. (ان شاء الله)

ځلورم ثابت:

# جهاد تر یوې معرکې پورې محدود ندی

(الجهاد لیس معلق با المعرکه)

یو بل لوی مشکل او غلطه عقیده دا ده چې ځینې خلک جهاد تر یوې معرکې پورې محدود ګڼي، مطلب که چیرې یو چا معرکه وګټله نو دوی دا معنا ترې اخلي چې دا خلک له اوله په حقه وو، او که یې وبایلله نو دوی وایي چې د ا خلک له اوله سم نه وو او دین یا جهاد یې حق ندی؛ دا دلیل او عقیده عقلاً، شرعاً، طبعاً او له هرې زاویې څخه یو باطله عقیده او غلط دلیل دی.

ځکه حدیث شریف کې راځي چې د قیامت په ورځ به ځینې أنبیاء کرام علیهم السلام پرته له امتیانو څخه راشي، یعنې هېچا به پر دوی ایمان نه وي راوړی، نو دا خو دا معنا نده چې هغوی ناکام وو بلکې هغوی خپله خواري وکړه او مسئولیت یې ترسره کړ خو هدایت د الله ﷻ په لاس کې دی او دلته دغه انبیاء کرام هېڅ مسئولیت نلري. همدا شان مونږ نشو ویلای چې د حضرت نبي کریم ﷺ دعوت ناکام وو ځکه د هغه تره ابوطالب یې مسلمان نشوای کړلای؟! نه هېڅکله نه، رسول الله ﷺ خپله ټوله خواري وکړه خو ابوطالب ته د الله ﷻ خوښه همدا ډول وه.

موږ تاریخ کې زیاتې داسې معرکې لرو چې له هغې وروسته د مسلمانانو د بیا را ژوندي کېدو امید نه وو او هغه یې د اسلامي امت وروستی جګړه بلله، لکه د تاتاریانو سره جګړې؛ تاتاریانو په ۶۵۶ هـ.ق کال کې عراق او شام ونیول، په عراق کې یې په څلوېښتو ورځو کې یو میلیون مسلمانان شهیدان کړل یعني هره ورځ ۲۵۰۰۰ مسلمانان هغوی شهیدان کول، آن تر شامه یې په هیڅ جګړه کې ماته ونه خوړه، دا یعنې که څوک فکر وکړي، د اسلام د ختمېدلو په معنا ده او ښکاره کېده چې مسلمانان به بیا راپورته نشي. ځکه تاتاریانو

ترکستان، خراسان، عراق او شام ټول نیولي او اوسیدونکي یې شهیدان کړي وو اوس نو یوازې مصر او لږ نورې سیمې پاتې وې نور مسلمانان خلاص وو، مګر کله چې مسلمانانو له الله ﷻ څخه مرسته وغوښته او د جهاد صف ته یې راودانګل نو تاتاریانو د عین جالوت په معرکه کې تر ټولو بده او شرمونکې ماته وخوړه، داسې چې د مغلو د واکمنۍ د زوال پیلامه جوړه شوه، لدې څخه معلومیږي چې د جګړې د ماتې او بري نتایج په عقل باندې نشي تحلیل کېدلای او د مسلمانانو ماتې هېڅکله دا معنا نلري چې دوی ناحق دي. ( نعوذ بـالله )

فتحه د الله تعالی له لوري وي او مسلمانان هېڅکله په شمېر او وسایلو باندې نه مغروره کیږي، خو متأسفانه چې نن د امت مسلمه غلطي او نا امیدي د خپلې بې وسۍ له وجې ده، تاریخ ثابته کړې چې زموږ جګړه د اعداد او وسایلو په واسطه نه وي، موږ تر خپل وس پورې تیاری او اعداد کوو، ځکه لکه څرنګه چې جهاد فرض دی همدغه شان اعداد هم ورته فرض دی او که چېرې څوک اعداد او تیاری ونکوي ګنهکاره کیږي، نو مونږ باید چې اعداد ته وخت ورکړو، نوره نتیجه الله ﷻ ته وسپارو. خو هېڅکله په خپل تیاري او خپل تعداد مغروره کېږو نه، ځکه کیدای شي ځینې وخت موږ تر دښمن ښه پیاوړي او محکم وو خو ماتې خورو او د دې وجه دا ده چې د فتحې شرایط مو نه وي پوره کړي او یا د ماتې په وسیله سره الله ﷻ زمونږ صف او نفسونه تصفیه کوي.

که چېرې مونږ جهاد تر یوې معرکې پورې محدود کړو، دا باعث کیږي چې مونږ یې په ماته ناهیلي شو او یا په بریا مغروره شو، له دې امله مونږ دا ډول فکر نکوو، ماته او بریا الله ﷻ ته سپارو او دا عقیده جوړوو چې هر څه د الله ﷻ له طرفه دي.

بیا هم باید ووایو چې موږ جهاد د ماتې یا بریا لپاره نه بلکې ددې لپاره کوو چې دا فریضه او د رب متعال امر دی، د رب اوامر موږ ته قبول دي او هېڅکله ترې سرغړونه نشو کولاۍ.

په آخر کې مهمه دا ده چې مونږ جهاد وکړو او د جهاد په دوران کې هره ممکنه او زمونږ په توان پوره وسیله په کار واچوو. لکه څرنګه چې حضرت نبي کریم ﷺ د بدر غزاء کې هره

ممکنه چاره سرته ورسوله، هغه مبارک د څاه کیندلو ، موقعیت نیولو ، مجهز کولو او نورو تیاریو وروسته الله ﷻ ته په سجده پرېوت او هر څه یې الله ﷻ ته پرېښودل.

پنځم ثابت:

# فتحه تر نظامي بري پورې محدوده نده

(النصر ليس بالغلبة العسكرية فحسب)

ډيری خلک دا فکر کوي چې د فتحې څخه مراد يوازې نظامي بری دی مطلب که چېرې په نظامي برخه کې کومه جګړه وګټي نو دا بری ګڼي او که چېرې يې کومه جګړه وبايلله نو دا د دوی په نظر ماته ده، خلک يوازې د بري څخه لغوي معنا اخلي، مګر اسلام هر لغت ته نوې اصطلاحي معناوې جوړې کړې دي، د مثال په ډول صلاة د عربي ژبې يو لغت دی چې تر اسلام پخوا يې هم شتون درلود او دعا ته ويل کيږي، خو اسلام ورته يو ځانګړی تعريف جوړ کړی او عبارت دی له هغه خاصو افعالو او اقوالو څخه چې ټول پرې پوهيږو او لمونځ ورته وايو. همدارنګه صيام عربي لغت دی او پخوا تر اسلام موجود و، خو اسلام هغه ته يو نوی تعريف ور وبښلو چې ورباندې ټول پوهيږو او روژه ورته وايو، همدارنګه نصر يو عربي لغت دی چې فزيکي کاميابۍ ته ويل کيږي، خو الله ﷻ نصر ته يو خاص تعريف وړاندې کړی دی، چې يوازې تر نظامي بري پورې محدود ندی.

خلک يوازې د نصر لغوي معنا ته ګوري او له فتحې او بري څخه يې مراد په ميدان کې بری وي، مګر په حقيقت کې داسې نده الله ﷻ جهاد فرض کړی دی خو کېدای شي مسلمانانو ته يې ميداني فتحه نه وي ليکلې، مطلب که قرآنکريم مطالعه شي نو هېڅ ځای کې الله ﷻ مجاهدينو ته دا ضمانت ندی ورکړی چې دوی به په هره ميدان کې کاميابوي، بلکې الله ﷻ فرمايي:

إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا

اوس که تاسې ټپي شوي ياست؛ نو له دې څخه مخکې ستاسې دښمنه ډله هم همداسې ټپيان شوي دي، دا د زمانې خوږې

وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَآءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّٰلِمِينَ ○ (سورة آل عمران: ۱۴۰)

ترخې دي چې موږ يې د خلکو تر منځ اړوو را اړوو. پر تاسې دا مرحله ځکه راوستل شوه چې الله دا کتنه غوښتله چې په تاسې کې رښتيني مؤمنان څوك دي او د هغو خلکو انتخابول يې غوښتل چې په واقعي توګه (د رښتينولۍ) شاهدان وي؛ ځکه چې ظالمان د الله نه خوښيږي.

په پورته آيت کې دوه ځايه الله ﷻ دا يادونه کوي چې کېداى شي مؤمنان هم د جګړې په ميدان کې ماته وخوري، دا آيت د احد له غزا څخه وروسته نازل شوی دی، دا د مسلمانانو لپاره يو خبرداری و، ځکه هغه وخت مسلمانانو دا فکر کولو چې الله ﷻ زمونږ سره دی، رسول الله ﷺ زمونږ په منځ کې او د ځمکې په مخ يوازيني مؤمنان مونږ يو نو الله ﷻ به مونږ نه ماتوي، خو الله ﷻ دوی ته ور په غوږ کړه، چې د الله ﷻ سنت پدې ډول دی چې کله تاسې ته برى درکوي او کله د امتحان په پار ماته درباندې ويني.

مونږ مسلمانان دا باور لرو، څوک هم چې د اسلام لوړې څوکې ته وخيژي يعنې د جهاد صف ته داخل شي هغه بيا ماته نه خوري، بلکې همېشه او په مختلفو لارو د برې په حالت کې روان وي، هغه بريا که ميداني بريا وي او يا دا بريا د شهادت يا اسارت په شکل کې وي. که څه هم د نصر لغت زياتې معناوې لري او ضرورت دی چې جلا کتاب ورباندې وليکل شي، خو دلته مونږ د النصر د لغت يوه لنډه تشريح کوواو ځينې معناوې په لنډه توګه ليکو چې په لاندې ډول دي:

## د نصر (برې) لومړۍ معنا: په خپل نفس او خواهشاتو باندې غلبه

د نصر تر ټولو لويه او جامع معنا عبارت ده له دې چې يو مجاهد په خپل نفس، شيطان او خواهشاتو باندې غلبه پيدا کړي. دا د نصر ترټولو لويه برخه ده چې يو مجاهد ورته

لاسرسی پیدا کوي او د الله ﷻ په لاره کې قربانۍ ته راوځي، دا هغه معنا ده چې نن ورځ ځوانان او په ټوله کې امت پکې پاتې راغلی دی. الله تعالی فرمايي:

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ○(سورة التوبة: ۲۴)

[اې پیغمبره ﷺ!] دوی ته ووایه: که ستاسې پلرونه، ستاسې زامن، ستاسې ورونه، ستاسې میرمنې، ستاسې خپل خپلوان، ستاسې هغه مالونه چې ګټلي مو دي، ستاسې هغه تجارت چې د هغه په ورانېدو اندېښمن کېږئ او ستاسې د خوښې کورونه؛ تاسې ته له الله ﷻ او د هغه له پیغمبر او د هغه په لار کې له جهاد څخه ګران وي، نو انتظار وباسئ تر دې پورې چې الله خپله فیصله ستاسې مخې ته راولي او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي.

الله رب العالمین په دغه آیت کې ۸ ډلې ذکر کړې دي چې د جهاد او مجاهد تر منځ خنډ جوړېږي، معمولاً دا هغه لویې ډلې دي چې نور کوچني خنډونه هم تر همدوی پورې مربوط کیږي: دا ډلې په ترتیب سره عبارت دي له:

۱- والدین: نن ورځ یو زیات شمېر مسلمانان نه پوهیږي چې د اسلام په وړاندې د دوی مسؤولیت څه شی دی؟! اګر که دوی په الله ﷻ باور لري او په خپله مسلمانۍ افتخار کوي خو دا یې هېره کړې چې الله ﷻ کوم ډول اسلام قبلوي، یا رسول الله ﷻ دوی ته په څه باندې امر کړی دی او یا په اوسنیو حالتونو کې د اسلام تقاضا څه ده؟ له همدې امله یو زیات شمېر والدین خپلو اولادونو ته دا اجازه نه ورکوي چې امت ته ورپېښ په دغه حالت کې هم د جهاد میدان ته راووځي. کله چې د الله ﷻ دین تر حملې لاندې راغلی وي، په اسلام او مسلمانانو دا ډول بده ورځ وي لکه نن او مونږ ته دوه انتخابه متوجې وي، مطلب یو طرف

د الله تعالی امر وي او بل طرف د والدینو اطاعت؛ مونږ مجبور یو چې د الله ﷻ امر پرځای کړو. په هغه څه کې چې د الله ﷻ نافرماني کیږي د بل هیچا اطاعت ته باید اهمیت ورنکړل شي او که فکر وکړو نو که څه هم په ظاهره به د مور او پلار له اجازې پرته وتل د هغوی بې اطاعتي وي خو په اصل کې دا بې اطاعتي نه ګڼل کیږي. بلکې د الله ﷻ په لاره کې وتل د خپل مور او پلار سره ښېګڼه او د آخرت لپاره هغوی ته د ذخیرې برابرول دي.

۲- زامن: هغه څوک چې اولاد ولري پوهیږي چې اولاد څومره ګران وي اولادونه یو له هغه عواملو څخه دي چې د الله ﷻ له لارې څخه په منعه کولو کې تر ټولو زیات اغېز لري. ځکه هر څوک کوښښ کوي چې خپل اولادونه راحت کړي او که چیرې له چا پوښتنه وکړې چې ولې جهاد ته نه ځې؟ نو دوی ځواب درکوي چې زما جهاد دا دی چې د خپلې کورنی غم وکړم؛ د دوی په فکر که چیرې دوی نه وي نو الله ﷻ به یې کورنۍ ونه ساتي. د صحابه کرامو په وخت کې هم هغه وخت چې له مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته د هجرت امر وشو نو یو زیات شمیر صحابه کرامو خپل مالونه، کورونه او تجارتونه، کفارو ته پرېښودل او دوی یوې لرې سیمې ته مهاجر شول، هغه سیمه چې دوی پکې هیڅ نه درلودل. نو له هجرت څخه مخکې یو شمېر صحابه کرامو ته خپل اولادونه راغلل او په ژړا یې ورته وویل چې ته لاړ شې مونږ چاته پرېږدې؟ ځینې صحابه کرام د خپلو بچیانو او کورنیو تر تاثیر لاندې راغلل او پاتې شول او تر هغه په مکه کې پاتې شول څو مسلمانانو مکه فتحه کړه. د مکې له فتحې وروسته کله چې پخوا تللي مهاجرین خپلو کورنیو ته راوګرځېدل نو دوی عزیز وو او تر پخوا په ښه وضیعت کې وو؛ او کوم مسلمانان چې همدلته پاتې شوې وو او په خپلو کورنیو یې فکر ساتلو هغوی له یوې زیاتې برخې څخه محروم وو، لکه له حضرت نبي علیه السلام سره د هجرت او جهاد څخه، د هغه ﷺ په خطبو او درسونو کې د شرکت له ثواب او اعزاز څخه بې برخې وو او لکه څرنګه چې ابن القیم رحمه الله فرمایي: چې د خیر هر کار په څو چنده ثواب سره حسابیږي، په دې حساب له هجرت ورسته پاتې شوي صحابه کرام د ثوابونو له قافلې څخه وروسته پاتې شوې وو او هغه چې هجرت یې کړی و، په بدر او احد او نور

غزواتو کې یې شرکت کړی وو، اسلامي پوهه یې حاصله کړې وه او قرآنکریم یې حفظ کړی وو؛ مطلب هم یې ثواب خپل کړ او هم تر پخوا په ښه وضیعت کې بېرته فاتحان راوګرځېدل. نو کله به چې شاته پاتې شویو خلکو دوی ولیدل په خپل ځان به یې افسوس کولو چې ولې د خپلو کورنیو له لاسه له دومره لوی خیر څخه محروم پاتې شوې وو؛ بیا الله تعالی دا آیت نازل کړ:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوّٗا لَّكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُمۡۚ○(التغابن: ١٤)

اې مؤمنانو! ستاسې له مېرمنو او ستاسې له اولادونو څخه ځینې ستاسې دښمنان دي، له هغوی څخه ځان وساتئ!

کله چې دا آیت نازل شو نو پاتې شوي صحابه کرام په داسې حال کې خپلو کورونو ته لاړل چې په قهر وو او په خپلو اولادونو غوسه شول چې ستاسې له خاطره مونږ له دې لوی اجر څخه بې برخې شوو، دا چې د هغوی قهر زیات وو نو الله ﷻ دا آیت هم نازل کړ چې:

وَإِن تَعۡفُواْ وَتَصۡفَحُواْ وَتَغۡفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ○ (التغابن: ١٤)

یعنې او که تاسې د بخښنې او تېرېدنې څخه کار واخلئ او ښنه وکړئ، نو الله ډېر ښه بښونکی او رحم کوونکی دی.

مطلب اوس د افسوس وخت ندی او ناوخته ده نو اوس قهر مکوئ او خپلو کورنیو ته ښنه وکړئ او غوسه مه ورباندې کوئ. نن ورځ باید زمونږ وروڼه وپوهېږي چې جهاد فرض عین دی او هېڅ شی باید دوی راونګرځوي ځکه دغه دنیا امتحان ده او یوازې حقیقي مؤمنان لکه صحابه کرام په دغه امتحان کې کامیابیږي.

٣- وروڼه: همدا شان د هغو لویو دیوالونو څخه دي چې د جهاد په لاره کې وهل شوي دي او اکثره د خپلو مجاهدو وروڼو سره همکاري نه کوي او نه په هغه څه فکر کوي چې له مجاهد ورور یې وروسته پاتې کیږي او اکثره وایي چې که فلان د خپلې کورنۍ یا تجارت په غم کې وای نو په خپله کور به ناست وو.

۴- خپله خاوره او ټاټوبی: که ووایو چې دا د نن ورځې له هغه تر ټولو غټو مشکلاتو څخه دی، ځکه نشنلېزم په لر او بر کې د سرطان په څېر خپور شوی دی او هر څوک د خپل هېواد غم اخیستی. نن ورځ اکثره خلکو د هېواد د مصلحت په نوم د دین مصلحت ته شا کړې ده او هر څوک غواړي خپل هیواد امن کړي. که چېرې خبر شي چې قرآنکریم ته اور ورکړل شوی نو په کراره ناست وي او که چېرې یې په هېواد کوم غم راشي نو لر او بر یې په چیغو اخیستی وي، یا که د هېواد مشر یې د چا پر وړاندې د جنګ اعلان وکړي نو دوی په جنګ کې ګډون کوي په داسې حال کې چې پوهېږي چې د دوی جګړه د اسلام له نظره مشروعیت نلري خو د وطن پرستۍ مینې راویستلې وي او یا که کوم هېواد وربانديې یرغل وکړي نو د کفارو د ایستلو له خاطره جګړه کوي او د جهاد آیتونه لولي، خو کله چې کفار د هغوی له هېواد ووځي بیا نو دوی هم په آرام کیني او د مصلحت په لټه شي؛ خو باید چې مؤمنان د الله ﷻ د دین مصلحت په خپل مصلحت مقدم کړي.

۵- هغه دارایي چې تاسې یې لرئ او هغه تجارت چې تاسې یې د نړېدو وېره لرئ: دا یو بل مشکل دی چې خلک یې د الله ﷻ د لارې څخه منعه کړي دي. ځکه هغه کار چې په ثمر رسېدلی وي هېڅوک یې د خوشي کولو زړه نلري او نه غواړي چې په زحمتونو ګټل شوې شتمني پرېږدي څو ونړېږي، لکه څرنګه چې خلک عذرونه وړاندې کوي چې ګواکې زه انجینر یا ډاکټر او یا استاد یم، زما کار هم ماته په جهاد حسابیږي، مګر داسې نه ده؛ جهاد فرض عین دی او هېڅوک نشي کولای چې ووایي: زه ډاکټر یم زه به لمونځ نه کوم. جهاد هم لکه لمونځ فرض عین دی او هر څوک که هر مقام ولري باید چې راووځي او دا لویه فریضه ترسره کړي.

کله چې أنصارو له حضرت نبي کریم ﷺ سره ملتیا او بیعت وکړ، نو دوی به تل په سفر او د جهاد په حالت کې وو او خپلو باغونو یا کروندو ته نه اوزګارېدل، کله چې مکه آزاده شوه نو أنصارو وویل چې الحمدلله مونږ خو خپله برخه کار کړی دی، نور به موږ لاړ شو او خپل کار او باغونو کې به مصروف شو، مګر الله ﷻ دوی ته په ځواب کې دغه آیت نازل کړ چې:

وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوَا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ○

(البقرة: ۱۹۵)

د الله په لار کې (مال) ولګوئ او په خپلو لاسونو خپل ځانونه (په سر او مال سره د جهاد په پرېښودلو) په هلاکت کې مه غورځوئ، د ښېګڼې لاره غوره کړئ چې الله ښېګڼه کوونکي خوښوي.

الله تعالی مؤمنانو ته دا وويل چې باغونو او خپلو کروندو ته ګرځېدل د هلاکت په معنا دي او دا تېول هغه وخت کله چې په أنصارو جهاد فرض کفايه وو، ځکه اسلام عزيز و او د دوی خاوره آزاده وه. أبو ايوب أنصاري رضي الله تعالی عنه به فرمايل چې دا آيت د مونږ په هکله نازل شوی او په واسطه يې مونږ ته وويل شول چې که تاسې خپلو کروندو کې مصروف شئ په اصل کې تاسې په خپل لاس ځان په هلاکت کې غورځوئ! نو د نن مؤمنانو حال ته په کوم نظر ګورئ کوم چې په نني حالت کې په خپلو تجارتونو او کارونو باندې مصروفه دي؟!

۶- هغه کورونه چې تاسې پرې راضي ياست: د هر چا لپاره د هغه کور د سولې او امن ځای وي، هرڅوک په خپل کور کې ځانګړی ځای، مقام او يو ځانګړی تقسيم اوقات لري چې زړه يې پرې ډاډه وي؛ يو مجاهد چې بيرون جهاد ته ځي نو له زياتو مشکلاتو سره مخ کيږي. د هغه کور، ډوډی، د خوب ځای، د تفريح وخت، تقسيم اوقات او نور هر څه تغيريږي، د مثال په ډول يو عرب چې خپل آرام ژوند پريږدي، د کشمير غرونو ته ځي او د کشميريانو ډوډی خوري نو طبعاً چې دا ورته آسانه نده، همدارنګه د پاکستان يو مجاهد چې عراق يا شام ته ځي او هلته ژوند کوي نو دا آسانه خبره نده، بل مثال حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه د عربو له تودې ځمکې ارمينيا ته د جهاد لپاره تللو چې هلته به معمولاً ځو فوټه واورې شتون درلود. نو له همدې خاطره کله چې حضرت عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کوي چې نارينه مسجد ته ځي، نارينه جهاد ته ځي نو د ښځو جهاد څه شی دی؟ هغه ﷺ ورته وفرمايل د ښځو جهاد حج دی..! ځکه حج هم جهاد ته ورته دی خو د جهاد قرباني تر حج ډېره لويه ده، په حج کې هغه عادتونه او تقسيم اوقات تغيريږي کوم

چې کور کې وي، مثال خوراک، چاپېریال او د خوب ځای تغیرېږي، احرام کې جامې تغیرېږي او د سفر پر وخت د پیسو قرباني ورکوې، نو دا معمولاً سختي او قرباني غواړي. بله ښه بیلګه د تبوک غزا ده کله چې هوا ګرمه ده، میوې رسیدلې دي، روژه ده، نو کله چې غزا ته د تګ خبره وشوه ټول مؤمنان ووتل پرته له دریو مؤمنانو څخه چې بیا یې واقعه مشهوره ده. جهاد قرباني غواړي او هغه مجاهدین چې د خپلو کورنیو څخه په کلونو مسافر وي او په لومړی کرښه کې جنګیږي د هغو لپاره معمولاً دا کار آسانه ندی او صبر ته اړتیا لري؛ د دې ټولو په آخر کې ویلای شو چې د جهاد لپاره تر ټولو مهم څیز صبر دی.

نو کله چې یو مجاهد خپل پورته اته شیان پرېږدي او جهاد ته ځي، هغه په حقیقت کې په خپل نفس او شیطان بری پیدا کړ، د دې بریا سره سره یو بل بری دا دی چې نوم یې د فاسقانو له قطار څخه ووت، ځکه الله ﷻ دپورته آیت په آخر کې فرمایي:

...وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ○(التوبة:٢٤)

او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي.

یعنې که چېرې دغه پورته ډلو د الله ﷻ له لارې څخه راوګرځولاست او د الله ﷻ مینه دربانديې غالبه نشوه نو په حقیقت کې تاسې له فاسقانو څخه یاست، نو څوک چې د پورته ډلو له لاسه ایسار نشي او په عملي توګه جهاد ته راووځي هغه په حقیقت کې له الله ﷻ او د الله له رسول ﷺ او جهاد سره حقیقي مینه لري.

دا یادونه هم باید وکړو چې نن یو زیات شمېر ګروپونه جوړ شوي او خلکو ته وايي چې مونږ تاسې ته د الله ﷻ مینه او د هغه لارې ښایو او یا وايي مونږ د رسول الله ﷺ سره مینه لرو نو دا خلک که هر څومره ترانې او نعتونه او یا د رسول الله ﷺ د یاد مجلسونه جوړوي او دا هر څه د دې لپاره کوي چې ګواکې له رسول الله ﷺ سره مینه لري، خو په حقیقت کې دوی دروغ وايي تر هغه چې عملي جهاد ته راونوځي، ځکه دا دین د خبرو دین نه، بلکې د عمل دین دی .

## د نصر (بري) دوهمه معنا: د شیطان پر وړ اندې کامیابي

د نصر او کامیابۍ دوهمه معنا د شیطان پر وړاندې کامیابي ده هغه شیطان چې له هرې ممکنې طریقې څخه په استفادې غواړي تا د الله تعالی له لارې څخه وګرځوي. یو حدیث چې حضرت ابوهریرة رضي الله عنه روایت کړی دی حضرت نبي کریم ﷺ فرمایلي دي:

إن الشيطان قعد لابن آدم في طريق الإيمان فقال له أتؤمن وتذر دينك ودين آبائك فخالفه فآمن ثم قعد له على طريق الهجرة فقال له أتهاجر وتترك مالك وأهلك فخالفه فهاجر ثم قعد له على طريق الجهاد فقال له أتجاهد فتقتل نفسك فتنكح نساؤك ويقسم مالك فخالفه فجاهد فقتل، فحق على الله أن يدخله الجنة (صحيح البخاري)

شیطان د آدم اولاد ته د ایمان په لاره کې ناست وي او ورته وایي آیا ته ایمان راوړې او د خپلو پلرونو پخوانی دین پریږدې؟ خو دغه شخص یې مخالفت کوي، بیا (شیطان) د هجرت په لاره کې ورته کښیني او ورته وایي آیا ته هجرت کوې او خپل مال او متاع او خپله کورنۍ پریږدې؟ خو دغه شخص یې بیا هم مخالفت کوي، بیا ورته د جهاد په لاره کې کښیني او ورته وایي آیا ته جهاد کوې چې مړ شې او نور خلک دې ښځه نکاح او مال دې تقسیم کړي، نو دغه شخص بیا د شیطان مخالفت کوي او جهاد ته ځي تر دې چې په جهاد کې شهید شي، نو کوم بنده چې دا ټوله لاره ووهله او د شیطان مخالفت یې وکړ، په الله ﷻ یې حق جوړیږي چې دا شخص به جنت ته داخلوي.

## د نصر دريمه معنا: د الله تعالی له لوري هدايت او لارښونه

ځوک چې د الله ﷻ په لاره کې جهاد ته راووځي الله ﷻ ورته هدايت کوي او د نيکي کوونکو په صف کې يې حسابوي او په حقيقت کې دا خپله يو لوی برى دی. لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي:

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ○ (سورة العنكبوت:٦٩)

کوم کسان چې زموږ په خاطر جهاد وکړي، هغو ته به موږ خپلې لارې ور وښايو؛ او په باوري ډول الله د نيکي کوونکو ملګری دی.

نو ځوک چې جهاد کوي هغوی ته له يوې خوا الله ﷻ لارښوونه او هدايت کوي او له بل طرف څخه د محسنينو له قطار څخه حسابيږي، هغه قطار چې د الله ﷻ پر وړاندې خاص مقام لري، نو تر دغه لويه ځانګړتيا، مقام او اجر يا لوړينه چيرته ده؟! ځکه ټول مسلمانان د الله ﷻ د هدايت په لټه کې دي او هره ورځ په پنځه وخته لمانځه کې له الله ﷻ څخه د هدايت سوال کوي، [ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ] يعني ای الله ﷻ موږ ته سمه لاره وښيه او بل طرف الله ﷻ په پورته آيت کې فرمايي چې زه به تاسې ته هدايت وکړم او تاسې به د نيکي کوونکو په قطار کې حساب کړم، خو که چېرې تاسې زما په لار کې جهاد وکړئ...!

که چيرې اسلامي امت په حقيقي معنا جهاد شروع کړي الله ﷻ به لارښوونه ورته وکړي او کاميابه به يې کړي، ځکه دا د الله ﷻ وعده ده.

## د نصر څلورمه معنا: د الله تعالی له لارې څخه د منع کوونکو پر وړاندې بری

د هغه چا په وړاندې برى چې غواړي په هره ممکنې طريقې سره تا د الله ﷻ له لارې څخه راوګرځوي او ستا د راګرځولو لپاره هغوی پروګرامونه جوړوي، تاته پيغامونه ليږي، ستا لاره بدناموي او حتا د نصوصو په تحريف سره غواړي تا بند او په کور کښنوي. د دوی په باره کې الله تعالی فرمايي:

لَوْ خَرَجُوا فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ○(سورة التوبة: ۴۷)

که هغوی ستاسې سره وتلي وای، نو په تاسې کې به يې له تخريب څخه پرته نور څه نه وای زيات کړي. هغوی به ستاسې په منځ کې د فتنې اچولو لپاره منډې ترړې کړې وای او ستاسي د ډلې حالت دا دی چې تر اوسه پورې پکې ډېر داسې خلك شته چې د هغوی خبرې (ستاسې د ضرر لپاره) اوري؛ الله دا ظالمان ښه پېژني.

مطلب اکثره به داسې خلک پيدا شي چې ځانونه به شيخان معرفي کوي او خلکو ته به دا فتواوې ورکوي چې ګواکې ستاسې جهاد او مبارزه حقه نده، په مؤمنانو حتی د رسول الله ﷺ په وخت کې هم ځينې داسې کسان وو، چې دا ډول خلکو ته يې غوږ نيولو. وَفِيكُمْ سَمَّعُونَ لَهُمْ ۗ يعني ستاسې له منځه ځينې همدغه نفرت خپرونکو کسانو ته غوږ نيسي. خو ولې مؤمنان دوی ته غوږ نيسي؟ ځکه چې دوی (دغه خلک چې د مؤمنانو په ضرر خبرې کوي) يا د قوم مشران وي او يا نوموتي او خوله ور مبلغين او پوهان وي او همدغه پوهان نور خلک د الله ﷻ په لار کې له جهاد څخه منعه کوي، همدا خلک منافقان دي. دلته ويلائ شو چې څوک هم چې يو مؤمن د الله ﷻ لارې څخه منعه کړي په حقيقت کې هغه منافق دی او هغه که په هره قواره کې وي او يا هر منصب ولري. پس هغه کس چې د دغه خلکو تر تاثير او خبرو لاندې رانشي په حقيقت کې هغه کاميابه شو او بری يې وموند.

دا ډول منافق مشران او پوهان د نن ورځې يو له غټو مشکلاتو څخه دي، ځکه د دې پرځای چې خلک جهاد ته تشويق کړي، دوی يې له جهاد څخه منعه کوي. حتی لوی لوی تنظيمونه جوړ شوي او د دې پرځای چې خلک د کفر پر وړاندې متحد کړي دوی يې له کفر څخه ويروي او له مقابلې څخه يې راګرځوي.

د قرآنکریم له پورته آیت څخه ښکاري چې دوی غټه فتنه ده، نو ځکه الله ﷻ مؤمنانو ته د دوی احوال ورکړی دی او واقیعت هم همداسې وو، صحابه کرامو له دې خاطره دوی ته غوږ نه نیولو چې ګواکې د هغوی ایمانونه ضعیف وو، بلکې دغه منافقین د قوم مشران وو او هر ځای به یې خبرې کولې نو ځکه به ځینو مجلسونو کې صحابه کرام هم ورته ناست وو. دوی هماغه خلک دي چې د تبوک له غزا څخه یې خلک د زیاتې ګرمۍ له امله ایسارول، الله ﷻ په دې هکله فرمایي:

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَا تَنفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ○(سورة التوبة:۸۱)

کومو خلکو ته چې د بېرته پاته کېدو رُخصت ورکړ شوی و، هغوی د الله له پیغمبر سره د ملګرتیا په نه کولو او په کور کې پر کښیناستلو خوشحاله شول او دا یې خوښه نشوه چې د الله په لاره کې په سر او مال سره جهاد وکړي. هغوی خلکو ته وویل: "په دې سخته ګرمۍ کې (جهاد ته) مه وځئ." ؛ دوی ته ووایه چې د دوزخ اور له دې څخه زیات ګرم دی، کاشکي دوی په دې پوهېدلای.

دا فتنه د کفارو لپاره ډېر لوی خدمت کوي، هغه کار چې کفار او استخباراتي ادارې یې په زیاتو مصارفو نشي کولای دوی یې مفت سرته رسوي او مؤمنان له کفارو له مقابل څخه راګرځوي. نو یو څوک چې له خپل نفس، شیطان او دغه ډول منافقینو څخه ځان وساتي او په هغوی برې ترلاسه کړي، همدارنګه د الله ﷻ له لوري ورته هدایت وشي او له محسنینو څخه وشمیرل شي همدا د یو بنده لپاره کافي ده او تر دې لویه برخه نشته.

## د نصر پنځمه معنا: د الله تعالی په لاره کې صبر

کله چې یو انسان په هغه سختیو، ستونزو او خبرو باندې صبر کوي کومې چې ورته د جهاد په لاره کې رسیږي دا هم یو لوی برى دى. الله ﷻ په دې هکله فرمايي:

يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَفِي الْءَاخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّلِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَآءُ (سورة ابراهيم: ٢٧)

الله تعالی ایمان راوړونکو ته په دنیا او آخرت دواړو کې د یوې ثابتې وینا پر بنسټ ثبات په برخه کویاو الله ظالمان گمراه کوي، د الله واك دى چې څه غواړي، کوي یې.

پخوا د صحابه کرامو په زمانه کې داسې وو چې یو څوک به مجاهد شو هغه به د قهرمان په نوم یادېده، د خپل کور، مېرمنې او والدینو لخوا به تشویق کېده څو جهاد ته لاړ شي او وجنگیږي، په دې هکله د یوه أنصاري صحابي واقعه زیاته مشهوره ده، هغه چې له خپل زوی سره یې پدې شخړه وه چې باید یو تن پاتې شي او یو تن جهاد ته لاړ شي؛ پلار به ویل چې زه ځم او زوی به ویل چې زه ځم تر دې چې د دغه شخړې د حل لپاره رسول الله ﷺ ته لاړل.

خو متأسفانه نن ورځ د هغې خلاف کار روان دی. نن ورځ دولتونه، کورنۍ، والدین، د مسجدونو ځینې امامان، استخباراتي ادارې او هر څه دا هڅه کوي څو تا د الله ﷻ په لار کې له جهاد کولو څخه راوګرځوي، نو د دومره مشکلاتو با وجود که څوک د الله ﷻ په لار کې جهاد ته وځي، هغه په حقیقت کې یو لوی بري ته رسیږي. الله تعالی په پورته آیت کې فرمايي چې زه به مؤمنانو ته په دنیا او آخرت کې په ثابت قول باندې ثبات ورکړم او یقیناً چې د الله ﷻ له طرفه ثبات لویه خبره ده، که مونږ وګورو یو زیات شمېر خلک به پیدا کړو چې د جګړې په میدان کې الله ﷻ برى او ثبات ورکړي خو کله چې د جګړې له میدان څخه راوګرځي نو د خپل نفس او شهوت غلام شي.

په ډېرو ځايونو کې خو داسې شوي چې پخواني مجاهدين خپل جهاد د دې لپاره استعمالوي څو ورباندې زيات دنيوي امتياز لاسته راوړي، دوی خپل جهاد استعمالوي څو ورته ښه موټر، بنګله او يا ښه وظيفه ورکړل شي او دا هر څه له دې امله کيږي، ځکه چې الله ﷻ دوی ته په دنيا کې په قول ثابت د ثبات توفيق نه وي ورکړی.

حضرت نبي کريم ﷺ چې کله خپل دعوت ښکاره کړ او اسلام يې خلکو ته وړاندې کړ، نو اسلام خو له خلکو څخه غوښتل چې شخصيت پرستي، دنيا پرستي او د غلطو خدايانو عبادت پريږدي او د يو الله ﷻ عبادت وکړي. کله چې دعوت ښکاره شو، د کفارو يو شمېر ډلو خپلې ګټې په خطر کې وليدلې او په هره ممکنه طريقه يې هڅه کوله څو د اسلامي دعوت مخه ونيسي. د مکې مشرکين نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغلل او له منځه يې يو مشر وويل: که تا دغه دين له دې خاطره راوړی وي چې ستا پاچاهي خوښيږي او پاچاهي غواړې نو مونږ به تا خپل پاچا انتخاب کړو، که تا دغه دين له دې امله راوړی وي چې ستا مال خوښيږي نو مونږ به تاته چنده کړو او تا ته به دومره مال ټول کړو چې تر مونږ ټولو به مالداره وې، که له دغه دين څخه ستا مطلب دا وي چې ته د مينې په پيدا کولو کې پاتې راغلی يې، نو مونږ به تاته د عربو لس ښکلې ښځې واده کړو؛ خو ته دغه دعوت پريږده..!

مګر حضرت نبي کريم ﷺ دا هر څه رد کړل او دوی ته يې دا آيت شريف ولوست په کوم کې چې الله ﷻ فرمايلي دي:

فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ○(سورة فصلت: ١٣)

اوس که دوی مخ اړوي، نو ورته ووايه: "زه تاسې له هغسې يو ناڅاپي رالوېدونکي عذاب څخه وېروم، لکه چې پر عاديانو او ثموديانو باندې نازل شوی و".

د دې آيت په اورېدو د مشرکينو دغه مشر د رسول الله ﷺ په خوله لاس کېښود او ورته یې وویل چې زمونږ او ستاسې د خپلوی په خاطر هيله کوم چې ته دا ډول خبرې مکوه. ځکه مشرکينو ته معلومه وه چې رسول الله ﷺ دروغ نه وایي او له دعوت څخه یې وېرېدل.

دا داسې شرايط وو چې پرته د الله ﷻ له رسول څخه که نور هر څوک وای قبلول به يې، خو رسول الله ﷺ دا هر څه قبول نکړل ځکه دا ټول شيان د الله ﷻ د نعمتونو او جنتونو پر وړاندې ډېر کم دي، نو که چېرې څوک واقعاً د رسول الله ﷻ لاره تعقيبوي هغه دې وپوهيږي چې حتماً به کفار ورته دا ډول شرايط وړاندې کوي، که یې قبول نکړي نو کورنی، مال او متاع به ترې اخلي او له نوموړي سره به جګړه کوي، خو که څوک غواړي چې د رسول الله ﷺ لاروی پاتې شي هغه باید چې د دغه هر څه پروا ونکړي. نن ورځ ځينې اسلامي هېوادونه هم دغه کار کوي ځکه دوی پوهيږي چې څنګه مجاهدين له خپلې لارې څخه بې لارې کړي او تر يوه حده په دغه کار کې کامياب شوي هم دي، خو د دوی دا برى پدې معنا ندی چې ګواکې دوی به جهاد ختم کړي، ځکه مونږ په اوله برخه کې دا يادونه وکړه چې د الله ﷻ په لاره کې به يوه ډله مؤمنان د قيامت تر ورځې جهاد کوي، نه به د عادل عدل دوی راوګرځوي او نه به د ظالم ظلم..

## د نصر (بري) شپږمه معنا: د ځان او مال د قربانولو بری

کله چې يو مجاهد خپل ځان، مال او متاع د رب لپاره وقف کوي او د الله ﷻ په لاره کې راوځي، دا يو بری دی، يا په پل عبارت د الله ﷻ د دين لپاره قرباني يو لوی او يو حقيقي بری دی، ځکه الله تعالی د احد له غزا څخه وروسته مؤمنانو ته وفرمايل:

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ○(سورة آل عمران: ۱۳۹)

بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه، همدا تاسې بریمن یاست، که تاسې ریښتیني مؤمنان واوسئ.

پورته آیت په داسې حال کې نازل شو چې تقریباً ۷۰ تنه معظم صحابه کرام شهیدان شوي وو، رسول الله ﷺ زخمي وو او مؤمنان په یو خراب حالت کې وو، خو بیا هم الله ﷻ دوی ته وایي چې تاسې کامیابه یاست او تاسې باید ناهیلي نشئ! نو د الله ﷻ دا خبره څه معنا؟

مطلب کله چې یو څوک د مال او شمیر له لحاضه ډیر کم وي او لا هم غواړي د خپل دښمن پر وړاندې وجنګیږي، دا په خپله یو بری دی..! نو که چېرې نن ورځ ستا حال هم دغه ډول دی، مطلب غواړې چې د خپل لوی دښمن پر وړاندې چې په هر میدان کې پرتا زور دی وجنګېږې، په حقیقت کې ته وار د مخه یو لوی بري ته رسېدلی یې. که چېرې نن نړی ته وکتل شي یو کوچنی ګروپ مجاهدین ( د مثال په توګه د القاعدې یا حماس مجاهدین ) د ټولې نړی په مخ کې ولاړ دي، د دوی دښمن له دوی څخه ښه وسایل، ټکنالوژي او اسلحې لري، خو بیا هم دغه مجاهدین ورسره زور وهي، دا په حقیقت کې د دغه مجاهدینو لپاره بری دی، ځکه په دغه شرایطو کې دوی د الله ﷻ لپاره ډېره لویه قرباني ورکوي. دوی بریمن دي اګر که دوی شهیدان شي او یا د جګړې په میدان کې بریا ترلاسه نکړي، ځکه تاریخ هغه څوک یادوي چې د الله ﷻ په دین یې غیرت کړی وي، نه هغه خلک چې د الله ﷻ په دین د ډار یا معاملې له امله غیرت نشي کولای.

نو څوک چې په اوسني حالت کې دا قرباني ورکوي هغه په حقیقت کې په دوو ګروپونو بری پیدا کوي:

۱-هغه خلک چې د مسلمانانو له جملې څخه ځان شمیري خو بدعتیان دي او غواړي د ځان او نورو مسلمانانو لپاره عذرونه جوړ کړي او هغوی د الله ﷻ له دین څخه راوګرځوي.

۲- هغه خلک چې ظالمان او کفار دي او غواړي په هره طريقه مسلمان له دين او جهاد څخه وګرځوي، لکه فرعون چې غوښتل د هغه جادوګرانو لاسونه او پښې قطع کړي کوم چې نوي مسلمان شوي وو ترڅو له دين څخه یې واړوي، خو هغوی ورته په ځواب کې وويل:

قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ○

(سورةطه:۷۲)

کوډګرو ځواب ورکړ: "په هغه ذات قسم دی چې موږ يې پيدا کړي يو، دا هېڅکله نشي کېدای چې موږ د روښانه نښانو له راتګ څخه وروسته هم (په رښتينولۍ باندې) تاته ترجيح درکړو، ستا چې څه خوښه وي، هغه وکړه؛ ته خو يوازې د همدې دنيا د ژوند فيصله کولای شې.

نو چا وګټله؟ که څه هم هلته خو ظاهراً فرعون برلاسی و، خو کله چې مونږ دا آيت لولو نو معلوميږي چې چا ګټلې ده. دلته د حضرت خبيب رضي الله تعالی عنه واقعه هم د يادونې وړ ده، کله چې کفارو په چل او فريب سره خبيب رضي الله تعالی عنه ونيولو او هغه يې د مکې مشرکينو ته وسپارلو، د مکې مشرکينو هغه د دار په تخته پورته کړ او د اعدام کولو څخه څو لحظې وړاندې يې ورته وويل چې آيا ته خوښوې چې ستا پرځای محمد دلته ولاړ وای؟ حضرت خبيب رضي الله عنه وفرمايل: نه، قسم په رب چې دا خو لويه خبره، زه دا نه خوښوم چې د حضرت نبي ﷺ په پښه کې اغزی لاړ شي.

دا د صحابه کرامو حال و، چې د خپل دښمن پر وړاندې يې مقاومت وکړ او دا واقعه د صحابه کرامو ايمان ښايي، ځکه کفارو ترې وپوښتل چې ته خو د هغه محمد لپاره وژل کيږې کوم چې اوس په مدينه کې د خپلې کورنۍ ترڅنګ ناست دی، نو آيا ته خوښوې چې ته په خپل کور کې وای او محمد دلته ستا پر ځای ولاړ وای او خبيب رضي الله عنه ورته وايي چې نه؛ زه به خپل ژوند ځار کړم که چېرې زما په قربانۍ د رسول الله ﷺ پښه له اغزي څخه بچ کيږي.

نن ورځ مونږ وينو چې مجاهدين د رسول الله صلی الله عليه و سلم سره، د الله جل جلاله او د امت سره څومره مينه لري، تر دې چې د اسلام د دفاع لپاره مرګ ته تيار دي، بله خوا ځينې نور بيا ګډېږي او سندرې وايي، په آرامو محلونو کې ايرکنډېشن ته ناست وي او د رسول االله صلی الله عليه و سلم سره د مينې ادعا کوي. نو څنګه به قبوله کړو چې دوی د رسول الله صلی الله عليه و سلم سره مينه لري په داسې حال کې چې دوی وينې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سپکاوی کيږي د الله تعالی کتاب ته اور اچول کيږي، قرآنکريم په بيت الخلاء کې غورځول کيږي، مګر دوی بيا هم تيار نه دي چې خپلې اسلحې را واخلي او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد ته راووځي.

نو جهاد دی چې حقيقي ايمان او نفاق سره جلا کوي، مونږ وينو چې په مکه کې نفاق نه و، خو په مدينه کې پيدا شو ځکه چې په مدينه کې جهاد شروع شو. حقيقي مؤمنان همېشه د اصحاب اخدود (د کندې د خاوندانو په څېر) قرباني ورکوي، د اصحاب أخدود قصه په قرآنکريم کې د مشهورو قصو څخه ده؛ په کومه چې د هغو خلکو يادونه شوې چې د اسلام دين يې قبول کړی وو، د هماغه وخت يو جابر او ظالم پاچا غوښتل چې دوی بېرته له ايمان څخه واړوي خو دغه مؤمنانو ورسره قبوله نکړه. بالآخره پاچا دوی ته دوه انتخابه ورکړل چې يا خو له دغه دين څخه وګرځئ او يا مرګ ته تيار شئ. مؤمنانو مرګ غوره کړ او پاچا د دوی د وژلو لپاره اور بل کړ دوی ته يې وويل څو اور ته ودانګي، په نوبت يو يو د اور په طرف ښکته کېدو او همالته سوځېدو، تر دې چې نوبت يوې مور ته ورسېده چې په غېږه کې يې کوچنی ماشوم ورسره وو، هغه زړه نا زړه وه او د خپل کوچني له لاسه يې نشو کولای چې اور ته وغورځي، دلته کوچني ماشوم په معجزه واره توګه خبرې شروع کړې لکه څرنګه چې په صحيح مسلم کې راغلي دي او خپلې مور ته يې وويل چې مه وېرېږه ته په حقه يې او اور ته ودانګه. دا هماغه خلک وو، چې د آخرت د اور په بدل کې يې د دنيا اور غوره کړ، که څه هم چې په ظاهره پاچا کامياب شو او دوی يې ناکام کړل ځکه دوی ټول وسوځېدل خو په

حقیقت کې لوی برى د همدې مؤمنانو په برخه شو؛ او د دوى دا برى الله ﷻ د البروج په سورت کې په لوی بري سره نوموﻟﯽ دی. [ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ (سورة البروج)]

## د نصر (بري) اوومه معنا: د نظريې او فكر برى

دا بريا عبارت ده د نظريې او فکر له بري څخه؛ کله چې ته د خپلې نظريې لپاره د قرباني ملا وتړې نو ستا نظريه کاميابيږي، لکه الله تعالى چې د حضرت ابراهيم عليه السلام په هکله فرمايي:

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ○

(سورة الانعام: ۸۳)

دا زموږ هغه دليل و چې ابراهيم عليه السلام ته مو د هغه د قوم په مقابل کې ورکړ، موږ چې چا ته وغواړو لوړې درجې ور په برخه کوو، حق دا دی چې ستا رب ډېر حکيم او د علم څښتن دی.

دلته هغه دليل مطلب دی کوم چې الله ﷻ حضرت ابراهيم عليه السلام ته ورکړی و او همدغه دليل او د نظريې لوړوالی په اصل کې د بري په نوم ياد شوی دی. همدارنګه الله ﷻ هغه وخت هم ابراهيم عليه السلام ته د نمرود په مقابل کې برى ورکړ، کوم وخت چې يې له هغه سره مناقشه کوله، الله تعالى په دې هکله فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِيمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ○(سورة البقرة: ۲۵۸)

آيا تا د هغه چا (نمرود) په حال غور نه دی کړی چې هغه له ابراهيم عليه السلام سره يې جګړه کړې وه؟ پدې خبره جګړه چې د ابراهيم رب څوك دی او له دې امله چې هغه ته الله حکومت ورکړی و. کله چې ابراهيم وويل" زما رب هغه ذات دی چې د ژوند او مرګ واکمن دی." نو دغه (نمرود)

په ځواب کې وویل: " ژوند او مرګ زما په واک کې دي." ابراهیم علیه السلام وویل: " ښه نو، الله لمر له ختیځ څخه راخېژوي، ته هغه له لوېدیځ څخه راوخېژوه". ددې په اورېدو د حق هغه منکر هك پك حېران پاتې شو، الله ظالمانو ته سمه لاره نه ښايي.

د خپلې مفکورې او عقېدې لپاره د قربانی یوه بله مشهوره قصه د أصحاب الأخدود د یو ځوان ده او هغه په دې ډول چې: (ذو نواس د یمن یو پاچا و، چې یهودي مذهب یې غوره کړی و. هغه یو شریر جادوګر درلود چې په هر ځای کې به له هغه سره ملګری و او له پاچا سره یې په ظلم، شر او ځان غځولو کې مرسته کوله. د ذو نواس غرور دومره زیات شو چې هغه خپل ځان د الله ﷻ پر ځای "رب" وباله، یعني د ربوبیت دعوه یې وکړه. د وخت په تېرېدو سره، جادوګر زوړ شو، هغه له پاچا څخه د یو ځوان غوښتنه وکړه څو هغه ته جادو ور زده کړي چې که زوړ جادوګر مړ شي نو هغه ځوان به دغه دنده په غاړه واخلي. پاچا ذو نواس هغه ته یو ځوان شاګرد ورکړ جادوګر د ځوان په وجود خوښ شو ځکه چې ځوان ډېر هوښیار او ذکي وو او د جادوګر هر خبره یې په پام سره اورېده. یوه ورځ، ځوان د جادوګر په لور روان و، په لاره کې یې یو راهب ولید، ځوان له راهب سره کېناست او له هغه سره یې خبرې وکړې. د ځوان د نصراني راهب خبرې خوښې شوې او له هغه څخه یې د ورځني مجلس اجازه وغوښته. ځوان هره ورځ د راهب مجلسونو ته حاضرېده، له جادوګر څخه یې هم زده کړه کوله، خو د هغه زړه او ذهن د راهب په خبرو او علم باندې ډېر باور او عقیده درلوده ځکه چې د راهب خبرې سمې او د حقیقت پر بنسټ وې.

یوه ورځ، یو عجیب او غریب حیوان د خلکو لاره بنده کړه او هېڅ نشو کولای چې هغه له لارې لرې کړي، ځوان په خپل زړه کې وویل: "نن به پوه شم چې د راهب کار د الله ﷻ په وړاندې غوره دی که د جادوګر؟" هغه یوه ډبره واخیسته او دعا یې وکړه چې: " الهي، که د راهب کار

ستا په وړاندې د جادوګر له کار څخه غوره دی، نو دا حیوان ووژنه." ځوان ډبره وغورځوله او حیوان ووژل شو. په دې سره ځوان پوه او نور هم باوري شو چې راهب پر حقه دی؛ هغه په چټکۍ سره راهب ته ورغی او کیسه یې ورته وکړه، راهب ورته وویل: "زویه! وروسته له دې به الله ﷻ تا لوی سړی کړي او تا به له سختو امتحانونو سره مخ کړي الله ﷻ به تا ثابت وساتي". له دې وروسته، ځوان د الله ﷻ په اجازې ناروغ خلک روغول او هغوی ته یې په الله ﷻ د ایمان بلنه ورکوله، خلکو به د هغه خبرې اورېدلې او په الله ﷻ به یې ایمان راوړلو. د وخت په تېرېدو سره، د ایمان راوړونکو خلکو شمېر زیات شو.

یوه ورځ د پاچا وزیر هم ناروغ شو او ځوان ته راغی، ځوان هغه دم کړ د الله ﷻ په اجازې سره وزیر روغ شو، نو ځوان ورته وویل چې په الله ﷻ ایمان راوړې، وزیر هم ایمان راووړ؛ کله چې وزیر د پاچا دربار ته ستون شو، پاچا ترې وپوښتل: "څنګه روغ شوې؟" وزیر ورته وویل: "الله ﷻ روغ کړم." کافر پاچا ډېر غوسه شو ځکه چې هغه د الله ﷻ پر ځای خپل ځان (رب) باله. هغه عسکرو ته امر وکړ څو په زور وزیر اړ کړي چې د ځوان په اړه څه ووايي. عسکرو وزیر اړ کړ چې د ځوان او راهب په اړه هر څه ووايي. عسکرو راهب ونیو او هغه یې ووژلو، وزیر هم د ایمان په حال کې ووژل شو؛ نوبت ځوان ته ورسېد، پاچا حکم وکړ چې ځوان د غره لوړې نقطې ته پورته کړي او هغه ته دوه انتخابونه ورکړي چې: یا خو پر الله ﷻ کافر شي او که نه کېده نو دې د غره له سر څخه دې غوځار شي ..

ځوان رب ته دعا وکړه چې : "الهي، د دوی شر په هر ډول چې غواړې، له ما څخه لرې کړه." ناڅاپه غر وښوییده او د پاچا ټول عسکر مړه شول، خو ځوان ژوندی پاتې شو. ځوان بېرته پاچا ته راغی او ورته وویل: "زما رب ستا او ستا د عسکرو شر له ما څخه لرې کړ." پاچا ډېر غوسه شو او حکم یې وکړ چې ځوان په سمندر کې وغورځوئ ترڅو بېرته راونګرځي. عسکرو ځوان په سمندر کې وغورځاوه، خو ځوان بیا هم خپل رب ته دعا وکړه او الله ﷻ هغه وژغوره. عسکر ټول ګرځېدل خو ځوان ژوندی پاتې شو. ځوان بېرته پاچا ته راغی او ورته وویل: "زما رب بیا هم ستا شر له ما څخه لرې کړ. ته ما نشې وژلی مګر یوازې په دې شرط

چې هغه څه وکړې کوم چې زه درته ووايم. پاچا وپوښتل: "څه شی؟" ځوان ورته وويل: "خلک راټول کړه، بيا ما په يوه ونه باندې وتړه، بيا زما له غشو څخه يو غشی راواخله او ووايه: ' بسم الله، د ځوان د رب په نامه.' په دې توګه به زه ووژل شم، نو پاچا دا کار وکړ، خلک راټول شول او ځوان يې په ونې باندې وتړلو. پاچا غشی راواخيست او پرته له بسم الله يې پرې ځوان وويشت، خو ځوان مړ نشو، پاچا بيا بيا ځلې هڅه وکړه، خو ناکام شو. ځوان ورته وويل: "ته ما تر هغه نشې وژلی تر څو چې ' بسم الله، د ځوان د رب په نامه' ونه وايې". پاچا ډير غوسه شو او ويې ويل: "بسم الله، د ځوان د رب په نامه." او ځوان يې په غشي وويشت ځوان شهيد شو. په دې وخت کې خلکو وويل: "مونږ د ځوان په رب ايمان راوړو".

پاچا ډير غوسه شو او حکم يې وکړ چې ژور ځايونه وکيندل شي او اور پکې بل شي او هر چا چې په الله ﷻ ايمان درلود، په اور کې دې وغورځول شي. مګر مؤمنانو ثبات وښود او د ايمان په لاره کې يې خپل ژوندونه وقف کړل. حتی يوه مور چې يو ماشوم يې په غيږ کې و، زړه نا زړه وه نو ماشوم په تعجب آوره شکل ورته وويل: "ای مورې! صبر وکړه، ته پر حقه يې". تر دې چې مور او ماشوم دواړه شهيدان شول.)[٦]

دا د هغه چا قصه وه چې دخپلې نظريې لپاره يې خپل ځان قربان کړ او د خپل ځان په قربانۍ يې نورو خلکو ته لار رڼا کړه، په نن وخت کې د دغه ډول قربانيو مثال سيد قطب، عبدالله عزام او يا شيخ يوسف العييري راوړلای شو، دوی هغه څوک وو چې د خپلو ځانونه په قربانۍ يې خپلې نظريې کامیابه کړې او الله رب العزت د دوی خبرو ته له دوی وروسته هم ژوند ورکړی دی.

همدا شان د کاميابې ډلې يا طائفه منصوره په اړه حديث راغلی دی، چې أبي أمامة رضي الله عنه روايت کړی دی او پکې نبي کريم ﷺ فرمايي:

---

[٦] د ژباړن لخوا

لا تزال طائفة من أمتي على الدين ظاهرين لعدوهم قاهرين لا يضرهم من خالفهم إلا ما أصابهم من لأواء حتى يأتيهم أمر الله وهم كذلك (رواه احمد)

زما له امت څخه به يوه ډله د همېشه لپاره په حق باندې ولاړه وي، دوی ته به هغه څوک هېڅ ضرر ونشي رسولای کوم چې غواړي ضرر ورته ورسوي، تر دې چې د الله ﷻ فيصله وشي او دوی به همدا ډول وي.

دا حديث خپله دا معنا ورکوي چې يوه ډله به تل د خپل حق فکر په واسطه خلکو ته دعوت ورکوي؛ هېڅوک به دوی نشي بندولای، د دوی حق فکر او دعوت به نسل په نسل سرايت کوي.

## د بري اتمه معنا: دا چې الله تعالی خپل دښمن په خپله هلاک کړي

دا بری هغه وخت واقع کيږي کله چې مجاهدين جهاد وکړي، خپلې ټولې هڅې وکړي خو مجاهدين د ځينو مشکلاتو او يا د وسايلو او اشخاصو د کموالي له وجې د خپل دښمن له وهلو او د هغوی د ماتولو څخه عاجزه شي، نو الله تعالی ورباندې خپله له خپل قدرت څخه لښکر ليږي او خپل دښمن هلاکوي. الله ﷻ فرمايي:

كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ ○

(سورة البقرة:۲۴۹)

ډېر کله د الله په اجازه يو کوچنی ټولی په يو لوی ټولي باندې غلبه ( بری ) حاصلوي.

همداشان که وګورو الله ﷻ کولای شوای خپل دښمن يعني فرعون هلاک کړي، الله ﷻ کولای شول چې فرعون د موسی عليه السلام څخه تر مخه او يا د موسی عليه السلام د دعوت په لومړي سر کې هلاک کړي، خو تر هغه يې هلاک نکړ، تر دې چې کله حضرت موسی عليه السلام د هغه په مقابل کې جهاد وکړ، کله چې فرعون د موسی عليه السلام له هڅو خبر شو نو پسې راووتلو او غوښتل يې د الله ﷻ دغه نور ووژني او دا چې موسی عليه

السلام او د هغه ډله د فرعون په مقابل کې کمزورې وه، نو چې میدان ته شول الله ﷻ په غیبي نصرت سره فرعون هلاک کړ، دا هر څه د موسی علیه السلام د جهاد له امله وو. الله تعالی په دې هکله فرمايي:

فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ۝(سورة الشعراء: ٦٣)

موږ موسی علیه السلام ته د وحیې په وسیله حکم وکړ چې: "سمندر په خپله لکړه ووهه!. نو په ناڅاپي ډول سمندر وچاودېده او د هغه هره ټوټه د یو لوی غره په څېر شوه.

همدارنګه په اوسني وخت کې د شوروي اتحاد ناکامي د بري او نصر یو څرګند مثال دی، هغه شوروي چې په خپل وخت کې ترې لوی قدرت او نظامي طاقت نه وو، یعني د الله ﷻ دښمنان چې د هر څه څخه پوره او مسلح و، الله تعالی د هغه چا په لاس مات کړل چې له خپل دښمن څخه ډېر ضعیفه وو. کفارو ته دا ماته الله ﷻ ورکړه ځکه چې شوروي د الله ﷻ او د هغه د رسول او د الله ﷻ د اولیاوو پر خلاف د جګړې اعلان کړی و، مجاهدینو هم خپل وس وکړ او په پایله کې لوی شوروي په کوچنیو ټوټو تقسیم او مات شو. څوک دي چې د الله ﷻ د اولیاوو پر ضد جګړه وګټي؟! کله چې الله تعالی په یوه قدسي حدیث کې فرمايي :

من آذى لي ولياً فقد آذنته بالحرب (رواه البخاري)

څوک چې زما یو دوست ته ضرر ورسوي، نو زه ورسره د جګړې اعلان کوم.

د شوروي د ماتې عامل نه داخلي اختلافات وو نه بل کوم مشکل، بلکې یوازینی د ماتې دلیل یې د مؤمنانو پر خلاف د جګړې اعلان وو، چې وروسته الله ﷻ د همدغه مؤمنانو په لاس مات او ټوټې ټوټې کړ.

**د نصر نهمه معنا: د کفارو د بې وسه کولو او په کفر کې د هغوی د وژلو برې**

يعنې هغوی چې مسلمان ندي د الله ﷻ له اولیاء کرامو او مجاهدینو سره د جګړې له خاطره په خپل کفر کې لا ژور غرقیږي او له منځه ځي، دوی د خپلې ناپوهۍ او له مجاهدینو سره د جګړې له خاطره له هدایت څخه دومره لیرې کیږي چې نور ورته د هدایت هېڅ امید نه وي او کله چې د الله ﷻ او مؤمنانو دا ډول دښمنان له منځه ځي، دا د الله ﷻ د دښمنانو پر وړاندې یو ستر بری دی، دا هغه خلک دي چې حضرت موسی او حضرت هارون علیهما السلام به ورته پدې ډول ښېراوې کولې:

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةً وَأَمْوَٰلًا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّوا۟ عَن سَبِيلِكَ ۖ رَبَّنَا ٱطْمِسْ عَلَىٰٓ أَمْوَٰلِهِمْ وَٱشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا۟ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ○

(سورة یونس:۸۸)

موسی علیه السلام دُعا وکړه: "اې زموږ ربه! تا پر فرعون او د هغه پر سردارانو باندې د دُنیا په ژوند کښې ښکلا او مالونه لورولي دي. اې ربه! آیا دا د دې لپاره دي چې هغوی، خلك ستا له لارې څخه بې لارې کړي؟ اې ربه، د هغو مالونه تالا والا کړه او د هغوی پر زړونو مُهر ووهه چې ایمان رانه وړي، تر څو پورې یې چې دردناک عذاب نه وي کتلی".

څو الله تعالی فرعون ته هدایت ونکړي او په کفر کې یې له دنیا واخلي.

له دې آیت څخه دا هم معلومیږي چې د زیاتې دنیا درلودل دا معنا نلري چې ګواکې دغه شخص به الله ﷻ ته ګران وي او نه دا په الله ﷻ د ګرانښت نښه ده، لکه څرنګه چې نن ورځ ځینې کسان خپله ډېره دنیا د خپلې ښې مسلمانۍ نښه بولي. همداشان د موسی علیه السلام له دعا څخه دا ښکاري چې فرعون به خپله دنیا د الله ﷻ د دین خلاف استعمالوله او له همدې خاطره موسی علیه السلام ته قهر ورغی او ورته یې ښېرا وکړه، له دې ښېرا څخه ښکاري چې د الله ﷻ دښمنان په کفر کې د وژل کېدو لپاره هلې ځلې بری او نصر دی. ځکه

پدې سره د ځمکې له مخ څخه شر ورک کیږي، د الله ﷻ نېک بنده ګان ترې امن او زړونه یې پرې خوشحالیږي.

همدارنګه د حضرت نبي کریم ﷺ جهاد باعث شو چې یهود په کفر کې مړه شي، په داسې حال کې چې حضرت نبي کریم ﷺ یې د پیغمبر په حیث داسې پیژندلو لکه څرنګه یې چې خپل اولادونه پیژندل.

## د نصر لسمه معنا: د شهادت حاصلولو برى

دا چې الله تعالی له خپلو بنده ګانو څخه شهیدان اخلي، الله تعالی فرمایي:

...وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَآءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّٰلِمِينَ ○

(سورة آل عمران: ۱۴۰)

... دا د زماني خوږې ترخې دي چې موږ یې د خلکو تر منځ اړوو را اړوو. پر تاسې دا مرحله ځکه راوستل شوه چې الله دا کتنه غوښتله چې په تاسې کې ریښتیني مؤمنان څوك دیاو د هغو خلکو انتخابول یې غوښتل چې په واقعي توګه (د ریښتینولۍ) شاهدان وي؛ ځکه چې ظالمان د الله نه خوښیږي.

شهادت د الله ﷻ له لوري یوه پیرزوینه ده او چاته هم چې دغه پیرزوینه حاصله شي، په حقیقت کې هغه بري ته ورسېده، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي : وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَآءَ یعني الله ﷻ ستاسې څخه شهیدان ټولوي او لدې آیت څخه ښکاري چې شهادت هر چاته نه رسیږي، بلکې دا خاص خلک دي چې الله ﷻ یې د شهیدانو په ډله کې ټولوي. شهید کېدل

افتخار او جنت ته د تللو لپاره د بري لنډه لاره ده او څوک چې په دغه ډله کې انتخاب شي هغه کامياب شو.

ځکه چې شهادت د هر مؤمن افتخار او د وياړ څيز دی، نو که د يوه مجاهد شهادت د کفارو لپاره د ظاهري او لنډ مهالي بري باعث کيږي، بل طرف بيا د همدغه مجاهد لپاره هم برى دی، ځکه کفار باعث کيږي چې دغه مجاهد جنت ته لاړ شي، نو دا چې زمونږ دښمنان باعث کيږي څو مونږ جنت ته لاړ شو، نو اوس تاسې ووايئ چې د داسې دښمن سره په دښمنۍ کې به څومره خوند وي؟

د شهادت مقام له دې هم معلوميږي چې رسول الله ﷺ به يې په بار بار غوښتنه کوله، په صحيحينو کې له حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې حضرت نبي کريم ﷺ وفرمايل:

والَّذي نَفسِي بيدِه، لوَدِدتُ أنّي أُقتَلُ في سبيلِ الله ثمَّ أُحيَا، ثمَّ أُقتَلُ ثمَّ أُحيَا، ثمَّ أُقتَلُ ثمَّ أُحيَا، ثمَّ أُقتَلُ (أخرجه البخاري)

قسم په هغه ذات چې زما ژوند د هغه په واک کې دی، زه خوښوم چې د الله ﷻ په لار کې ووژل شم بيا ژوندی شم بيا ووژل شم بيا ژوندی شم بيا ووژل شم.

د شهيد د مقام په هکله الله ﷻ فرمايي:

وَلَا تَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللهِ اَمۡوَاتًا بَلۡ اَحۡيَآءٌ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُوۡنَ○(سورة آل عمران:١٦٩)

کوم کسان چې د الله په لار کې وژل شوي دي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقيقت کې ژوندي دي، د خپل رب په وړاندې روزي مومي.

کفار او زمونږ ستاسې دښمنان او له هغوی سره جهاد د دې باعث کيږي چې مونږ د ابدي ژوند او تل پاتې نعمتونو په لور سفر وکړو. همدارنګه يو بل حديث چې په صحيحينو ( بخاري او مسلم ) کې دی راغلي دي چې: حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي: کله

چې زما تره حرام بن ملحان له کفارو سره په جګړه کې ټپي شو، په داسې حال کې چې ځان يې په وينو سور وو ويې ويل: د کعبې په رب قسم چې زه بريمن شوم، زه همدا اوس د جنت بوی احساسوم.

په يوه روايت کې راځي، هغه څوک چې حرام بن ملحان رضي الله عنه يې شهيد کړی و او د نوموړي دا خبرې چې (د کعبې په رب قسم چې زه بريمن شوم، زه همدا اوس د جنت بوی احساسوم.) يې اورېدلې وې، د مسلمانانو خوا ته لاړو او ورته يې وويل چې د هغه څه په باره کې خبر راکړئ چې حرام د ځنکدن په وخت کې ويل، نو صحابه کرامو ورته وويل چې دا شهادت دی او کله چې يو مؤمن شهيد کيږي هغه جنتونه، نعمتونه او حورې ويني او په دې هکله يې نور هم ورته وويل، د دې په اورېدو سره دا کافر هم مسلمان شو.

### د نصر يوولسمه معنا: د ميدان او معرکې بری

د نصر له دې معنا او مفهوم سره هر څوک آشنا دي او ټول خلک يې د اصلي او اساسي بري په څېر پيژني، مګر دا د نصر له ډولونو څخه يو ډول دی. دا ډول نصر او بری رسول الله ﷺ له خپل رحلت څخه وړاندې په وروستيو کلنو کې وليده. هغه چې الله ﷻ يې په اړه فرمايي:

کله چې د الله مرسته راشي او بری (در) په برخه شي؛ او [ ای پيغمبره ﷺ ] ته به ووينې چې ډلې ډلې خلک به د الله په دين کې داخليږي.

إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ○ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ○ (سورة النصر: ١-٢)

دا د بري يا کاميابۍ له ډولونه څخه ځينې وو، چې الله تعالی له مؤمنانو سره د دغه برياوو وعده کړې ده، الله تعالی فرمايي:

إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ○(سورة غافر:٥١)

باور ولرئ چې موږ د خپلو پېغمبرانو او مؤمنانو مرسته هرومرو د دې دُنيا په ژوند کې هم کوو او په هغه ورځ به يې هم وکړو چې کله شاهدان ولاړ وي.

همدارنګه بل ځای الله ﷻ فرمايي:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ○(سُورَةُ الرُّوم:٤٧)

او موږ ستا څخه مخکې پيغمبران د هغو قوم ته ولېږل او هغوی له روښانه نښانو سره ورته راغلل، بيا چې چا جرم وکړ، له هغو څخه مو غچ واخيست او پر موږ دا حق ؤ چې د مؤمنانو سره مرسته وکړو.

نو الله ﷻ له مؤمنانو سره دا وعده کړې ده چې يا به يې په دنيا او يا به يې په آخرت کې کاميابوي او دا بريا په الله ﷻ د مؤمنانو حق دی.

کيدای شي هغه څوک چې د نصر د معنا په پېژندلو کې پاتې راغلی وي، دا سوال وکړي چې پورته خو الله ﷻ وايي چې زه به خپل رسول او مؤمنانو ته بری ورکوم نو دا څنګه نصر دی چې د الله ﷻ رسولان وژل کيږي او يا هېڅوک وربانديې ايمان نه راوړي؟ يعنې لکه په تېرو پاڼو کې مو چې وويل په حديث کې راځي چې د قيامت په ورځ به ځينې پيغمبران داسې راشي چې هېچا به ايمان نه وي پرې راوړی او هېڅ امتي به نلري. نو د پورته مطالبو لوستل د دغه سوال ځواب دی ځکه چې بری يوازې يوه معنا نلري او په حقيقت کې ټول پيغمبران کامياب شوي دي، اګر که هغوی شهيدان شوي وي او يا دا چې هېچا وربانديې ايمان نه وي راوړی.

خو له دې ټولو معناوو سره سره د اسلامي امت اصلي هدف او مقصد د معرکې په ميدان کې بری دی او دغه ډول هدف ته به حتماً رسيږي ځکه چې ډېر شمېر احاديث راغلي او مؤمنانو ته د دا ډول بري زيری ورکوي.

مثال حدیث شریف کې چې حضرت تمیم الداري رضي الله عنه روایت کړی دی رسول الله ﷺ فرمایي:

لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الأَمْرُ مَا بَلَغَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ، وَلَا يَتْرُكُ الله بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ الله هَذَا الدِّينَ، بِعِزِّ عَزِيزٍ أَوْ بِذُلِّ ذَلِيلٍ، عِزًّا يُعِزُّ الله بِهِ الإِسْلَامَ، وَذُلًّا يُذِلُّ الله بِهِ الكُفْرَ (رواه أحمد)

الله تعالی به خامخا دا امر (اسلام) هغه ځای ته رسوي، کوم ته چې شپه او ورځ رسېږي او الله تعالی به نه د لوټې او نه د پشم لرونکی کور داسې پرېنږدي چې دا دین ور داخل نکړي، که د عزت خاوند په عزت وي او د ذلت خاوند په ذلت، الله تعالی به اسلام ته عزت ورکوي او کفر ته به ذلت.

همدارنگه په یو بل حدیث شریف کې چې مسلم له حضرت ثوبان رضي الله تعالی عنه څخه روایت کړی دی راځي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

إن الله زَوَى لي الأرض، فرأيت مشارقها ومغاربها، وإن أمتي سيبلغ ملكُها ما زُوِيَ لي منها
(رواه مسلم)

الله تعالی ماته ځمکه سره را ټوله کړه، نو ما یې مشرق او مغرب ولیدل او زما د امت واکمني به تر هغه ځایه رسیږي، چې ماته را جمعه شوی و.

نو لومړی حدیث د اسلام د بري څخه خبر راکوي او په دوهم حدیث کې د اسلام له واکمنۍ څخه خبریږو، یعني دا چې اسلام به د نړۍ په ګوټ ګوټ حاکم وي او واک به پرې چلوي. په یو بل مشهور حدیث کې چې مسلم له حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت کړی دی راغلي دي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:

لا تقومُ الساعةُ حتى يقاتلَ المسلمون اليهودَ، فيقتلُهم المسلمون، حتى يختبيءَ اليهوديُّ من وراءِ الحجرِ و الشجرِ، فيقولُ

قیامت تر هغه نه راځي تر څو چې مؤمنان له کفارو سره جګړه ونکړي او یهود به د ونې یا ډبرې تر شا پټیږي او بیا به هغه ونه یا

الحجرُ أو الشجرُ : يا مسلمُ يا عبدَ الله هذا يهوديٌّ خلفي، فتعالَ فاقْتلْه. إلا الغَرْقَدَ، فإنه من شجرِ اليهودِ (رواه مسلم)

دېره غږ وکړي چې ای مسلمانه ای د الله بنده! راشه زما تر شاه یهودي پټ دی او ویې وژنه، مګر د غرقد ونه ځکه دا د یهودیانو ونه ده.

همدارنګه هغه احادیث چې د حضرت مهدي په باره کې راغلي دي، څرګندوي چې اسلام به غالبیږي؛ نور هم ډېر احادیث شته چې د هغوی ټولو راوړل په دې ځای کې ممکن ندي. په آخر کې دا ویلی شو چې اسلام به غالب شي خو له دې څخه دا مطلب ندی چې مؤمنان دې کښیني او د فتحې په تمه دې شي، ځکه چې مونږ د اجر او ثواب په لټه کې یو او اجر او ثواب پدې کې دی چې د الله ﷻ د دین لپاره هڅې وکړو او تکلیفونه په ځان یوسو.

دا دین مونږ ته ضرورت نلري، مونږ دغه دین ته ضرورت لرو..!

شپږم ثابت:

## وژل کېدل د مسلمانانو لپاره د ماتې معنا نلري

(هزيمة المسلم ليست بقتله)

د اسلام او کفر ترمنځ جګړه روانه ده، طبيعي خبره ده چې په جګړو کې د هر چا کله فتحه نصيب کيږي او کله ماتې؛ موږ په تېر درس کې د فتحې يوولس معناګانې يادې کړې او هلته مو وويل چې د کافر په لاس د مسلمان وژل کېدل د مسلمان لپاره د ماتې معنا نلري، اوس دلته سوال پيدا کيږي چې نو کوم څيزونه دي چې مسلمانان له هغو سره په مخ کېدو ماتې خوړونکي بلل کېداى شي؟

د دې سوال د ځواب لپاره بايد ووايو چې ځينې داسې کارونه شته، چې که څوک هغه کارونه ترسره کړي ماتې خوړونکى بلل کيږي، اګر که هغه څيزونه به په ظاهره ماتې نه بلل کيږي او دا شيان ډېر ساده دي، ځکه د بشريت ترمنځ جګړې تل د ارزښتونو په خاطر رامنځ ته شوې دي، په خاصه توګه د اسلام او کفر ترمنځ جګړې تل د عقيدې پخاطر وې او د مسلمانانو لپاره تر ټولو ارزښتمن څيز عقيده ده، نو څوک چې له خپلې عقيدې او ارزښتونو څخه شاتګ وکړي، په حقيقت کې هغه ماتې خوړونکى بلل کيږي، اګر که په بدن به روغ ښکاريږي.

همداشان ماتې (هزيمه) نورې معناوې هم لري چې په لاندې توګه يې تشريح کول غواړو:

### ۱- د کفارو او د هغوى د ملګرو پيروي:

دا د ماتې اوله معنا ده په دغه هکله الله تعالى فرمايي:

وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ○(سورة البقرة:۱۲۰)

یهودیان او عیسویان به هیڅکله له تا څخه خوشحاله نشي، تر څو ته د هغو په لاره (دین) لاړ نشې. دوی ته په کلکه ووایه چې سمه لاره یوازې هماغه ده چې الله ښودلې ده. او که ته له هغه علم څخه وروسته چې درکړای شوی دی، د هغو په خواهشاتو پسې لاړ شې، نو ستا هېڅ دوست او مرستندوی نشته چې د الله له نیونې څخه دې وژغوري.

په بل ځای کې الله تعالی فرمايي:

وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَا أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ ○(سورة البقرة: ۱۴۵)

که ته دې اهل کتابو ته هره نښانه راوړې، نشي کېدای چې دوی ستا د قبلې پیروي وکړي او نه ته دا کولای شې چې د هغوی د قبلې پیروي وکړې. او د هغو هیڅ یوه ډله د بلې ډلې د قبلې پیروۍ ته هم تیاره نه ده. او که ته له هغه علم څخه وروسته چې درته راغلی دی، د هغو په غوښتنو پسې لاړ شې، نو هرومرو به په ظالمانو کښې وشمېرل شې.

دلته د ماتې شکل ډېر ساده بیان شوی دی، او هغه عبارت دی له «د دوی په شکل کېدل» په دې آیت کې الله ﷻ په صراحت سره فرمایي چې که څوک د کفارو په شکل شول نو هغوی ظالمان دي او تر دې په مخکې برخه کې فرمایي چې که مو د کفارو پیروي وکړه، بیا د الله ﷻ څخه د مرستې تمه مکوئ! نو کله چې یو مسلمان د یهودو، نصاراوو او یا نورو کفارو پیروي وکړي، په حقیقت کې هغه ماته وخوړه او مهمه نده چې دا پیروي او متابعت په لږ څه کې

وي یا زیات څه کې او دا هم مهمه نده چې کفار دې په دغه پیروی له نوموړي خوشحاله شي او یا نشي. نو څوک چې د کفارو پیروي وکړي او په دغه کار سره لوېې چوکۍ یا منصب او مقام ته ورسیږي، اګر که په ظاهره دا لاسته راوړنه بلل کیږي خو په حقیقت کې نوموړی ناکام دی؛ لکه د انتخاباتو په واسطه که چیرې څوک واکمن شي،نو ظاهراً خو نوموړی د یو هېواد واکمن کیږي، خو دا په اصل کې یوه لویه ناکامي ده چې نوموړی ورسره مخ کیږي، ځکه انتخابات د دیموکراسی یو اصل دی او دیموکراسي د خلکو په واسطه یو جوړ شوی باطل دین بلل کیږي، دلته دا مهمه نده چې ته واک ته ورسیږې بلکې مهمه دا ده چې د الله دین غالب او واکمن وي.

دلته د یهودي کیدو یا نصاراني کېدو څخه مطلب کامل یهودیت او نصرانیت ندی، ځکه په تاریخ کې ډېر کم لیدل کیږي چې چا دې داسې کار کړی وي، مطلب چې ځان دې رسمي اوپه جهر (ښکاره توګه) سره یهودي، یا نصراني او یا هندو اعلان کړي، بلکې که چېرې دا ډول یو شرط کېږدو نو بیا خو منافقین هم د کفارو پیروان نشو بللی؛ دلته د (تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ) څخه مطلب د دوی له کارونو څخه رضایت، یا په حرکاتو او خبرو کې له دوی سره مشابهت دی. نو د دیموکراسۍ منل په حقیقت کې د دوی پیروي ده، د سیکولاریزم منل او نشرول د دوی پیروي ده.

اهل سنت د ایمان تعریف کې وایي چې ایمان قول او عمل دی، د زړه او ژبې خبره او د زړه، خولې او نورو غړو عمل ته ایمان ویل کیږي، نو د کفارو د ملت پیروي کېدای شي چې یوازې په خوله وشي یا یوازې په زړه یا یوازې په عمل سره وشي، دا درې واړه سره تړل شوي نه دي، یوازې بدعتي ډلې کفر ته هم قول او اعتقاد شرط ایږدي. که چېرې دغه تعریف ته وکتل شي معلومیږي چې نن ورځ څومره ډېرو مسلمانانو ماته خوړلې ده. (نن اکثره خلک وایي چې د اوس وخت یهود د پخوا وخت په څېر ندي او مسلمان ته څه نه وایي؛دا خلک ریښتیا وایي

يهود او نور كفار به په غرب كې مېشتو هغه مسلمانانو ته څه ووايي كومو چې د دوی اساسي قانون منلی او د دوی ټولو اوامرو ته يې غاړه ايښې وي!)[٧]

راځئ د پورته آيت لږ توضيح وكړو، لكه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: (وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم) دلته د أهواءهم معنا را اخلو، چې څه معنا؟

**أهواءهم:** هغه څه چې دوی يې خوښوي، چې عبارت دي د كفارو غوښتنې، كارونه او حتی ظاهري شيانو څخه، نو د مسلمانانو موافقه له دوی سره، د دوی د خواهشاتو پيروي بلل كيږي؛ ابن تيميه رحمه الله فرمايي: كفار پدې ډېر خوښيږي چې مسلمانان په يو څه كې د دوی پيروي وكړي، اګر كه دا پيروي په ظاهري بڼه كې وي. او د همدې كار لپاره كه څېړې لازمه شي نو لوی لوی مصارف هم په غاړه اخلي. او يقيناً چې دا حالت مونږ وينو، نن كه له مؤمنانو څخه كومه ښځه په خپل حجاب كې لږ سستي وكړي، كفار ډېر زيات ورته خوشحاله كيږي. د حجاب په هكله د ښځو چارو او د فمينېزم سازمانونه خبرې كوي او دا يو ظلم ګڼي. مونږ خبريږو او ورو چې په اورپا كې هر څوک د هرې جامې اغوستلو آزادي لري، خو يوازې مسلمانو ښځو ته اجازه نشته چې اسلامي لباس واغوندي، دا د څه لپاره؟ دوی ولې د عيسوي نانځكو پر وړاندې بې تفاوته دي، دا ټول د دې لپاره چې كفار غواړي څو مسلمانان په جامه اغوستلو كې د دوی متابعت او پيروي وكړي، اګر چې په لباس اغوستلو د چا كور نه ورانيږي او نه د جامو په ويستلو د چا كور ودانيږي. مګر همدا كم كم شيان وروسته نورو نافرمانيو ته لاره هواروي، ځكه څوک چې د ګناه په شا او خوا څرخي نو وېره ده چې خپله به هم په هغه ګناه كې واقع كيږي. او څوک چې په هيلو او امېدونو يا په جامه او ظاهري شكل كې د كفارو متابعت كوي نو يوه ورځ په نورو لويو څيزونو كې هم د كفارو متابعت او تعقيبولو ته حاضريږي.

---

[٧] ژباړن

## ۲- له کفارو سره نرمي:

له کفارو سره نرمي کول او یا د هغوی د خوښې لپاره کار کول د مسلمان لپاره ماته بلل کیږي، الله تعالی فرمايي:

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ○وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ○

(سورة القلم: ۸-۹)

[ای پیغمبره ﷺ] د درواغجنو خلکو پیروي مکړه، دوی هیله لري چې ته لږ نرمي ورسره وکړې نو دوی به هم نرم شي.

اسلام له نورو دینونو څخه یو خاص او بې مثاله دین دی، د خاص والي یو دلیل یې دا هم دی، چې په نورو ادیانو کې د هغوی مشران له خپل دین سره لوبې کوي، ځینې وخت د خلکو لپاره په خپلو دینونو کې تغیرات او تبدیلات راولي، خو په اسلام کې داسې نده، په اسلام کې خلک باید چې د اسلام د دین پیروي وکړي، دا دین د الله ﷻ دی او مونږ پکې د څه تغیراتو د راوړلو حق نلرو، خو کفار په هره ممکنه طریقه سره غواړي څو مؤمنان په دغه دین کې لږ نرمي وکړي او یا د دوی لپاره لږ ښه شي، د دوی د غوښتنو یو ښه مثال دا راوړلای شو چې د رسول الله ﷺ په وخت کې د کفارو ځینې مشران رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته یې وویل چې موږ یوه ورځ ستا د رب عبادت کوو او یوه ورځ ته زموږ د بتانو عبادت کوه، خو رسول الله ﷺ د دوی دا خبره رد کړه، نو یې وویل څه خیر؛ مونږ به یوه اونۍ د الله ﷻ عبادت کوو، ته یوه ورځ زمونږ د بتانو عبادت کوه، رسول الله ﷺ بیا ورسره ونه منله، نو بیا یې ورته وویل څه خیر، مونږ به یوه میاشت د الله ﷻ عبادت کوو، ته یوه ورځ زمونږ د بتانو عبادت کوه، یعني په دې ډول یې له خپل دین سره لوبې کولې، خو رسول الله ﷺ هر ځل د دوی وړاندیزونه ردول، او ځان ته یې د کوم انتخاب واک نه ورکولو، ځکه دا دین د الله ﷻ دی او نبي کریم ﷺ د دغه دین د ښوونې لپاره رالیږل شوی، د تغیرولو لپاره نه!

متأسفانه چې نن یو شمیر خلکو ځانته د دې حق ورکړی دی چې د الله ﷻ په دین کې له خلکو سره مراعات وکړي او یقیناً چې همدې خلکو بایللې ده، (لکه نن چې په غرب کې مېشت

مسلمانان د ديموکراسۍ له دين او سيکولريزم له مذهب سره اسلام ګډوي او پدې ډول په ځينو ځايونو کې د اسلام قوانين تر پښو لاندې کوي او ځينې ځنډوي. د مثال په ډول بايد چې د غله لاس قطع شي او يا د ناحق قتل په بدل کې، قاتل هم قصاص شي، البته قصاص هغه وخت کيږي چې د مقتول کورنۍ يې نه وبښي او نه ترې ديت قبلوي؛ خو نن ورځ خلک او ديموکراسۍ والا حکومتونه د قاتل د قصاص او د غله د لاس غوڅولو پر ځای دوی ته د زندان سزا ورکوي. نو دا چې ځينې خلک د الله ﷻ امر يوې خواته کوي او پر ځای يې د ديموکراسۍ دين ته رجوع کوي، تر دې لويه ماته چېرته ده؟! نن ورځ غربي حکومتونه دوه ډوله مسلمانان پېژني، يو سخت دريځي او بل معتدل او منځلاري مسلمانان؛ منځلاري هغو مسلمانانو ته ويل کيږي چې د دوی ديموکراسي ورسره ومني او که چېرې مسلمانان يوازې د دوی ديموکراسي ومني نو کفار له دوی سره هېڅ دښمني نه کوي، مرستې ورسره کوي او په هر ميدان کې يې ملاتړي پاتې کيږي او که چا ديموکراسي ونه منله او د الله ﷻ د حدودو نافذول يې غوښتل هغوی د سخت دريځو مسلمانانو په نوم يادېږي او د نړۍ په هر ځای کې چې وي له تروريزم سره د مبارزې تر نامه لاندې په صليبي جګړه کې له منځه وړل کيږي. [٨])

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کې ليکي: (کفار رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته يې وويل چې موږ يوازې پرېږده موږ تا آزاد پرېږدو). دا هغه ډول پيشنهاد دی لکه نن چې کفار مسلمانانو ته وايي چې تاسې يوازې ديموکراسي ومنئ، مونږ به ستاسې هر اړخيز ملاتړ وکړو. نو له رسول الله ﷺ څخه دې غوښتنې ته په غبرګون کې الله ﷻ د دوی مکر روښانه کړ او دا آيت يې نازل کړ:

---

[٨] ژباړن

وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا

(سورة بنی اسرآئیل: ۷۴)

او که موږ ته ټينګ کړی نه وای، نو ته به د هغو لوري ته څه ناڅه ور مات شوی وای.

له دې څخه معلومیږي چې د الله رب العزت لپاره دغه لږ نرمي هم د قبول وړ نه وه.

دلته باید دغه دوه اصطلاحات وپیژنو او په فرق یې وپوهیږو، دا دغه دوه اصطلاحات عبارت دي له مداهنت او مدارات څخه:

**مداهنت:** دا چاپلوسي او په دروغو سره د نورو خلکو راضي کولو ته ویل کیږي، یا که چېرې یو څوک د خپل ځان د ګټې لپاره د بل چا عمل یا نظر قبول کړي، حتی که هغه عمل یا نظر غلط هم وي. یا په بله اصطلاح دې ته ویل کیږي چې یو شخص د خپلو ګټو لپاره د اصولو او حقیقت څخه انحراف وکړي. الله ﷻ له کفارو سره د مداهنت منعه کړې ده، ځکه مداهنت دا معنا لري چې کفارو ته دین ورکړې او بدل کې ترې دنیا غواړې.

**مدارات:** نرمښت او له خلکو سره له زغم او صبر څخه استفادې ته ویل کیږي، په دې طریقه کې شخص کوشش کوي چې له خلکو سره په خبرو کې صبر او نزاکت مراعات کړي، پرته له دې چې خپل ارزښتونه تر پښو لاندې کړي. مدارات په اسلام کې مباح او په ځینو ځایونو کې مستحب ده، هغه داسې ده چې کفارو ته څه دنیوي څیزونه ورکړې څو نوره دنیا یا دین ورباندې وژغورې.

د دغه دوو اصطلاحاتو د ښه وضاحت لپاره راځئ یو مثال وړاندې کړو، د مدارات مثال داسې دی لکه یو څوک چې یو کافر یو ځای ته دعوت کړي او ورته مصارف وکړي څو د دین ګټې پرې خوندي کړي، یعني خپله دنیا د دین د ساتلو لپاره ځار کړي او د مداهنې مثال داسې دی لکه یو شخص چې د یو کافر په شرکت کې کارمند وي، مطلب د ورځنیو چارو د خرڅ او خوراک د مصارفو لپاره کار کوي او همدې کار ته محتاج وي، خو یوه ورځ ورنه خپل کافر مشر د جهاد په اړه پوښتنه کوي او نوموړی مسلمان کارمند د دې له خاطره چې خپل

کار د لاسه ورنکړي ورته ووايي: جهاد له نفس سره جهاد ته ويل کيږي او په اسلام کې له کفارو سره وسلواله مبارزه ځای نلري، يعني نوموړي د خپل کار او ګټې په خاطر د الله ﷻ يو امر تحريف کړ؛ او غواړي په دغه ډول دنيا لاسته راوړي، دا کار ناروا دی او د دې برعکس مدارات بيا جايزه ده.

د مدارات د جايز والي دليل دا دی چې د خندق په غزا کې رسول الله ﷺ غوښتل څو د مدينې د خرما دريمه برخه د بني قريظه يهودانو ته ورکړي او په بدل کې له دوی وغواړي چې د قريشو سره ملګرتيا ونکړي، خو وروسته له مشورې څخه صحابه کرامو ورته وويل چې مونږ په جاهليت کې يهودانو ته يوازې هغه وخت خرما ورکړې دي چې يا به دوی مېلمانه شول او يا به يې واخيسته اوس خو په اسلام کې دوی ته هېڅ نه ورکوو او له دوی سره جنګېږو، نو هماغه وو چې بيا رسول الله ﷺ دغه کار ونکړ.

### ۳- د کفارو يا د باطل دين د خاوندانو په لوري تمايل:

د کفارو يا د باطل دين د خاوندانو پر لوري د زړه کږېدل او د هغوی ځينې کارونو ته زړه نا زړه کېدل د مؤمن لپاره د ماتې په معنا دی، د دوی په لوري د تمايل په اړه الله تعالی فرمايي:

وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ○(سورة اسراء: ۷۳)

اې محمد ﷺ! دوی ستا په فتنه غورځولو کې هېڅ سستي ونکړه، له هغې وحيې څخه دې را واړوي، چې موږ درلېږلې ده، ترڅو چې ته زموږ پر نوم له خپله ځانه کومه خبره جوړه کړې، که تا داسې کړي وای، نو هغو هرو مرو ته په دوستی نيولې.

دلته ښکارېږي چې د دوی په لوري هوا کول او تمايل د مؤمنانو لپاره ماته او د ناکامی معنا لري. په بل ځای کې الله تعالی فرمايي:

وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ○(سورة هود: ۱۱۳)

د دغو ظالمانو لوري ته يو بخرى مه كږيږئ، كنه نو دوزخ به مو ونغاړي، او تاسې به كوم داسې دوست او سرپرست ونه مومئ، چې له خداى څخه مو وژغورلاى شي او له هېڅ يوځاى څخه به تاسې ته مرسته ونه رسېږي.

دلته الله ﷻ مونږ ته دا اخطار راكوي چې كه تاسې د هغه چا پيروي وكړه كوم چې كفار دي نو تاسې به اور ته داخل شئ. په يو بل آيت كې الله تعالى فرمايي:

وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا○(سورة الكهف: ۲۸)

د يو داسې چا اطاعت مكوه چې د هغه زړه موږ له خپل ياد څخه غافل كړى دى او د خپل نفس پيروي يې غوره كړې ده او كړنلاره يې په افراط او تفريط باندې ولاړه ده.

## ۴- د الله ﷻ له نصر او مرستې څخه مايوسه كېدل:

دا د ماتې اصلي او تر ټول لوى شكل دى، دا د مغز يو حالت او لويه ګناه ده، ولې بايد يو مؤمن د الله تعالى له مرستې مايوسه شي په داسې حال كې چې الله قوي او عزيز(برلاسى) دى، پس يو مؤمن نه مايوسه كيږي ځكه د الله ﷻ په هر فيصله ايمان لري، بلكې د الله ﷻ له مرستې څخه مايوسي د كفارو او د ګمراه خلكو صفت دى، په رواني لحاظ هم داسې دي چې كه چيرې يو څوك مايوس نشي هغه كه هر څومره په ضعيفه حالت كې وي بيا هم كاميابيږي. د خلكو مايوس او نا امېده كول د كفارو د رواني جنګ يو مهم هدف دى، چې تر ډېره مؤثر هم واقع شوى دى ځكه مونږ وينو هغوى چې د دغه جګړې ښكار شوي او مايوس دي، د جهاد مرسته يې پرېښې ده او ځانته مختلفې بانې او عذرونه جوړوي.

ځيني له دوی څخه په دې خاطر چې مايوس دي، له مجاهدينو سره مرسته نکوي او وايي زه ولې خپلې پيسې يا امکانات په داسې ځای کې مصرف کړم چې ګټه نلري، ځيني نور چې له بري څخه يې يوازې د جنګ برى مراد وي، نو د دغه بري د نشتون له وجې مايوس وي، ځينې نور بيا د مجاهدينو بې وسي او د امکاناتو نشتون مايوسه کړي دي او وايي چې مونږ به څنګه بريمن شو په داسې حال کې چې کفار الوتکې، اټومي بمونه، ميزايل او قوي ميډيا لري خو مونږ (مجاهدين) يو شخصي ټوپک نلرو. دا ټول له تبليغاتي جګړې څخه شيندل شوي زهر دي، د مسلمانانو ذهنونه يې دومره ځپلي دي چې مخکې له جګړې څخه يې ماتې ته مجبور کړي دي. پس مهمه نده چې زمونږ دښمن څومره قوي دی، مهمه دا ده چې يو مسلمان بايد خپل حواس ونه بايلي، الله تعالی د احد په غزا کې مسلمانانو ته وفرمايل:

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ○(سورة آل عمران: ١٣٩)

بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه، همدا تاسې بريمن ياست، که تاسې ريښتيني مؤمنان واوسئ.

برى او ماتې د الله ﷻ له طرف څخه دي. که مونږ ريښتيا د مسلمانۍ دعوه کوو نو مونږ ته روا نده چې د بريا هيله له لاسه ورکړو.

### ۵- د جهاد د بيرغ ټيټول:

د مؤمن لپاره د ماتې بل شکل دی، نن ورځ دښمن يوازې يو شی غواړي او هغه دا چې مسلمانان جهاد پرېږدي او د جهاد جنډه ټيټه کړي، دوی شوق نلري چې مسلمانان لمونځ يا نور عبادات پرېږدي، دوی هېڅ وخت مسلمان ته نه وايي چې قرآن مه لوله، بلکې په دغه برخه کې لا آسانی راولي، کفار هېڅ وخت له مسلمانانو څخه نه غواړي چې دوی دې روژه پرېږدي.

مګر دوی چې څه غواړي هغه دا دي چې مؤمنان جهاد ترک کړي، نو هر څوک چې جهاد نکوي او یا د جهاد میدان پرېږدي، هغه په حقیقت کې له دښمن سره مرسته کوي، پس څوک چې د جهاد له میدان څخه شاته کیږي، هغه که د عقیدې، نظریې او یا د عمل په میدان کې وي، دا ورته یو لوی شکست دی. او په دې برخه کې هېڅ عذر د منلو وړ ندی!

## ۶- د لښکرو له ماتې څخه مایوسي د ماتې بله معنا او شکل دی.

## ۷- له دښمن څخه وېره:

د ماتې بل ډول دی: الله تعالی په دغه هکله فرمايي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ○(سورة آل عمران:۱۷۵)

تاسې له کافرانو څخه مه ویرېږئ، له ما څخه وویرېږئ، که تاسې په رېښتیني توګه د ایمان خاوندان یاست.

همدارنګه الله تعالی د منصورې طائفې په هکله فرمايي: (وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ) ژباړه:او د هیڅ ملامتونکي له پېغور اچولو څخه نه ویرېږي. یا داسې نور آیتونه شته.

نو که مجاهدین د خپل وس مطابق تیاري وکړي او بیا وروسته ماته وخوري، دوی ته نه ښایي چې مایوسه شي او خپل ځانونه په دې ملامت کړي چې ګواکې مونږ د کفارو په اندازه تیاری نه وو نیولی، ځکه شمېر او تیاری د فتحې سبب نشي جوړېدلای، الله تعالی فرمايي:

وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ○(سورة التوبة:۲۵)

او د حنین د غزا په ورځ؛ په دې ورځ تاسې د خپل شمېر په زیاتوالي مغرور واست، خو هغه ستاسې هېڅ په کار رانغی او ځمکه له خپل پراخوالي سره سره پر تاسې تنګه شوه او تاسې شا واړوله وتښتېدئ!

د جګړې په میدان کې د ماتې لاملونه زیات دي، ځینې وخت د نظامي ماتې عوامل ګناه، اطاعت نکول یا نور شیان وي. یوه عجیبه خبره دا ده چې کله هم د مسلمانانو شمېر زیات وي نو ماتې خوري او کله یې چې شمېر کم وي نو بریا مومي، نو ځکه باید چې شمېر په بریا پورې ونه تړل شي. الله تعالی فرمايي:

أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٌ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَاۖ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ○(سورة آل عمران: ۱۶۵)

او دا تاسې څه کوئ، چې کله په کوم کړاؤ اخته شئ؛ نو په دې خبرو خوله پرانیزئ چې دا مصیبت (په اُحد کې) له کوم لوري راغی؟ په داسې حال کې چې (د بدر په جګړه کې) ستاسې لاسونو د دې دوه برابره مصیبت (د دښمن ډلې ته) رسولی دی. [اې پیغمبره ﷺ!] دوی ته ووایه: "دا مصیبت په خپله ستاسې له خوا منځ ته راوړل شوی دی. الله پر هر څه برلاسی دی".

په جګړه کې ماتې کېدای شي څو سببونه ولري:

- ځینې وخت الله تعالی غواړي تاسو وآزمويي.
- ځینې وخت الله تعالی غواړي تاسو پاک کړي.
- ځینې وخت د ګناهونو له وجې تاسو ته ماتې درکوي.

مونږ د الله ﷻ په وړاندې د خپل وس په اندازه مقصر یو او هېڅ وخت مو جهاد له دښمن سره تر مساوات پورې ندی ځنډولی. مطلب هېڅ وخت مو ندي ویلي چې مونږ باید له دښمن سره یو شان وسایل ولرو او تیاری مو هم د هغوی په رقم وي او که چېرې دا ډول نه وي نو مونږ به جهاد نه کوو، ځکه الله ﷻ مونږ ته نه دي ویلي چې دومره اعداد وکړئ او دومره

لښکر مجهز کړئ لکه څومره چې کفار کوي؛ بلکې مونږ ته يې فرمايلي چې خپل وس وکړئ! نو که زمونږ د خپل وس تياری د کفارو په پرتله څو چنده کم هم وي مونږ به جهاد کوو او که زيات وي هم. خو دا يادونه بايد وکړو چې که زمونږ تياري د کفارو په پرتله کم هم وي مشکل نشته خو مونږ بايد خپله ټوله هڅه کړې وي.

په آخر کې؛ دا او پخوا تېر شوي ثوابت هغه څه دي چې امت بايد پرې وپوهيږي او دا د علماوو او پوهانو مسئوليت دی چې دا مفاهيم او ثوابت عامو او خاصو ته ورسوي او خلک ورباندې وپوهوي، ځکه دا جهاد دی، هغه جهاد چې په واسطه به يې زمونږ امت لکه د تېر په څېر يو ځل بيا د عزت او عزمت دنګو منارونو ته خيژي. (ان شاء الله)

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

العلم للعمل – علم د عمل لپاره وي

"نن ورځ مونږ وینو چې مجاهدین له رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم سره، د اللّه جل جلاله او د امت سره څومره مینه لري، تر دې چې د اسلام د دفاع لپاره مرګ ته تیار دي، بل خوا ځینې نور بیا ګډیږي او سندرې وایي، په آرامو محلونو کې ایرکنډیشن ته ناست وي او د رسول اللّه صلی اللّه علیه و سلم سره د مینې ادعا کوي. نو څنګه به قبوله کړو چې دوی د رسول للّه صلی اللّه علیه و سلم سره مینه لري؟ په داسې حال کې چې دوی په خپلو سترګو ویني چې د رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم سپکاوی کیږي، د اللّه تعالی کتاب ته اور اچول کیږي، او په بیت الخلاء کې غورځول کیږي، مګر دوی بیا هم تیار نه دي چې خپلې اسلحې را واخلي او د اللّه جل جلاله په لاره کې جهاد ته راووځي. جهاد دی چې حقیقي ایمان او نفاق سره جلا کوي، مونږ وینو چې په مکه کې نفاق نه و، خو په مدینه کې پیدا شو ځکه چې په مدینه کې جهاد شروع شو."

شهید شیخ انور العولقي رحمه اللّه